فقط توسعه زراعت
د کرنیزې پرمختیا صندوق
Agricultural Development Fund ADF

# پرمختګ

کرنیزه، علمي، ټولنیزه او ادبي مهالنۍ خپرونه
لومړی کال، لومړۍ ګڼه، لیندۍ، ۱۳۹۸ ل



Ketabton.com

- د پرمختګ خپرونې چاپ له امله د کرنیزې پرمختیا صندوق د مشرتابه پیغام
- معرفی و تاریخچه صندوق انکشاف زراعتی
- د افغانستان د بانکونو ټولنه
- اسلامي بانکولي
- کب پالنه او دې ته ورته نور په زړه پوري مطالب ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقط توسعه زراعت
د کرنیزي پرمختیا صندوق
Agricultural Development Fund ADF

# پرمختګ:


| | |
|---|---|
| د امتیاز څښتن : | دکرنیزي پرمختیا صندوق |
| د کتونکي ډلې مشر : | ډاکټر ایمل ارمان |
| تخنیکي ډله : | سید فریدون میاخېل او محمد جعفري |
| د تصحیح چارې : | عطاء الله مهمند، اشرف عبدالله او پروفیسور محمد نعیم عظیمي |
| کتنپلاوی : | نجیب الله ناصري، زحل سادات، حنا ولي او بسمینه سعید |
| چاپ شمېر : | ۳۰۰۰ توکه |
| دلاسته راوړلو ځایونه : | د کرنیزي پرمختیا صندوق سیمه ایز دفترونه |
| ګرځنده شمېرې : | ۰۷۹۱۶۶۶۸۸۵ / ۰۲۰۲۵۰۴۸۳۵ |
| بر یښنالیک: | Info@adf-af.org |
| ویب پانه: | www.adf-af.org |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

## دې ګڼه کې ...


۱. سرلیکنه ..... ۱

۲. د مبارکۍ پیغام..... ۲

۳. معرفی و تاریخچه صندوق انکشاف زراعتی..... ۳

۴. افغانستان کې د کرنیزو مالي چوپړتیاو د وړ... / د ملي سروې لنډیز..... ۴

۵. د افغانستان سوداګرۍ او خوراکي توکو ارزونه..... ۷

۶. د ژوند چاپېریال..... ۸

۷. اسلامي بانکولي د اسلام راتګ سره رامنځته شوې ده..... ۹

۸. د بازار (مارکېټ) په اړه مالومات..... ۱۲

۹. کب پالنه که د باثباته عاید کاروبار..... ۱۳

۱۰. واکسین او معافیت..... ۱۴

۱۱. آیا پوهېدئ؟..... ۱۵

۱۲. ګلبڼ..... ۱۶

۱۳. د مرچو مربا..... ۱۷

۱۴. الوګانو بزګران څنګه بریا ته ورسول؟..... ۱۸

۱۵. طرزالعمل حصول قرضه های تاخیری..... ۲۰

۱۶. د تخم تصدیق..... ۲۲

۱۷. محصول اسلامی بانو..... ۲۳

۱۸. از چهار حلقه چوری طلاء تا مارکیت جهانی..... ۲۴

۱۹. راه حل های خود کفایی افغانستان در تولید گندم..... ۲۶

۲۰. له خوبه، تر عمله!..... ۲۸

۲۱. شنې خونې..... ۳۰

۲۲. د افغانستان د بانکونو تولنه..... ۳۱

۲۳. گلِ که دارای سه تار است..... ۳۳

۲۴ انجمن اجتماعی حاصل ..... ۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرلیکنه

د ستر رب العزت لوی احسان دی چې وتوانېدو کرنیزه برخه کې د پرمختګ خپرونې لومړۍ ګڼه ستاسې او نورو درنو لوستونکو مخې ته ږدو. کرنه او مالداري د هېواد په اقتصادي پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي او زمونږ د هېواد نږدې ۸۰ سلنه وګړي د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي، دا چې کرنه او مالداري د یو هېواد د اقتصادي پیاوړتیا مهمه سرچینه ده، پکار ده چې پدې برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وشي، دې هېواد کې نږدې له دوه لسیزو راهیسې په یاده برخه کې د پام وړ خدمتونه ترسره شوي دي او لا هم په عملي او علمي ډول واندې کېږي، چې په دې برخه کې ډېری سیمینارونه، لنډ مهاله روزنیز کورسونه، کتابونه او ډول ډول مجلې هېوادوالو ته د چوپړتیا او لا غنې کېدو په موخه وړاندې شوي دي، د پوهانو له لوري دې برخې ته د پام وړ پاملرنه شوې او په علمي برخه کې یې پوره غنې کړې ده، کرنیزه او مالدارۍ برخه په دې ډګر کې لا نورو خدمتونو ته اړتیا لري.

د کرنیزې پرمختیا صندوق چې د کرنې پرمختیا برخه کې په عملي ډول نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي او د ګران هېواد د بزګرانو کرنیزو چارو کې هر اړخیز ملاتړ کوي، دا صندوق بزګرانو او د کرنې برخې کارکوونکو ته د اسلامي مالي نظام له لارې اسلامي پورونه ورکوي، چې د کرنې برخې د پرمختیا او غنې کېدو لپاره د یادونې او ستاینې وړ خدمتونه دي، دا چې کرنه په علمي ډګر کې ډېر خدمت ته اړتیا لري، نو دې صندوق داخل د عملي خدمت ترڅنګ د مالوماتو او علمي ډګر د لاپیاوړتیا په موخه د پرمختګ خپرونه چاپ ته چمتو کړه.پرمختګ د کرنیزې پرمختیا صندوق په مالي لګښت او تخنیکي هڅو د علمي، تولنیزو، ادبي لیکنو او مالوماتو ترڅنګ په ځانګړي ډول په کرنیز ډګر کې د ګران هېواد د بزګرانو او کرنې برخې کارکوونکو په اړه ورځنۍ چارې تاسې ته وړاندې کوي.

دې خپرونه کې که څه هم مو د کرکیلې، بزګرانو او د کرنیزې برخې کارکوونکو هڅې، ستونزې او بریاوې په پوره ډول ونه کړی شول دروړسوو، خو بیا هم هڅه مو کړې چې د بزګرانو او د کرنیزې برخې کارکوونکو په وړاندې د شته ستونزو او اړینو لاسته راوړنو په اړه مو څه نا څه مالومات وړاندې کړل، همدا ډول مو هغه مالومات هم تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړې، چې د بزګرانو او د کرنیزې برخې کارکوونکو سره یې له یوې نه، له یوې لارې خپلې مرستې کړې دي.
دې لپاره که هر هغه خوک غواړي کرنیزې برخې سره مرستې وکړي او یا هم د دې برخې پرمختګ لپاره مرستې ترلاسه کړي، د مرستو د ترسره کېدو او ترلاسه کېدو څرنګوالي په اړه مو ځینې مرکې هم خپرې کړې دي، چې لوستونکي او کرنیزې برخې لېوال کولی شي، ترې په ګټه اخېستنه کرنیزه برخه لا غنې کړي.
دې ګڼه کې د راز راز لیکنو او مرکو ترڅنګ د بزګرانو او د کرنیزې برخې کارکوونکو د بریاوو، هڅو او رازونو په اړه پوښتل شوي او په وضاحت یې په اړه مالومات وړاندې شوي، چې څنګه دوي خپلې چارې په کمو امکاناتو د سترو بریاو پولو ته رسولې دي!

## درنو هېوادوالو!

پرمختګ مهالنۍ خپرونه ده، هڅه کوي چې خپلو ټولو راتلونکو ګڼو کې د کرنې په اړه تاسې ته لاګټور مالومات وړاندې کړي، د دې خپرونې اداره تاسې څخه تمه لري، ترڅو د خپرونې په اړه خپل مثبت وړاندېزونه او نیوکې له موږ سره شریکې کړئ، ترڅو راتلونکو ګڼو کې یې له پامه ونه غورځوي.
همدا راز ټول هغه مالومات چې کرکیله کې ګټور وي، د بزګرانو او کرنې برخې کارکوونکو لپاره د پرمختګ سبب ګرځې، تمه ده له موږ سره به یې شریک کړئ، چې راتلونکو ګڼو کې یې د کرنیز ډګر د لاغنې کېدو په موخه خپاره کړو، ستاسو له مرستو، همکاریو او مثبتو وړاندېزونو له وړاندې مننه‌دوي یو.
پای کې بیا هم ټولو هېوادوالو او په ځانګړي ډول بزګرانو او کرنیزې برخې کارکوونکو ته د د ې خپرونې د لومړي چاپ له امله مبارکي وایو.
د یو سوکاله او زرغون افغانستان په هیله!

پرمختګ اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پرمختک خپرونې چاپ له امله

# د کرنیزې پرمختیا صندوق مشرتابه د مبارکۍ پیغام

خوښ یم داسې حال کې چې د کرنیزې پرمختیا صندوق ادارې د بزګرانو او بزګرۍ برخه کې د پیاوړو خدمتونو د ترسره کولو په موخه د هر اړخیزې خپرونې (پرمختګ) لومړۍ ګڼه د درنو وطنوالو چوپړ ته وړاندې کړه. په حقیقت کې کرنه د هېوادونو د ملا تیر حیثیت لري، څواکمنه کرنه د هېوادونو پرمختګ او سوکالي تضمینوي، کرنې او لاسته راوړنې يې د هېوادونو په صادراتو او وارداتو کې مهم رول لري، چې د اقتصاد له نظره پیاوړي صادرات هیوادونه د سوکالۍ پر لور بیایي او همدارنګه  یواځې دا نه چې د نورو له محتاجۍ او له بې وزلۍ يې خلاصوي، بلکې نور ډېر هېوادونه چې کمزورې کرنه او مالدارې ولري، ورته اړ او محتاج وي.

د کرنیزې پرمختیا صندوق د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت تر چتر لاندې د کرنې محترم وزیر او د دې صندوق د عالي شورا رئیس جلالتمآب انجینر نصیر احمد دراني په مدبرانه رهبرۍ فعالیت کوي. دا اداره د صندوق عالي شورا د غړو، نړیوالو همکارانو، د دې صندوق کارکوونکو او نورو دولتي ادارو په مرستو او همغږۍ د هېواد کرنیز سکتور د بهبود او پیاوړتیا په موخه خدمتونه وړاندې کوي، چې د کلونو راهیسې يې د دوامداره پورونو په وړاندې کولو په کرنیزه برخه کې نه هېرېدونکي خدمتونه وړاندې کړي دي.

ګران افغانستان کې د جنګونو او ورانیو سربېره، په پېچلو حالاتو او سختو شرایطو کې د کرنې او مالدارۍ پرمختیا ته په پوره ډول کار شوی او لا روان دی، بېلا بېلې ادارې د یادې برخې پرمختګ لپاره د یادونې وړ خدمتونه وړاندې کوي، چې له دې ډلې د (کرنیزې پرمختیا صندوق) خدمتونه هم د یادونې او ستاینې وړ دي، چې د هېواد د کرنې پرمختیا لپاره هر اړخیزې مرستې بزګرانو او کرنې برخې کارکوونکو ته وړاندې کوي او د اسلامي مالي نظام د اصولو له مخې يې د ستونزو د حل او چارو د لاپرمختګ په موخه پورونه ورکوي، په رښتیا هم چې د کرنې پرمختیا کې مهم رول لوبوي، زه ترې د دې صندوق د یو مشر په صفت د زړه له تله مننه کوم.

همدارنګه د دې صندوق له لورې د کرنې او مالدارۍ په علمي ډګر کې د ستر خدمت ( پرمختګ ) پنوم خپرونې د چاپ له امله د بزګرانو،  کرنې او مالدارۍ برخې  کارکوونکو او په ځانګړې ډول د دې صندوق فرهنګي او نورو ټولو کارکوونکو ته  د زړه له تله مبارکي وایم او مننه ترې کوم چې دې برخه کې يې نه هېرېدونکي خدمتونه وړاندې کړه. دا چې کرنه د هېواد په اقتصاد کې مهم رول لوبوي او د هېواد ډېری وګړي خپل ورځنۍ ژوند د کرنې او مالدارۍ پر مټ پرمخ بیايي، د کرنې او مالدارۍ برخه کې علمي او مسلکي خپرونې د پام وړ نشته او که شته هم، نو په نشت حساب دي، هیله مند یم چې دا خپرونه به د بزګرانو او د کرنې برخې  کارکوونکو ته ډېره ګټوره تمامه شي او تر ډېره  حده به دا تشه ډکه کړي. له بل پلوه به د دې خپرونې له لارې د ګران هېواد بزګران او د دې برخې مسلکي پوهان له یو بل سره خپلې ترلاسه کړې تجربې هم په ډېرې اسانۍ سره شریکې کړي، چې له برکته به يې کرنیز او مالدارۍ چاپېریال کې  لویې لاسته راوړنې ولرو او د تل لپاره به دا تجربې په لیکلي ډول پاتې شي، وخت په وخت به د بزګرانو او د دې برخې کارکوونکو پوهه کې زیاتوالی راشي او پوهه به يې لا پیاوړې شي.

د ورسپارل شوو دندو او مسؤلیتونو په ریښتونې، منظم او عادلانه ډول سرته رسول د با احساسه او په وطن مینو افغانانو کار دی، دا هم د ریښتیني او پیاوړي خدمت ریښتونې نښه ده، چې یو څوک د خپلو ورسپارل شوو چارو ترسره کولو په اړه مالومات ټول ملت یا هم ټولې نړۍ ته له یوې لارې وړاندې کوي، دا هم د کرنیزې پرمختیا صندوق د رهبرۍ د ستاینې وړ اقدام دی، چې د خپلو لوړ پوړو مسؤلینو سربېره ټولو هېوادوالو او په ځانګړې ډول بزګرانو ته د دې خپرونې له لارې د خدمتونو او خپلو چارو په اړه مالومات وړاندې کوي.

پرمختګ خپرونه نه یواځې کرنیزه خپرونه ده، بلکې د کرنې او مالدارۍ په اړه د مالوماتو سربېره په علمي، ټولنیزو او ادبي برخو کې د مسلکي او پوهنیزو مالوماتو په اړه پوره غني ده، چې د هر مسلک وګړو تنده پرې ماتېږي.

یو ځل بیا د کرنیزې پرمختیا صندوق له ټولو کارکوونکو د زړه له تله مننه کوم، چې دا د ستاینې وړ قدم يې پورته کړی دی، د دوی د لازیاتو مثبتو لاسته راوړنو او کامیابېو په هیله!

درنښت

ډاکټر ایمل ارمان

د کرنیزې پرمختیا صندوق مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معرفی و تاریخچه صندوق انکشاف زراعتی

صندوق انکشاف زراعتی یک نهاد مالی دولتی بوده که برای انکشاف سکتور زراعت فعالیت مینماید. ثبت و راجستر این صندوق بعنوان یک نهاد مالی غیربانکی به اساس فرمان شماره ۶۶۲۰ دولت جمهوری اسلامی افغانستان در سال ۱۳۹۰ ه ش صورت گرفته که اساسنامهٔ آن در ماه قوس سال ۱۳۹۱ ه ش توسط کابینه وزراء مورد تصویب قرار گرفته است. این صندوق توسط شورای عالی که اعضای آن مشمول اراکین عالی رتبه دولت، نمایندگان سکتور خصوصی و تمویل کنندگان میباشند، رهبری میگردد.

صندوق انکشاف زراعتی یک پروژه نیست، بلکه یک نهاد مالی است که در راستای ارایه خدمات قرضه های زراعتی و مشوره های تخنیکی فعالیت مینماید. این صندوق از زمان تأسیس اش در سال ۱۳۸۹ ه ش تاکنون تعداد قابل ملاحظهٔ ای از قرضه های زراعتی را در اختیار زارعین و تاجران زراعتی در نقاط مختلف کشور قرار داده و توانسته است سهم فعالی در رشد زراعت و اقتصاد افغانستان داشته باشد.

این نهاد تنها به قرضه ها اکتفا نکرده است، بلکه به ارائه مشوره های تخنیکی معیاری در مطابقت با نوعیت کار و ضرورت شرکای خویش نیز اقدام نموده است. این صندوق در گذشته ها سهولتهای زیادی را برای زارعین و تاجران زراعتی ایجاد نمود، تا آنان بتوانند در نمایشگاه های زراعتی به سطح ملی و بین المللی اشتراک کرده با زارعین دیگر و تاجران زراعتی آشنایی حاصل نمایند، از تجارب و داشته های آنها در بهتر شدن و معیاری ساختن تولیدات خویش استفاده نموده با استندرد های جهانی عیار و به فروش برسانند. همچنان با خرید مواد خام از دهات دور دست جاییکه فقر و بیکاری حکم فرما است، باعث ایجاد زنجیرهٔ بزرگ داد و ستد زراعتی شده و نقش مهمی را در راستایی ایجاد شغل در کشور ایفاء نماید.

به طور مثال میتوان از شرکت های تولید و پروسس آرد، تولیدکننده گان تجهیزات زراعتی، تولیدکننده گان مواد غذایی، فارم های تولید گوشت مرغ و لبنیات، پروسس کننده گان میوه خشک و صادر کننده گان میوه تازه، مغازه های فروش کود کیمیاوی، پروسس کننده گان کشمیره، سبزخانه ها، باغداران و کوپراتیف های زراعتی در نقاط مختلف کشور نامبرد. این شرکتها نمونه های بارزی از همکاری های دراز مدت این صندوق بوده و همه افرادی هستند که با استفاده از قرضه های زراعتی صندوق انکشاف زراعتی کاروبار شانرا وسعت بخشیده اند.

**مأموریت صندوق انکشاف زراعتی:**

صندوق انکشاف زراعتی با ارایه خدمات مالی به دهاقین و سکتور زراعت که منجر به ازدیاد تولیدات، بهبود کیفیت محصولات و بازاریابی محصولات زراعتی میگردد، راحمایت میکند. این امر کمک میکند تا هدف اساسی وزارت زراعت، مالداری و آبیاری کشور که اعاده اقتصاد مشروع زراعتی و رشد اقتصاد دهات است، برآورده شود.

**اهداف:**

صندوق انکشاف زراعتی به منظور تحقق اهداف ذیل فعالیت می نماید:

۱. عرضهٔ خدمات مالی، کمک های تخنیکی و اعطای قروض طبق احکام قانون به دهاقین و سایر اشخاصی که در بخش تقویه زراعت و ارزش افزائی کمی و کیفی تولیدات و محصولات زراعتی اشتغال دارند و دسترسی به مارکیت های داخلی و خارجی .

۲. دسترسی دهاقین به قرضه های زراعتی، به خصوص دهاقین کوچک که از یک الی سی هکتار زمین در اختیار دارند.

**چالشها، ابتکارات و نتایج:**

چالش ها: رشد سکتور زراعت در افغانستان نسبت به کشور های همسایه سیر بطی را طی نموده است، که علت عمدهٔ آن قرار ذیل میباشد:

الف): عدم اطمینان در مورد تهیه و تدارک مواد خام.

ب): پروسه های غیرمناسب تولیدی.

ج): عدم دسترسی به وجوه مالی.

اما خوشبختانه شرکت های که تاکنون از خدمات قرضه های صندوق انکشاف زراعتی استفاده نموده اند، به شرکت های بزرگ تولیدی مبدل شده اند. قبلاً تعداد زیادی از این شرکت ها یا در حالت رکود قرار داشتند و یا هم با تولیدات ناچیز اکتفا می کردند. نبود امکانات مالی بیشتر برای فراهم آوری مواد خام تولیدی و عدم دسترسی به مشوره های تخنیکی چالش بزرگ دیگری فرا راه تاجران زراعتی در کشور به شمار می رفت.

**ابتکار:**

صندوق انکشاف زراعتی قرضه های متعددی را در اختیار شرکت های زراعتی در نقاط مختلف کشور قرارداده است، تا بتوانند تولیدات خویش را افزایش دهند. همچنان صندوق انکشاف زراعتی با پرداخت وجوه مالی پیشکی برای تهیه کننده گان مواد خام، تا در رشد اقتصاد کشور در سطوح مختلف سهیم گردند.

**نتیجه:**

بعد از اخذ قرضه از صندوق انکشاف زراعتی، شرکت های مذکور توانسته اند در جایگاه بهتری نسبت به گذشته در مارکیت قرار گیرند. چنانکه هر شرکت توانسته است تولیدات اش را افزایش داده، فرآورده های تولیدی خویشرا در بازار های ملی و بین المللی به فروش برسانند.

این یکی از چندین مثال بارز است که نشان می دهد اگر قرضه ها بصورت درست مدیریت شوند، میتوانند در رشد و توسعهٔ سکتور زراعت و در زندگی زارعین مؤثر واقع شود.

**دستآورد های صندوق:**

صندوق انکشاف زراعتی از آغاز سال روان میلادی تا کنون دستآورد های قابل ملاحظه داشته است، که از آن جمله میتوان به موارد آتی اشاره کرد:

- توزیع مبلغ مجموعی بیشتر از۹۰۰ میلیون افغانی به کوپراتیف ها و کاروبار های زراعتی، فابریکه های تولید مواد غذایی، صادر کنندگان میوه تازه و خشک و نیز میانجی های مالی که با استفاده از وجوه صندوق به دهاقین جهت رشد امور زراعتی و مالداری قرضه های کوچک را فراهم میسازند.
- عرضه خدمات تخنیکی به متشبثین زراعتی در عرصه های مختلف منجمله ارائه سفارشات لازمه جهت اصلاح مشکلات و خلا های موجود، زمینه سازی برای اشتراک آنها در نمایشگاه های زراعتی، توسعه و انکشاف بازار، معیاری سازی محصولات زراعتی، مطابقت به محیط زیست و سایر موارد.
- اخذ منظوری مبلغ مجموعی ۱،۳ میلیارد افغانی از نزد کمیته های منظوری قرضه به رهبری وزارت محترم زراعت.
- جمع آوری مبلغ ۳۶ میلیون افغانی قرضه های صعب الحصول از طریق محاکم و ارگان های حقوقی.
- تحت پوشش قرار دادن ۳،۲۸۹ تن دهقان که از قرضه های صندوق بطور مستقیم مستفید گردیده اند.
- ایجاد زمینه کار برای بیشتر از ۱۰۰ تن از طریق اعطاء قرضه به سکتور زراعتی در ولایات مختلف کشور.
- طی مراحل درخواست های قرضه ۳۱ شرکت دیگر که مجموع قرضه آنها بالغ به ۱،۳میلیارد افغانی میباشد.
- بلند بردن سطح عواید صندوق به بیشتر از ۱۰۸ میلیون افغانی تاکنون.
- اشتراک در تمام نمایشگاه های زراعتی، جلسات سکتوری، ورکشاپ ها جهت ارائه معلومات در مورد محصولات و خدمات به دست اندرکاران سکتور زراعت.
- صندوق از بدو تاسیس تاکنون توانسته تا مبلغ مجموعی بیشتر از ۱۰،۴ میلیارد افغانی را از طریق کمیته های قرضه منظور و از آن جمله مبلغ مجموعی بیشتر از ۷،۸ میلیارد افغانی قرضه را توزیع نماید. از زمان تاسیس تاکنون به تعداد ۴۵،۳۲۹ تن دهقان به صورت مستقیم از این قرضه ها مستفید گردیده اند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## افغانستان کې د کرنیزو مالي چوپړتیاو وړاندې کولو او غوښتنو (عرضې او تقاضا) په اړه

# د ملي سروې لنډیز

### د سروې په اړه:

دا ملي سروې په ۲۰۱۷م کال کې د کرنیز اعتبار پیاوړتیا دوهم پروګرام (ACE–II)، د کرنیزې پرمختیا صندوق، رحمن صافي نړیوال مشورتي شرکت (RSI Consulting) او السیس (Alcis) په مرسته د کرنیزو مالي خدمتونو عرضې او تقاضا مالوملو په موخه ترسره شوه، ترڅو د افغانستان کرنیزه برخه کې د شته مالي خدمتونو په اړه مالومات ترلاسه شي. دې سروې د پراخوالي پر اساس د هېواد ۱۶ ولایتونو کې بزګران او کرنیز شرکتونه تر پوښښ لاندې راوستل.

السیس (Alcis) چې د ځمکنې مالوماتو برخه کې یو تخصصي شرکت دی، د دې سروې ترسره کولو په موخه یې کرنیزې سیمې مشخصې کړې او همدارنګه رحمن صافي نړیوال مشورتي شرکت (RSI Consulting) د دې سروې ساحوي کارونه سرته ورسول.

د السیس په وسیله د سروې لپاره د ټاکل شوو سیمو ځانګړتیا دا وه، چې د سروې کارکوونکو وکولی شول، ۲۵۰ متره مربع سیمه کې د سروې سیمه یا ساحه د جي پي ایس له لارې مالومه او بزګرانو سره مرکې ترسره کړي.

کرنیزو مالي خدمتونو د عرضې او تقاضا په اړه د ملي سروې هدف دا وو، ترڅو د کرنیزو محصولاتو تولید کوونکي، تولنې او هغه پالیسي جوړونکي چې د دوی څخه ملاتړ کوي، د هغه مالوماتو د برابرولو له لارې چې دوی کرنیز اعتبار او مالي خدمتونو ملاتړ ته اړتیا لري، پیاوړي کړي، په ځانګړې توګه کلیوال او هغه وګړي چې بزګري کوي. د پرمختګ خېړونې لازمه وګڼله، ترڅو د دې سروې پایلې د لاندې راپور په بڼه ګرانو لوستونکو سره شریکې کړي.

د دې سروې بشپړ راپور د کرنیزې پرمختیا صندوق اداري څخه ترلاسه کولی شئ.

### د راپور محتویات:

سره له دې چې دا راپور مهمه موضوع څېړي، باید ووېل شي: د کرنیزو پورونو او نورو مالي چوپړتیاوو وړاندې کولو او غوښتنو برخه کې ډېر لږ مالومات موجود دي. دې سروې کې هڅه شوې چې د پوره جزیاتو په وړاندې کولو دا تشه ډکه شي، ترڅو له دې لارې کرنیز سکتور کې بهترو مالي اقداماتو ته لار پرانېستل شي.

دې سروې کې چې د هېواد په ۱۶ ولایتونو (مرکزي، ختیځو، شمالي، سویلي او لویدیځو سیمو) کې ترسره شوې، ۲،۷۳۶ بزګرانو او ۵۴۱ کرنیزو شرکتونو سره مرکې شوې.

### کرنیزو پورونو وړاندې کولو ته کتنه:

د رسمي کرنیزو پورونو وړاندې کوونکې د مالي موسسو بېلابېلو ډولونو څخه جوړ شوي، چې پکې سوداګریز بانکونه او غېربانکي مالي موسسې شاملې دي، غېربانکي مالي موسسې هغه اداري دي چې غېر تنظیم شوي پورونه ورکوي لکه د اسلامي بانکونې او مالي خدمتونو د ملي اتحادیې کوپراتیف، د وړو پورونو موسسې، افغان کلیوالي مالي شرکت، د سیمې په کچه د سپما د ترویج موسسې او د کرنیزې پرمختیا صندوق.

### کرنې لپاره د پور ورکړه:

ملي سروې ویېیلې چې یواځې ۵ سلنه بزګران رسمي پورونو ته لېوالتیا لري، که دغه شمېره د ټولو بزګرانو تخمیني شمېرې سره پرتله کړو، نو مالومولی شو افغانستان کې د بزګرانو اړتیا رسمي پورونو ته ۳۲۲ میلیونه ډالر ده.

د ملي سروې راپور په اساس افغانستان کې د بزګرانو تقاضا کرنیز رسمي او غېر رسمي پورونو ته ۱،۹ میلیارده ډالر وه.

۲۰۱۷م کال کې د ټولو رسمي پورونو اندازه (چې بانکونو، د کوچني پورونو موسسو او د کرنیزې پرمختیا صندوق لخوا ورکول کېدل) ۷۸۴ میلیونه ډالر وه، چې ۱۱،۳ سلنه ( ۶،۱۸ میلیارده افغانۍ) یې کرنیز پورونه وو.

کرنې لپاره د پور ورکړه د ۲۰۱۵م څخه تر ۲۰۱۷م کال پورې ۲۷،۵ سلنه زیاته شوې وه.

هغه مهال د ټول رسمي کرنیز پورونو ( ۶،۱۸ میلیارده افغانۍ) ۱۱،۲ سلنه یې بنځینه کاروبارونو ته ورکول شوي وو.

ستر او واړه پور اخېستونکي د کرنیزو پورونو تر ټولو لویه برخه جوړوي، چې ټول ارزښت یې ۴۴،۷ سلنه او ۴۱،۷ سلنه دی. واړه او منځني پور اخېستونکي د کرنیزو شرکتونو د پور یوه نامتناسبه برخه جوړوي، یانې یواځې ۱۰،۶ سلنه، دا شمېره پخیله پورونو ته د وړو او منځنیو شرکتونو ستونزې په ګوته کوي.

### د پور ورکوونکو او پور اخېستونکو ویشنه:

۱. ستر: (۲۵۰،۰۰۰ډالر یا زیات): بانکونه، د کرنیزې پرمختیا صندوق.

۲. منځنی: (۲۵،۰۰۰ - ۲۵۰،۰۰۰ ډالر) د کرنیزې پرمختیا صندوق، افغان کلیوالي مالي شرکت او د وړو پورونو لومړی بانک.

۳. واړه: (۲۵،۰۰۰ډالرو پورې) د وړو پورونو موسسې او د محلي سطحې سپما د ترویج موسسې.

د وړو پورونو سکتور د ۹۰ سلنه څخه ډېرو هغو پور اخېستونکو ته پور ورکوي چې د کرنیزو پورونو د راکړې ورکړې تجربه ولري. د دغو پور اخېستونکو یواځې ۵،۲۰۹ تنه ښځینه دي. کرنیزو پورونو ته د ښځو د محدود لاسرسي د لا څرګندوالي لپاره باید ووېل شي، چې دوی د وړو پورونو موسسو د ټولو پور اخېستونکو ۳۹ سلنه جوړوي، د همدې موسسو د کرنیزو پورونو ترلاسه کوونکي یواځې ۱۱،۲ سلنه یې ښځینه دي.

### کرنیزو پورونو غوښتنې ته کتنه:

د وړو پورونو موسسې اوسمهال یواځې ۳۵،۴ میلیونه ډالر بزګرانو ته د پور په بڼه وړاندې کوي، چې دا د تقاضا یواځې ۱۰ سلنه جوړوي.

په دې اړه محدودیتونه عبارت دي له: تضمین، د پوهې کموالی، کلتوري او ټولنیزې ستونزې، د ځانګو څخه لېرې والی او اسلامي پور ته ترجیح ورکول.

د غېر رسمي پورونو او رسمي موسسو څخه د ټولو بزګرانو د کرنیز پور تقاضا ۱،۹ میلیارده ډالر ده.

افغانستان کې د ټولو سوداګریزو پورونو کچه (کوم چې د بانکونو، د وړو پورونو موسسو او کرنیزې پرمختیا صندوق له لورې وړاندې کېږي) ۷۸۴ میلیونه ډالر ده، چې له دې ډلې یواځې ۱۱،۳ سلنه کرنیز سکتور ته ورکول کېده.

اوسمهال د کرنیز پور لپاره غوښتنه د ټولو سکتورونو د شته سوداګریزو پورونو په وړاندې دوه برابره ده.

د ټولو سرچینو څخه د پور د تقاضا پرتله کول د وړاندې کولو او غوښتلو ترمنځ د یو ستر واټن شتون څرګندوي.

یادونه: د غوښتنې په اړه دا مالومات یواځې د بزګرانو په اړه دي، د کرنیزو شرکتونو غوښتنه شامله نه ده.

### د پور کارونه:

ترلاسه شوی پور د بزګرانو له لورې د فصلونو زیاتولو او یا هم د کرکیلې د ځمکې د پراخولو لپاره کارول کېږي. لنډمهاله پور څخه کورني مصرفونه، تخمونه، کیمیاوي سرې، د اوبه خور لپاره تېل او داسې نورو کارونو لپاره ترې ګټه اخېستل کېږي. منځمهاله او اوږد مهاله پورونه د څارویو لپاره کټارو جوړولو، ودانیو، د ځارویو رانیولو، ماشینونو او په ځانګړې ډول د اوبو لګولو زېربناوو لپاره کارول کېږي. اوږد مهاله پور بیا د ودانیو او داسې نورو کارونو په موخه کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رسمي پور لاسته راوړنې سره تړلې ننګونې:

که د رسمي مالي خدمتونو په اړه مالومات او ګټه اخېستنه کمه ده، خو د مالوماتو کموالی د پور د لاسته راوړلو په لار کې اساسي خنډ نه دی. اساسي ستونزه کرنیزو برخو کې د پانګونې څخه لاسته راتلونکې ګټه ده، چې بزګران نه هڅوي د زیات وخت، رسمي مغلقو پړاوونو، لوړ فیس او سود له امله پور واخلي.

په تولیزه توګه یواځې ۸ سلنه بزګران وایي: چې د بانک څخه یې پور اخېستی، ۵ سلنه یې د وړو پورونو موسسو او ۱سلنه د کوپراتیفونو څخه پور ترلاسه کړی دی. د هغو کسانو له ډلې څخه چې پور ته لاسرسي لپاره یې هڅه نده کړې، ۶۱ سلنو ویلي: دوي داسې پور نه اخلي چې د سود بدل کې وي. ۳۱ سلنه بزګران بیا دا اندېښنه لري چې او به نشي کولی، پور بېرته ورکړي.

د بانک له لارې د پور ګټه داده چې ډېر پور ترلاسه کولی شي، خو یو بزګر ووېل: د بانک پور ډېر سترې کوونکی او لوړ سود لري، چې ډېرې نورې غټې ستونزې هم رامنځته کولی شي.

## کرنیز شرکتونه:

دا سروې ښايي چې کرنیز شرکتونه هم پورونو ته اړتیا لري او د دې لارې خپلې سوداګرۍ ته وده او پراختیا ورکولی شي. کرنیز شرکتونه یوازې دومره سرمایه لري چې خپل کاروبار سره مرسته وکړي، خو ډېر پرمختګ نشي ورکولی، نو د کرنیزو شرکتونو لپاره پور ډېر اړین دی.

په اوسط ډول د کرنیزو شرکتونو د کلنۍ راکړې ورکړې حجم ۳۱،۷۱۰ ډالر دی. یواځې ۴ سلنه شرکتونو ویلي چې دوي مالي ذخیره درلوده (۹ سلنه د هغو لپاره چې د راکړو ورکړو حجم یې ۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ / ۱۵،۰۰۰ډالر یا زیات وو). ځینو شرکتونو ویلي دوي اړ وو چې په محتاط ډول خپلې پیسې مدیریت کړي او د توکو او خدمتونو وړاندې کول جاري وساتي. په توله کې ۴۰ سلنه شرکتونو ویلي چې په ځینو فصلونو کې د پیسو جریان د ستونزو سره مخامخ وي چې دا پخپله د کرکیلې د بېلابېلو موسمونو د اغېز ښکارندوی دی. پردې سربېره په ټول هېواد کې یواځې ۲۷ سلنه شرکتونو ویلي چې دوی د بانک یا د وړو پورونو د موسسې سره مالي حساب لري(۴۳ سلنه هغه سوداګرۍ چې د راکړو ورکړو حجم یې ۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ /۱۵،۰۰۰ ډالر یا له هغه څخه زیات دی). دا پخپله په پراخه توګه افغانستان کې د نغدو پیسو پر بنسټ ولاړ د کرنیز اقتصاد ښکارندوی دی. په توله کې ۳۷ سلنه کرنیز شرکتونه وایي: چې پور ته اړتیا لري، خو یواځې ۶ سلنه شرکتونه وایي چې دوي کولای شي غیر رسمي مالي پور ترلاسه کړي، ځکه چې غیر رسمي سرچینې نشي کولی چې دومره په لوړه کچه پورونه ورکړي چې له ۱۰،۰۰۰ تر۸۰۰،۰۰۰ ډالرو پورې رسېږي او اوسط یې ۳۰،۲۴۳ ډالر وي.

د ټولو سروې شویو کرنیزو شرکتونو له ډلې یواځې ۱۲ سلنو ویلي چې دوي پخوا د پور د لاسته راوړلو لپاره مراجعه کړې او د دوی څخه یواځې ۵ سلنه پور ترلاسه کړی دی. د دې پورونو اوسط ۱۶،۷۸۲ ډالر وو.

## د کرنیزو شرکتونو له لورې د پور کارول:

هغو سروې شویو شرکتونو چې پور ته یې مراجعه کړې، ۳۱ سلنو د توکو پېرودلو، ۲۱ سلنو د نقلیه وسایطو، ۱۹ سلنو د پور بېرته ورکړه، ۱۷ سلنو د ودانیو ترمیم او ودانولو او ۱۳ سلنو یې ماشین الاتو لپاره کارولې دي. د تېرو پور اخېستونکو په پرتله اوسمهال اړ شرکتونه ډېره لېوالتیا لري چې ساختماني پورونه (۲۹ سلنه) او برعکس د تېرو پور اخېستونکو په پرتله د توکو رانیولو ته کمه علاقمندي (۱۲ سلنه) لري.

## د کرنیزو شرکتونو لپاره د پور غوره شرایط:

کرنیز شرکتونه اوږد مهاله پورونو ته اعتبار او ترجیح ورکوي چې موده یې د ۲ تر ۵ کلونو پورې وي، ترڅو په اسانه او د حاصلاتو د لاسته راوړلو په مهال له بزګرانو پورونه راټول کړي.

## د رسمي پور ترلاسه کولو سره تړلې ننګونې:

د اکثره سوداګریزو شرکتونو (۸۹ سلنه) چې دوې پخوا د پور غوښتنې کړې وې، منل شوي دي. هغه چې رد شوي، علت او دلیل یې عبارت دي له: د مالي سجل نشتون(۴۳ سلنه)، د ضمانت نشتوالی (۲۹ سلنه) او د بېرته ورکړې بې وسي (۲۹ سلنه).

## د عرضې (وړاندې کولو) اړخ:

افغانستان داسې هېواد دی چې پکې د مالي ونډې شمولیت کچه خورا ټیټه ده. یواځې ۱۰ سلنه افغانان په رسمي مالي موسسو کې بانکي حسابونه لري.

افغانستان کې د کرنیزو پورونو رسمي سرچینې عبارت دي له: سوداګریز بانکونه، د وړو پورونو موسسې، مالي شرکتونه او د کرنیزې پرمختیا صندوق. دغو پور ورکوونکو د ۲۰۱۷م کال تر پایه پورې کرنیز سکتور ته په ټېسارې توګه ۶،۱۸ میلیارده افغانۍ پورونه ورکړي وو. دا د ۲۰۱۵م کال په پرتله ۲۷،۵ سلنه زیاتوالی ښايي. اوسمهال کرنیز پور افغانستان کې د رسمي سکتور د ټولو پورونو ۱۱،۳ سلنه جوړوي. په ۲۰۱۵م کال کې دغه شمېره ۸،۷ سلنه وه. د دې علت د یادو ادارو لخوا د کرنیزو پورونو په برخه کې کمه پانګونه ده.

د ۲۰۱۵م او ۲۰۱۸م کلونو ترڅ کې مخ پر خوړ اقتصادي او امنیتي شرایط پخپل وار کرنیز سکتور کې د خطرونو د زیاتوالي لامل وګرځېدل، چې له امله یې د کرنیزې پرمختیا صندوق د خپلې پانګونې د ودې ونډه محدوده کړه. د زراعتي سکتور د پورونو په برخه کې د سوداګریزو بانکونو د پانګونې ونډه ۴،۲ سلنه، د وړو پورونو د موسسو ۲۷ سلنه او د کرنیزې پرمختیا صندوق ۱۰۰ سلنه وه. د سوداګریزو بانکونو لخوا د کرنیزو پورونو برخه کې د پانګونې زیاتوالی کېدی شي په ټېسارې توګه کرنیز پور ته لاسرسی د پراختیا سبب وګرځي.

افغانستان کې کرنیزو پورونو ته محدود لاسرسی ددې سکتور د ودې او پراختیا پر وړاندې یو خنډ شمېرل کېږي. که څه هم دغه سکتور د هېواد د ناخالصه ملي تولید ۲۲ سلنه جوړوي او ۷۸،۶ سلنه وګړو ته چې پکې ۵۳ سلنه د کلیوالو سیمو خلک دي، د کار زمینه برابره کړې، خو د هېواد د اقتصادي ودې په نسبت د دې سکتور د بدلولو لپاره پورونو ته د لاسرسۍ اوسنۍ کچه کافي نده.

پر بانکونو بې باوري دودیز عوامل لري. له یوې خوا عامه ذهنیت داسې کېږي چې بانکي او اسلامي اصول یو بل سره په ټکر کې دي او له بلې خوا د کابل بانک سقوط او په سیستم کې د فساد شتون هم دې موضوع ته د بې اعتمادۍ لمن وهي.

## د کرنیز پور وړاندې کول، د بازار ویش:

اوس مهال کرنیز پورونه سترو او وړو پور ورکوونکو ته ورکول کېږي. دا د ټولو پورونو ۸۹،۴ سلنه برخه جوړوي. د کرنیزو پورونو لږه برخه (۱۰،۶سلنه) د وړو او منځنیو کرنیزو شرکتونو ته ورکول کېږي. د کرنیزې پرمختیا صندوق پدې برخه کې ډېرې شرکتونو ته پورونه ورکړي او تمه کېږي چې خپل موجودیت به د ۲۵،۰۰۰ څخه تر ۱۰۰،۰۰۰ ډالرو پورونو د ورکړې له لارې نور هم ځلانده کړي.

## د رسمي کرنیزو پورونو عرضه کوونکي:

د سوداګریزو بانکونو سکتور د پنځلسو بانکونو څخه جوړ دی. له دې ډلې درې دولتي، نهه خصوصي او درې نور یې ښهرنی بانکونه دي. په توله کې د سوداګریزو بانکونو لخوا د پور ورکړه ډېره محدوده وه. د ۲۰۱۷م کال تر پایه د مجموعي پور او شتمنۍ ترمنځ تناسب ۱۳،۵ سلنه وو. دا ډېره ټیټه کچه وه، په تېرو دوو کلونو کې د بانک لخوا د مجموعي پورونو ونډه نوره هم ټیټه شوې وه، چې د ۴۵،۵ میلیارده افغانیو څخه ۴۲،۷ میلیاردو ته ښکته شوې او ۶،۲ سلنه تنزل یې ښکاره کاوه. د بانکونو لخوا د پور د یو بل اساسي شاخص په توګه د پور او شتمنۍ ترمنځ تناسب هم د۲۶،۶ سلنه څخه ۱۳،۵ سلنه ته ټیټ شوی وو. پدې موده کې بانک ته د پیسو سپارل زیات شوي وو. مانا دا چې د ۱،۲ میلیارد څخه ۱،۷ میلیاردو ته ختلي وو. بانکي سیستم ۳،۳۹۶،۶۱۸ پیرودونکو (د پیسو سپارونکو) ته خدمتونه وړاندې کول او پدې کې د پور اخېستونکو شمېر یواځې ۶۴،۱۱۰ وو. څرګنده ده چې دغه پیسې د پور ورکولو لپاره نه کارول (پانګونه) کېدې.

د کرنیز سکتور لپاره پورونه نور هم محدود وو. که څه هم د ډېر ټیټ پېل څخه ۴۶ سلنه زیات شوی او اوس د ټولو پورونو ۴،۲ سلنه ونډه جوړوي چې پکې تولید، د کرنیزو توکو پروسس او نور اړونده فعالیتونه شامل دي، د بانکونو لخوا د پور ورکړه د ګوتو په شمېر بانکونو (د افغانستان نړیوال بانک، غضنفر بانک او باختر بانک په شمول) لخوا ترسره کېږي او پر محدودو صادر کوونکو او د کرنیزو توکو پر پروسس کوونکو تمرکز لري. د کرنې لپاره د پور د ونډې څخه یواځې ۱۰ سلنه یې له څاروېو او کرنیز تولید لپاره ورکول کېږي.

## د کرنیزې پرمختیا صندوق:

د ۲۰۱۷م تر ډسمبر میاشتې د ورکول شویو پورونو اندازه ۱۰۳ میلیونه ډالر وه، پدې کې هغه ۲۲ میلیونه ډالر پورونه هم شامل وو، چې پوره وړو سره وو. افغانستان کې د امنیتي او اقتصادي وضعیت د خرابېدو له امله د کرنیزې پرمختیا صندوق د پور ورکولو او شتمنیو د اختصاص یوه محتاطه پالیسي غوره کړه چې له امله یې د ونډې د ودې مخه نیول شوې وه. لږ تر لږه ۱۰۰،۰۰۰ ډالرو پور اندازې د ټاکلو له لارې د کرنیزې پرمختیا صندوق په اصل کې د مستقیم پور ورکولو پواسطه د کرنیزو پورونو د بازار لویه برخه خپل هدف وټاکه. هغه مهال د کرنیزې پرمختیا صندوق د وړو پورونو (۲۵،۰۰۰ - ۱۰۰،۰۰۰ډالر) د وړاندې کولو په موخه د کرنې واړه او منځني شرکتونه په نښه کول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وړو پورونو موسسې:

د افغانستان د وړو پورونو اتحادیه د بېلا بېلو څلورو موسسو څخه جوړه شوې چې عبارت دي له: فینکا افغانستان، متحد، اوکسس افغانستان او ایکسچېنجر زون.

د افغانستان د ښځو شورا، د آغا خان بنیاد، AREDP او لاس په لاس افغانستان د ۲۰۱۷م کال د ډسمبر میاشتې تر ۳۱ نیټې پورې د وړو پورونو موسسو ۱۹۸،۷۹۷ پور اخېستونکي (۳۹ سلنه ښځې) او همدارنګه ۳۲۶،۵۲۳ سپموونکي (۳۴ سلنه ښځې) درلودل. دغه پور اخېستونکو او سپموونکو ته د سوداګریزو بانکونو لخوا خدمتونه نه وړاندې کېږي.

افغانستان کې د وړو پورونو د موسسو ۱۵۲ څانګې شتون لري. له دې ډلې ۳۹ سلنه یې په ولسوالیو کې دي. د وړو پورونو هغه موسسې چې کرنیز پروګرامونه پرمخ بیايي، څلور دي چې پورته ذکر شول. د وړو پورونو لومړنی بانک د ۱،۰۰۰ ډالرو څخه تر ۲۵،۰۰۰ ډالرو پورې واړه پورونه ورکوي. دا چې افغان کلیوالي مالي شرکت د افغانستان د وړو پورونو د اتحادیې غړیتوب لري، دا شرکت ۲۰،۰۰۰ ډالرو څخه تر ۵۰۰،۰۰۰ ډالرو پورې پورونه ورکوي. د ۲۰۱۷م کال تر پایه، د کرنیز سکتور د وړو پورونو د ادارو پورونه ۲،۹ میلیارده افغانیو ته رسېدل. دا د وړو پورونو د ادارو د ټولو وړو پورونو ۲۷ سلنه برخه تشکیلوله.

## د اسلامي مالي سیستم ونډه:

دا چې افغانستان کې رسمي اسلامي مالي سیستم نوې پدیده ده، خو بیا هم وګړي یې د دې سیستم نه ډېره ګټه پورته کوي. د افغانستان بانک لخوا نوي اصول او مقررات په بانکي سیستم کې د لازیاتو پېسو پر ذخیرې د اسلامي بانکولۍ د اصولو پر لا زیات تطبیق او اطمینان مثبت تاثیر لري، خو بیا هم دغه سروې ښايي چې د پام وړ لاسته راوړنه نده شوې. تراوسه اسلامي بانکدارۍ کې د پېسو په ذخیره کې ۲۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی. پداسې حال کې چې د پور اخېستونکو شمېر د ۲۰۱۵م او ۲۰۱۷م کال ترمنځ یواځې ۱،۷ سلنه زیات شوی و.

د کرنې برخې د پرمختګ لپاره د اسلامي بانکولۍ په اصولو کې د پور ترلاسه کولو ته اکثره لیوالتیا لري، خو د دوې محافظه کاري یا په بله مانا د سود څخه ویره، دغې پور ته دوي نه پرېږدي. ځینې اسلامي علماء د اسلامي مالي سیستم په اړه پوره مالومات نلري او خلکو ته یاد پور حرام بیانوي. پداسې حال کې چې اسلامي مالي سیستم حلال دی.

اوسمهال افغانستان کې اسلامي مالي سیستم د ودې په حال کې دی. سوداګریزو بانکونو، د وړو پورونو موسسو او د کرنیزې پرمختیا صندوق، تر دې دمه بشپړ اسلامي مالي محصولات وړاندې کړې دي.

د وړو پورونو لومړنی بانک هم وړو او منځنیو شرکتونو ته د ۲۵،۰۰۰ څخه تر ۱۰۰،۰۰۰ ډالرو پورې پورونه ورکوي. وړو او منځنیو شرکتونو ته د دې بانک پورونه ۱۷ سلنه جوړوي. وړو او منځنیو شرکتونو ته د دې بانک د پورونو ۳ سلنه د کرنې برخې ته ځانګړې ده.

## پور ته د لاسرسي پر وړاندې اساسي خنډونه:

هېواد کې د سوداګریزو بانکونو ۴۷۷ څانګې فعالیت کوي. د بانکي اصولو په اساس د ۱۱۵،۰۱۱ وګړو پر سر یوه څانګه پرانېستل کېږي. همدارنګه یادې څانګې اکثره ښارونو کې موقعیت لري او یواځې ۲۷ سلنه یې کلیوالي خلکو ته خدمتونه وړاندې کوي. دا خپله یو ستونزه ده. کلیوالي خلک د وخت او د پیسو د لګښت له امله یادو خدمتونو ته په اسانه لاسرسی نلري او همدارنګه د دې خدمتونو نه ناخبره پاتې کېږي. د دې سره د دوي کرنیز فعالیتونه د خنډ او ځنډ سره مخ کېږي.

په عمومي ډول هېواد کې د زده کړې ټیټه کچه (۵۲ سلنه نارینه او ۲۴،۲ سلنه ښځینه)، د ضمانت او شرعي قبالو کموالی، د پور د سود لوړه بیه، ټولنیزې او کلتوري ستونزې، د پور د ورکړې پر وړاندې لوي خنډونه دي.

## د یو بزګر کیسه:

دې سروې کې د یو ۴۳ کلن بزګر د ژوندانه په اړه مالومات وړاندې شوي چې نوموړی ۲۲ جریبه ځمکه او ۱۲ اولادونه لري. له ۲۲ جریبه ځمکې یواځې ۱۴ جریبه ځمکه کې کرکیله کوي. نوموړی د رسمي مالي خدمتونو څخه ناخبره دی. پداسې حال کې چې د نوموړي کور د مالي خدمتونو موسسې څخه ۱،۵ ساعته واټن لري. د ده د کورنۍ میاشتنی عاید ۳۳۵ ډالر کېږي چې په هر کس ۲۸ ډالر رسېږي. نوموړی هیڅ سپما نلري.

نوموړی په بېلا بېلو موسمونو کې د خپل فصل د کیمیاوي سرو او تخمونو لپاره د کلیوالو او هټۍ والو څخه پور اخلي چې د دغو پورونو کلنی ارزښت ۷۷۵ ډالر دی. د فصل د سرته رسېدو سره سم خپل حاصل ټولوي، ترڅو پور بېرته ورکړي. هغه غواړي یو اوږد مهاله پور ترلاسه کړي، ترڅو د لمریزې برېښنا له لارې خپلې ټولې هغه ځمکې خړوبې کړي چې اوس یې د جنراتور له لارې خړوبوي. هغه وایي: اقتصاد یې غوښتنه نه کوي چې د ۲۰۰،۰۰۰ افغانیو په ارزښت د لمریزې برېښنا لپاره پور واخلي. هغه رسمي پور هم نه اخلي، ځکه ډاډه ندی چې د بانک د پور شرایط پوره کولای شي، ځکه یا به پور واپس ورکوي او یا به په پور کې د ضمانت په ډول د ورکړې ځمکې نه خلاصېږي.

## خاورو کې زر:

افغانستان کې یو شمېر بزګران له څولسیزو راپدېخوا د حیواني سرې پر ځای له کیمیاوي سرې ګټه اخلي. د ځینو بزګرانو په خبره، په خپل وخت کرکیله یا کرنه کې له سپینې او تورې کیمیاوي سرې ګټه اخېستنه د کرنیزو محصولاتو د ډېروالي سبب ګرځي .

د کابل قره باغ ولسوالۍ یو بزګر څه ناڅه له ۳۰ کلونو راپدېخوا په کرونده کې له کیمیاوي سرې کار اخلي. نوموړی وایي: چې له دې سرې په ګټې اخېستنې سره یې حاصلات ډېر، کېفیت یې لوړ او بازار کې په ښه بیه پلورل کېږي.

هغه زیاتوي چې کیمیاوي خاوره زمونږ لپاره خاوره (سره) نه ده، بلکې زر دي.



د کرنیزې پرمختیا صندوق او عزیزي بانک مشرتابه د هېواد کرنیزې پرمختیا په موخه ناسته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان سوداګرۍ او خوراکي توکو ارزونه

عاشق دوست مومند

افغانستان وچه کې راګیر او د خوراکي توکو د کمښت په برخه کې د ډېر زیان لیدونکو هېوادونو له ډلې شمېرل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اقتصاد یوه غټه برخه هم په کرنه تکیه کوي او نږدې۸۰ سلنه وګړي یې په کرنیزو یا ورته کارونو بوخت دي. ۱۳۹۶ ل (۲۰۱۷ –۲۰۱۸م) کال کې د افغانستان ناخالص داخلي تولیداتو (GDP) څخه یې (۲۳٫۷ سلنه) برخه د کرنې او کرنیزو توکو څخه جوړېده. د افغانستان په ټولیز ډول له ۶۵ میلیونه هکتاره ځمکې ۱۲ سلنه یې چې نږدې ۹٫۶ میلیونه هکتاره کېږي د کښت وړ ده، چې اوس مهال نږدې ۵٫۵ میلیونه هکتاره ځمکه په دایمي یا لنډ مهاله توګه کرل شوې. له دې ډلې ۱٫۷۸میلیونه هکتاره ځمکه ځنګلونه او ۱٫۱۴میلیونه هکتاره یې للمي ځمکه ده. سربېره پردې افغانستان یو له هغو هېوادونو دی چې د خوراکي اړتیاوو لویه برخه له نورو هېوادونو واردوي.

د راپورونو پر بنسټ که چېرې هېواد کې په پوره کچه اوربښت وشي، نو د هېواد دننه ۹۰ سلنه د اړتیا وړ تولیدات لاسته راتللی شي.

په ۲۰۰۱م کال کې چې کله نړیوالې ټولنې او نورو مرستندویه ادارو افغانستان کې کار پیل کړ، افغانستان د خوراکي اړتیاوو لویه برخه له ګاونډیو هېوادونو واردوله. په همدې کال کله چې د افغان مهاجرینو د بېرته راستنېدو لړۍ پیل شوه، د وارداتو دا کچه نوره هم په لوړېدو شوه چې د مرکزي احصاییې د راپورونو له مخې په ۱۳۹۱ ل کال (۲۰۱۲– ۲۰۱۳م) کې د ۱۳۸۷ ل ( ۲۰۰۸– ۲۰۰۹م) کال په پرتله د افغانستان د وارداتو کچه درې ځلې زیاته شوه او ۱۳۸۷ ل (۲۰۰۸– ۲۰۰۹م)کال کې د افغانستان ټولټال واردات ۳٫۲ میلیارده امریکایي ډالر وو، خو بیا په ۱۳۹۱ ل (۲۰۱۲ - ۲۰۱۳م) کال کې دغه کچه ۹٫۶۸ میلیارد ډالرو ته لوړه شوه.

د افغانستان د مرکزي احصاییې د شمېر له مخې په ۱۳۹۶ ل (۲۰۱۷ –۲۰۱۸م) کال کې د افغانستان ټولټال واردات ۷٫۷۹ میلیارد امریکایي ډالر وو چې په هغه وارداتو کې د خوراکي توکو ونډه ۲٫۴۶ میلیارده ډالر وه او د غنمو او اوړو وارداتو ونډه یکې ۹۰۸ میلیونه امریکایي ډالر ثبت شوي وو.

د کرنې متخصصین د غنمو وارداتو کې د زیاتوالي عمده لامل هېواد کې وچکالي او اوربښتونو کموالی بولي. که څه هم د افغانستان واردات زیات شوي، خو په خوا کې ورسره د هېواد د صادراتو کچه هم زیاته شوې. د راپورونو له مخې په ۱۳۹۶ ل کال (۲۰۱۷ - ۲۰۱۸م) کې د افغانستان ټولټال صادرات ۸۳۱٫۹ میلیونه ډالر ښودل شوي، چې دا کچه د ۱۳۹۵ ل کال (۲۰۱۶ - ۲۰۱۷م) په پرتله ۳۹٫۵ سلنه زیاته شوې.

د یادونې وړ ده چې ۱۳۹۶ ل کال (۲۰۱۷ - ۲۰۱۸م) کې د هېواد صادراتو برخه کې ۵۰٫۸ سلنه ونډه د تازه او وچې مېوې وه. د هېواد د تازه مېوې صادرات د تېر کال په پرتله ۱۱۸ سلنه او د وچو مېوې صادرات ۷۸٫۷ سلنه زیات شویدي. د هېواد صادراتو د زیاتوالي عمده لامل د هوایي دهلېزونو پرانېستل او د منځنۍ اسیا هېوادونو سره د سوداګرۍ ډګر کې نسبي او دوامداره اړیکې ښودل شوي.

افغانستان د اوبو په ډګر کې په پوره اندازه زېرمې لري. که چېرې وغواړو چې په راتلونکو وختونو کې د خوراکي او نورو کرنیزو توکو په ډګر کې پرمختګ بسیا شو، باید د هېواد د کښت وړ ځمکه چې اوس مهال شاړه پرته ده، په اوبو خړوبه، د کرنې او کښت جوګه کړو.

د لا زیاتو مالوماتو لپاره د انټرنېټ له لارې دې لینک ته لاړ شئ: https://www.nsia.gov.af

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند چاپېریال

انجنیر سید رقیب شاه هاشمي

ټول هغه بهرني عوامل چې په ژوندي موجود باندې اغېز ولري لکه لمر، اوبه، هوا، اقلیم، بوټي، وحشي ژوي، کورني ژوي، خزندګان، حشرات او نور ناژوندي موجودات لکه خاوره، تیږې او نور چې په ځمکه کې موجود دي، د چاپېریال په مانا دي.

د ژوند چاپېریال هغه پوهه ده چې د انسان اړیکې د چاپېریال سره تر مطالعې لاندې نیسي. ټول هغه چاپېریالونه چې هلته ژوند جریان لري، د ژوند چاپېریال ګڼل کېږي. ښارونه، اقیانوسونه او ځنګلونه د ژوند د چاپېریال ډولونه ګڼل کېږي.

## د ژوند چاپېریال پورې تړلي چاپېریالونه:

د ژوند چاپېریال د درې چاپېریالونو څخه منځ ته راغلی:

• طبیعي چاپېریال: ټول ژوندي او ناژوندي موجودات چې په طبیعي ډول رامنځته شوي وي او د انسان هیڅ ډول لاسوهنه پکې نه وي. یانې هغه چاپېریال چې د انسان په لاس نه دی رامنځته شوی لکه: غر، وحشي ژوي، اوبه او زېرمې (معادن).

• فزیکي چاپېریال: د انساني محیط هغه ځانګې ته ویل کېږي چې پوره فزیکي عوامل پکې شامل وي لکه: خاوره، اوبه او اقلیم.

• ټولنیز چاپېریال: چاپېریال کې هغه توکي چې د لاس لګونې ور نه وي. د دې چاپېریال ټول موجودات دې ته اړ کوي، ترڅو حالاتو سره یې ځان برابر کړي.

که د دوو یا څو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي او کلتوري اړیکو په اړه ژور فکر وکړو د ټولنیز چاپېریال مفهوم د سیاسي سرحدونو څخه وراندې ځي. نو په دې اساس ویلی شو چې د ژوندچاپېریال نړیوال دی.

## د اسلام له نظره د چاپېریال ارزښت:

هر څه چې الله تعالی هست کړي ، نو په انسان یې د ساتلو امر هم کړی. ځکه د الله (ج) د مخلوقاتو څخه ساتنه، په الله (ج) د ایمان لرلو یوه برخه شمېرل کېږي، نو مونږ باید د الله (ج) د ټولو مخلوقاتو څخه ساتنه وکړو، ترڅو حرمت یې وساتل شي. الله (ج) قرانکریم کې فرمایي:

ژباړه: الله (ج) تاسو له ځمکې (خاورې) پیدا کړئ او د ځمکې آبادي یې هم تاسو ته پرېښوده. (سوره هود، آیات ۶۱)

اسلام د ژوندانه پوره نظام په توګه له انسان څخه په بېلابېلو دلیلونو غواړي، ترڅو خپل چاپېریال وساتي. دا دلیلونه په لاندې ډول دي:

• چاپېریال کې د الله تعالی مخلوق دی. د ځمکې او ټولو طبیعي سرچینو جوړښت د الله تعالی د حکمت، رحمت او قدرت ښکارندوی دی.

• مسلمانان باید له چاپېریال ساتنه وکړي ځکه د چاپېریال ساتلو سره د الله تعالی هغه مخلوق ساتل کېږي، چې د الله (ج) ذکر کوي.

• د مسلمانو علماوو له نظره د الله (ج) د مخلوقاتو باید ساتنه وشي.

• اسلام کې د ژوندانه نظام د خبر رسولو په اساس ولاړ دی. دا د خبر کار دی او د خبر رسول د اسلام حکم دی.

الله (ج) په قرانکریم کې د خبر په رسولو ټینګار کړی او په سورة الزلزال (۷-۸) ایاتونو کې یې فرمایلي دي:

ژباړه: نو هغه څوک چې عمل کوي د یوې زرې د خیر، نو وبه ویني یا بله د خیر او هغه څوک چې عمل کوي د یوې ذرې د شر، نو وبه ویني سزا د هغې.

په اسلام کې ځکه انسان د چاپېریال د ساتلو لپاره ګمارل شوی دی چې بل هیڅ مخلوق د دې کار توان نلري. انسان یوازینی مخلوق دی چې الله تعالی د ځمکې د مسؤل په توګه پیدا کړی دی.

## د هوا ککړتیا:

په هوا کې ککړتیا د هغې مادې څخه عبارت ده چې په لوړ مقدار کې د انسان او نورو ژوو روغتیا ته زیان رسوي. هوا د ساه اخیستنې له لارې د انسان بدن ته داخلېږي چې د ژوند تضمین کوي. که دا هوا مسمومه او ککړه وي، د ژوند د کڅوړې او د ناروغیو لامل ګرځي. هر کال د نړۍ درې میلیونه کسان د ککړې هوا له امله ژوند له لاسه ورکوي چې ۲۰ سلنه یې په پرمختللو هېوادونو کې میشت دي. دا کسان د ساه لندۍ، سږو ناروغۍ، زړه ناروغۍ او الرژۍ له امله ناروغ وي.

## د هوا ککړتیا له دوه لارو منځته راځي:

• طبیعي: اورغورځونکي غرونه، صحرایي توپانونه او ګنده تالابونه.

• مصنوعي: د انسان په واسطه د هوا ککړتیا چې د ساه لنډۍ د ناروغۍ لامل ګرځي او د انسان او حیوان لپاره ټکک خطر دی. توپانونه او ګردبادونه، بېلابېل کیمیاوي توکي، کرنیز کیمیاوي توکي لکه حشره وژونکي، د بوټو د مرضونو دواګانې او داسې نور میکروبونه د ځان سره لېږدوي، د انسانانو او حیواناتو سترګو او تنفسي غړو ته ننوځي او د ناروغتیا لامل ګرځي.

په عمومي ډول د هوا ککړتیا عمده لاملونه عبارت دي له: بېلابېلو ماشینونو د فعالیت له امله د ضرر لرونکو ګازونو تولیدېدل، ترانسپورټي وسایل، مخروقاتي معدني مواد (لکه د ډبرو سکاره)، د شولو پټي، د څښتو بټۍ او داشونه چې د میتان ګاز ($CH_4$) جوړوي، د د مالدارۍ او چرګانو فارمونه چې ګازونه، تعفن او بوی یې ککړتیا پیدا کوي، د برېښنا جنراتورونه، هر ډول اورلګېدنه، د ښنو بوټو کمېدل، د انساني او حیواني غایطه موادو بوی او تعفن، د طبیعي ګازونو کارول او همدارنګه د هوا ککړتیا چې د خاورو او اوبو د ککړتیا سبب هم کېږي.

مونږ د ورځې په منځني ډول (۱) کیلوګرامه خوراک کوو، (۱،۵) کیلوګرامه اوبه څښو او (۱۲) کیلوګرامه هوا اخلو. نو له دې امله د هوا وضعیت ډېر اړین دی چې باید ورته پاملرنه وشي، نو راځئ د هوا شالید ته هم لنډه کتنه وکړو:

د ککړتیاوو مسایل او ستونزې د صنعتي انقلاب څخه وروسته د شلمې پېړۍ له پیل وروسته زیاتې شوې دي. د یادې نېټې څخه وروسته نړۍ د لاندېنو پېښو شاهده وه:

• **د بلجیم د دره میوز پېښه:** دې پېښه کې د هوا بدلون له امله چې صنعتي ککړتیا وه، پکې ۲۲ تنه انسانان مړه شول چې لومړی د ناروغۍ نښانې یې د بلغمو سره ګډ ټوخی او ساه لنډی وه. دې پېښې د بې شمېره اهلي ژویو ژوند هم واخیست.

• **د امریکا پنسلوانیا د دونورا پېښه:** د پنسلوانیا د دونورا په ښار کې د تودوخې د درجې تغیر له امله ۲۰ تنه مړه شول چې ددې پېښې اصلي لامل د هوا ککړتیا وه. څو په دې سیمه کې د هوا ککړتیا د اوسپنې د ویلي کولو فابریکو د چاړو له امله وه. په دې سیمه کې ۱۴۰۰۰ کسانو څخه ۴۳ تنه ناروغان شول او ۱۲ سلنه اوسېدونکی د دې ناروغېو له امله سخت زیانمن شول، چې ځینو ته وریېښې ناروغۍ د سترګو، پزې، ستوني، ټوخی، کانګو او سرخوږې له ډلې وې.

• **د لندن پېښه:** لندن کې هم د هوا د ککړتیا ستره ستونزه رامنځته شوه، چې له امله یې څو میاشتې وروسته پرله پسې مړګونه رامنځته شول.

دا ټولې هغه ستونزې دي چې د هوا د ککړتیا له امله رامنځته شوې او تاریخ کې لیکلي زیانونه یې اړولي دي. د نړۍ هر وګړي ته پکار ده چې له ځانه نیولې د ټولنې په هره برخه کې پاکۍ ته ځانګړې او جدي پاملرنه وکړي او د ټولو هغه کړنو څخه ځان او ټولنه وساتي چې مرګ راوړونکې ستونزې او ناروغۍ رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي بانکولي د اسلام راتګ سره رامنځته شوې ده!

استاد قریب الرحمن «لبیب»

استاد قریب الرحمن لبیب د اسلام آباد اسلامي نړیوال پوهنتون د شرعیاتو او قانون پوهنځي څخه فارغ او د همدې پوهنتون د اسلامي بانکولۍ او اسلامي اقتصاد برخه کې ماسټري لري. نږدې څلور نیم کاله یې په همدې پوهنتون کې د اسلامي بانکولۍ او اسلامي اقتصاد پورې د تړلو مضمونونو د استاد په صفت دنده هم ترسره کړې او دا مهال د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقې او قانون په څانګه کې په استادۍ بوخت دی. د دې ترڅنګ د کرنیزې پرمختیا صندوق د شریعه بورډ غړی هم دی، چې په پرله پسې توګه یادې ادارې سره د اسلامي اصولو په رڼا کې د اسلامي بانکولۍ په اړه خپلې مشورې شریکوي. د اسلامي بانکولۍ په اړه مو ترې پوښتلي چې هغه یې ځواب داسې وایي:

اسلامي بانکولي

اوسمهال بانکولي د انسان د ژوند یوه مهمه برخه جوړوي. د پخوانۍ بانکولۍ نمونې او چارې اوسنۍ بانکولۍ ته ورته دي. د اوس په څېر، پخوا هم بانکولي د اقتصاد یوه مهمه برخه ګڼل کېده. دې ته په کتو د اسلامي بانکولۍ تاریخ په درې برخو ویشو:

(۱) د اسلام راتګ نه مخکې مالي نظام
(۲) د اسلام راتګ سره مالي نظام
(۳) اوسنی مالي نظام

که د اسلام راتګ نه مخکې مالي معاملاتو ته وګورو، دې نتیجې ته رسېږو چې عرب قوم یو سوداګر قوم وو. ژوند یې په سوداګرۍ ولاړ وو. که څه هم د بانکولۍ اوسنۍ چارې هغه وخت نه وې، خو بانکولي تر سترګو کېدله. د مثال په ډول، هغه مهال د مضاربې سیستم موجود وو چې هغه مهال مقارضه بلل کېده. د عربانو تر منځ د پېسو د راکړې ورکړې معموله لار وه چې یو کس به پېسې اخېستې او کار به یې پرې کولو، ګټه یې سره شریکه وه. اسلامي بانکولۍ کې دې ډول راکړې ورکړې ته مضاربه وایي. اوسنۍ بانکولۍ کې یې بیا (Loan Finance) یا د پور په اساس تمویل بولي. دا هم هغوي په سوداګریزو چارو کې درلودله. قرض به یې اخېستو او خپل کاروبار به یې پرې کولو او بدل کې به یې د پېسو مالک ته سود ورکولو.

لومړۍ دوره: د حضرت محمد (ص) په نبوت د مبعوث کېدو نه وړاندې، خدیجې (رض) چې ډېره مالداره میرمن وه او مسلمانه شوې لا نه وه، حضرت محمد (ص) ته د هغه (ص) د ایمانداری، امانتدارۍ، صداقت او نېکو اخلاقو لرلو له امله پیسې ورکولې او هغه (ص) مضاربې سره سوداګري پرې کوله. دواړه په ګټه او تاوان کې سره شریک وو.

دویمه دوره: کله چې رسول الله مبارک په نبوت مبعوث شو، اسلامي اصول او قوانین نه یواځې عباداتو کې بلکې د ژوند په هره برخه کې رامنځته شول. اسلام د مالي نظام څخه منع ونکړه، بلکې شرایط او اصول یې ورته وضع کړل. دا چې مضاربه د اسلام سره په ټکر کې نه وه، نو د مالي نظام دا معامله یې پر ځای پرېښوده. څکه مضاربه کې یو کس پیسې ورکوي او بل پرې کار کوي او ګټه کې سره شریک وي. په مضاربه کې د پېسو تاوان مالک ته رسېږي.څکه څوک چې په پېسو کار کوي د هغه د کار او د وخت تاوان کېږي.

خو د پېسو په اساس تمویل یا (Loan Finance) چې د پېسو په بدل کې به ګټه اخېستل کېده، د اسلام د راتګ سره د پېسو په بدل ګټه اخېستنه قطعاً حرامه شوه. په دې توپیر بدله شوه چې که چا قرض اخېستو، اخېستل یې منع نه وو، مګر ګټه اخېستل یې پرې منع شول. څکه دا سود وګڼل شو. که چا نه غوښتل چاته قرض ورکړي، کولی یې شول چې د مضاربې، مشارکې یا هم بیع په شکل یې ورکړی وی. همدا مهال بیت المال رامنځته شو. بیت المال داسې وو لکه نن چې دولتي مرکزي بانکونه لرو. د هغه وخت بیت المال به د خلکو سره کمک کولو، ذکاتونه، مالیه او نورې پېسې به یې راټولولې.

په دې ډول راکړو ورکړو کې ښه مثال د زبیر بن عوام (رض) یا د ده د ځوی عبدالله ابن زبیر(رض) دی. هغه به د بانکونو رول ادا کولو، دوي په امانت ساتنه کې ډېر پېژندل شوي وو، خلکو به خپل امانتونه دوي سره ساتل. د وخت تېرېدو سره د زبیر ابن عوام(رض) ځوي عبدالله ابن زبیر(رض) پدې کې بدلون راوست. خلکو نه به یې پیسې امانت نه بلکې د پور په نوم اخېستلې. څکه چې په امانت پېسو یې د اسلام د اصولو له نظره کار نشو کولی. عبدالله ابن زبیر(رض) به د خلکو امانت پېسې د پور په نوم اخېستلې او کار به یې پرې کولو. کله چې به د چا خپلو پېسو ته اړتیا شوه، نو نوموړي به په خپل وخت پېسې بېرته ورکولې. د امانت کېښودولو نه به نوموړي ته په پور ورکولو خلک ډېر خوښ ښکارېدل. څکه د امانت ساتلو په وخت کې که کومه ستونزه رامنځته شي او امانت له منځه لاړ شي، نو امانت ساتونکی یې مسؤلیت نه لري او نه په بېرته ورکولو مکلف دی. اګرچې د امانت څخه د کارونې ګټه نشي اخېستلی، خو د پور په ورکړه پور اخېستونکی مکلف دی، ترڅو په خپل وخت پور بېرته ادا کړي، که په وړاندې یې هرډول ستونزه هم رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريمه دوره: د نني وخت بانکولي د نولسمې پيړۍ په اواخرو او د شلمې پيړۍ په اوايلو کې رامنځته شوه. په ۱۹۴۰م کلونو کې ماليزيا کې اسلامي بانک رامنځته شو او خلک يې دې ته هڅول چې خپلې پيسې بانک کې کېږدي او د اړتيا په وخت يې بېرته واخلي. وروسته بيا په ۱۹۵۰ م کلونو کې پاکستان هم د بزګرانو لپاره اسلامي بانکونه رامنځته کړل، خو نتيجه يې ورنکړه. ځکه بانک ته چې څومره پيسې راتللې د خلکو د غوښتنې نه کمې وې. خو په هر حال د اسلامي بانکونو په اړه يې خلکو ته يو فکر او روحيه ورکړه. وروسته بيا په اتيا او نوي کلونو کې نورو اسلامي او غير اسلامي هېوادونو دې کار ته پرمختګ ورکړ. اوس مهال د اسلامي هېوادونو په پرتله په غير اسلامي هېوادونو کې اسلامي بانکولۍ ډېر پرمختګ کړی.

کله چې په نړيواله سطحه او په ځانګړې ډول امريکا کې په ۲۰۰۸م کال کې مالي ستونزې رامنځته شوې، سودي بانکونه يې راوغورځول. مالي بحران يې رامنځته کړ او اسلامي بانکونه له دې ناورين نه په امن کې پاتې شول. کله چې د سودي بانکونو اساسي ستونزې وڅېړل شوې، نو د سودي بانکونو سودي ګټې ډېرې لوړې وې. غير مسلمانان په دې قانع شول چې سودي بانکونه خيالي وو. خلکو ته يې د پورونو کارتونه د ډېرو پيسو ورکړي وو، خو په بانکونو کې يې پيسې کمې وې. کله چې ډېرو خلکو د پيسو ويستلو اراده وکړه او بانکونو کې پيسې کمې وې، نو دې سره سودي بانکونه بې باوره شول. پداسې حال کې چې خيالي بانکولي اسلام کې نشته. نو ځکه اسلامي بانکولي د مالي ناورين نه په امن کې پاتې او بريالۍ شوه. له دې سره نړيوال اقتصاد پوهان د اسلام د مالي نظام نه متاثره شول او د اسلامي مالي نظام مطالعې ته يې مخه کړه. په پايله کې يې په خپلو ټولو بانکونو کې د اسلامي بانکولۍ ځانګې پرانيستې. اوس غير مسلمان اقتصاد پوهان، اسلامي بانکولۍ کې دومره مخکې لاړل، دعوه کوي چې همدوی د اسلامي بانکولۍ بنياد ايښودونکي دي. پداسې حال کې چې اسلامي بانکولي د اسلام راتګ سره رامنځته شوې ده چې پورته يې يادونه وشوه.

د اسلامي بانکولۍ ارزښت په اړه کتابونه ليکل کېږي. خو که يې په لنډه ووايو: بانکولي د انسان د ژوند مهمه برخه ده. د نړۍ يو نيم ميليارد مسلمانان د عقيدې پر اساس سودي بانکولي نه کوي. پداسې حال کې چې بانکولۍ ته شا هم نشي اړولی.

بانکولۍ کې برخه اخيستل اړين دي. نو دې حقيقت ته په کتو بايد بله لار موجوده وي چې هغه اسلامي بانکولي ده. که اسلامي بانکولي نه وی، زموږ د ژوند يو اړخ به فلج وو او يا به مو سودي نظام ته مخه کوله، نو د سودي بانکولۍ څخه د ځان ساتنې په موخه بايد اسلامي بانکولۍ ته مخه کړو او هغه هڅې چې د سودي بانکولۍ په ډګر کې شوې، څو برابره يې بايد اسلامي بانکولۍ ته وشي، ځکه غير مسلمانان د خپلو ګټو په خاطر اسلامي بانکولي مني. حال دا چې مسلمانان د عقيدې په لحاظ سودي بانکولي نه مني.

يواځې د عقيدې يا مذهب له نظره نه، بلکې اسلامي بانکولۍ کې هغه څه موجود دي چې انسان يې په فطري لحاظ غواړي، لکه ټولنيز عدالت، پداسې حال کې چې په سودي بانکولۍ کې ټولنيز عدالت نشته، ځکه سودي بانکوالۍ کې يو کس بل ته په تاوان رسولو ګټه ترلاسه کوي. خو اسلامي بانکولۍ بيا د دواړو خواوو ګټې په نظر کې نيولې. په همدې خاطر په اسلامي بانکولۍ کې سود منع شوی. اسلامي بانکولي څوک له ګټې نه منع کوي، خو خطر به هم په غاړه اخلي. د ټولنيز عدالت اصل دا نه مني چې يو کس به ګټه کوي او بل به يواځې تاوان کوي.

د اسلامي بانکولۍ لپاره زيات اسلامي تعاملات يا عقود موجود دي، لکه مرابحه، مشارکه، مضاربه، حسنه پور، استصناع، سلم او داسې نور. په سودي بانکولۍ کې تعامل کم او د دواړو خواوو خوښې ته ډېر ارزښت نه دی ورکړل شوی. پداسې حال کې چې اسلامي بانکولۍ کې د معاملې هر تعامل يا عقد د دواړو خواوو په خوښه ټاکل کېږي، چې هر تعامل خپل اصول او شرطونه لري. د اسلامي بانکولۍ اساس اسلام دی او په دې بانکولۍ کې بايد د قران کريم، حديث، اجماع، قياس او د اسلامي مالياتي نظام ټول اصول او مقررات چې په شريعت کې دي، د راکړې ورکړې په مهال په نظر کې ونيول شي، هدف يواځې د سود د نه اخيستلو نه دی. که ټول شرعي مقررات پکې پلي نشي، اسلامي بانکولي نه بلل کېږي. د اسلام له نظره په سوداګرۍ کې يو اصل د ګټې او تاوان دی. هر څوک چې سوداګري کوي ګټه به تر لاسه کوي. يانې په ګټه او تاوان کې شراکت، خو په سودي مالي نظام کې يواځې ګټه په پام کې نيول شوې. اسلامي بانکولۍ کې غير اسلامي چارو ته لکه چل، فريب، دوکه، غلا او داسې نورو ته اجازه نشته او دا چارې پکې مطلقاً حرامې دي.

اسلامي بانکولۍ کې د قرارداد شرطونه په دوو برخو ويشل شوي:

(۱) عام شرطونه

(۲) ځانګړي يا خاص شرطونه

عام هغه شرطونه دي چې هر عقد يا قرارداد کې لازمي دي، لکه ايجاب او قبول، صيغې شرط، خواوې (عاقدان) د قرارداد کوونکو يانې څوک قرارداد کولی شي.

خاص يا ځانګړي هغه شرطونه دي چې د هر عقد يا قرارداد لپاره ځانګړي دي، لکه مرابحه کې چې د توکي بيه او ګټه بايد مالومه وي چې د دواړو خواوو به پرې خوښه وي. همدارنګه مشارکه کې دواړو خواوو ته ګټه او تاوان رسي. مګر مضاربه کې تاوان د مال خاوند ته رسي او د بل کس يواځې خوارۍ، زحمت او کار کول له منځه ځي. که مضاربه کې تاوان د مال خاوند، کارکوونکي (مضارب) ته ورکړي، نو د مضاربې دا عقد باطليږي. مضاربه کې دا شرط دی چې ګټه د دواړو شريکه ده او تاوان يواځې د مال خاوند (رب المال) ته رسي. همداسې سلم کې ځانګړی شرط دا دی چې پيسې به مخکې ورکوي او توکي به وروسته اخلي. که نيمې پيسې هم وروسته ورکړي، عقد له منځه ځي، نو ځانګړي شرايط د هر عقد او قرارداد لپاره د هغه د څرنګوالي پورې اړه لري.

لکه څرنګه چې يادونه وشوه، مضاربه، مشارکه، سلم او داسې نورو اسلامي اصولو نه په اسلامي بانکولۍ کې د اسلامي پروژو د تمويل برخه کې ګټه اخيستل کېږي. همداراز د پروژو ماهيت او نوعيت ته په کتو د اسلامي بانکولۍ د تعاملونو څخه ورته عقد يا تعامل ټاکو، د مثال په ډول که څېړې وغواړو يوه رغنيزه پروژه تمويل کړو، نو دې لپاره اسلامي بانکولۍ کې ډېر ښه او مناسب تعامل استصناع (جوړونه) ده. استصناع خپل شرطونه لري. که څېړې کرنيزه پروژه تمويلوو، نو د سلم او وکالت نه ډېره ګټه اخيستی شو او که څېړې لويې پروژې يا (Mega Project) تمويلوو، چې نه ورته د دولت وسه کېږي او نه يې يو شخص کولی شي، په اسلامي بانکولۍ کې دې ته د صکوک تعامل لرو. صکوک په اسلامي بانکولۍ کې يو داسې تعامل دی چې هر څوک يانې د کم او زيات مال خاوندان کولی شي پکې برخه واخلي، چې ځانګړي شرطونه لري.

اسلامي بانکولۍ کې د لېږد، رالېږد تمويل لپاره د پورته ذکر شوو لارو نه هم ګټه اخيستلی شو. د دولت مالي لاسته راوړنو ارزښتناکې برخې د مال لېږد رالېږد دی. هغه هېوادونه چې ډېر لېږد ولري د رالېږد لرونکو هېوادونو پرتله ډېر پرمختللي وي. څومره چې د يو هېواد لېږد زياتېږي، په هماغه اندازه هغه هېواد مخ پر وړاندې ځي.

همدارنګه کله چې زموږ يو هېوادوال وغواړي چې د هېواد نه بهر يو څه ولېږي، هغه نشي کولی چې د هغه هېواد د کوم وګړي يا بانک نه نغدې پيسې واخلي، نو دلته په هېواد کې دننه هر اسلامي بانک کولی شي چې د هغه هېواد وګړي يا بانک نه پيسې واخلي او د خپل فيس اخيستلو په بدل کې يې زموږ هېوادوال ته ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا په شريعت کې حلال کار دی. همداراز که يو کس وغواړي چې بل هېواد ته توکي ولېږي او ددې کار پوره وړتيا هم ولري، خو د اخېستلو او لېږلو وس يې نه لري او مالي مرستې ته اړتيا ولري، نو هر اسلامي بانک ورسره شريکېدی شي. نيمې پيسې بانک پر ځان مني او نيمې دا کس، په دې شراکت کې دوي ګټه او تاوان سره شريکوي يا هم مضاربه کوي. ټولې پيسې اسلامي بانک ورکوي او دا کس خپل مسلکيتوب، وړتيا او زحمت په کار اچوي. د يادونې وړ ده که چېرې مال اخېستونکی داسې مال اخلي چې د واردونکي د غوښتنې سره توپير لري، نو دې برخه کې د قرارداد پر مهال بانک کولی شي چې مال اخېستونکي سره شرط کېږدي. که چېرته د واردونکي د غوښتنې او د توکو د ځانګړتياوو خلاف توکي واخېستل شي او اخېستونکی يې قبول نکړي، نو تاوان به يې پر مال اخېستونکي وي.

بله لار د مرابحې ده، توکي د صادرونکي په ټاکنه او د دې شخص په مسلکيتوب بانک اخلي. بيه يې هم بانک پرې کوي. صادرونکي باندې يې د دواړو موافقې په اساس د يو څه ګټې په بدل کې پلورې. لېږدونکی مال پېرېدونکي ته لېږدوي او بانک ترې په ټاکلې موده، کله چې لېږدونکي سره پېرودونکي د پېسو د ورکړې وعده کړې وي، د ګټې سره بانک ته بېرته ورکوي. د دې کار سره يو د هېواد څخه صادرات زياتېږي او بل دا چې مال لېږدونکی او بانک حلاله ګټه ترلاسه کوي. نړيواله سوداګرۍ کې واردولو (راوړلو) لپاره د بانک څخه اعتبار ليک (Letter of Credit) اخېستل اړين دي. اسلامي بانکونه کولی شي د فيس په بدل کې دا سند جوړ کړي. شرط يې دا دی چې سند اخېستونکی بايد بانک کې د غوښتنې په ارزښت پيسې ولري. دا هم د اسلام سره په ټکر کې نه ده. که چېرته اعتبار ليک اخېستونکي سره بانک کې پيسې کمې وي او اعتبار ليک يې د ډېر ارزښت پکار وي، نو کولی شي د بانک سره د مرابحې، مضاربې او داسې نورو تعاملونو په اساس وړاندې لاړ شي.

د افغانستان په کچه چې تر اوسه د کرنيزې پرمختيا صندوق کوم فعاليتونه ترسره کړي، د اسلامي بانکولۍ اصولو ته په کې ځانګړې پاملرنه شوې. د کرنيزې پرمختيا صندوق باور دا دی چې اسلامي اصولو پرېښودلو او يا هم ماتولو کې بايد جوړ جاړی ونشي. د دې ترڅنګ بل اصل د ملي ګټو دی. د کرنيزې پرمختيا صندوق ټول غړي دې اصل ته ژمن دي. که صندوق ته په ځينو پروژو کې ګټه کمه هم ورسي، صندوق ملي ګټې غوره بولي. موږ بايد داسې پروژو کې پانګه اچونه وکړو چې زمونږ وګړي او اقتصاد په خپلو پښو ودروي. چې دې کار ته صندوق ژمن دی. د خصوصي بانکونو پرتله د کرنيزې پرمختيا صندوق ډېرې لاسته راوړنې لري، د مثال په ډول صندوق يواځې خپله ګټه پام کې نه ده نيولې، بلکې د خلکو اقتصاد او انساني ژوند جوړونه يې هم پام کې نيولې ده. صندوق په ډېرو اسانو شرايطو پورونه ورکوي او د پورونو په بېرته اخېستو که له پوره انعطاف نه کار اخلي. د کرنيزې پرمختيا صندوق تل هڅه کړې پور ورو ته د طبيعي آفتونو له امله د پېښو تاوانونو پر مهال هغوي ته د پور د راستنولو موده وغځوي او د وس سره سم لازمې مرستې وکړي. دا کار په سودي بانکولۍ کې شتون نه لري.

## د منني پيغام

د کرنيزې پرمختيا صندوق مشرتابه له استاد قريب الرحمن "لبيب" او د کرنيزې پرمختيا صندوق د شرعي بورد غړي د زړه له کومې مننه کوي چې دغې مرکې ته يې وخت ورکړی او د پرمختګ خپرونې لوستونکو سره يې د اسلامي بانکولۍ په اړه ارزښتناک مالومات شريک کړي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بازار (مارکېټ) په اړه مالومات

پوهنوال محمد طيب

د بازار يا مارکېټ په اړه مالومات هغه دي چې په رڼا کې يې توليد کوونکي، سوداګر او پروسس کوونکي خپلې مربوطه چارې تنظيموي. دغه مالومات د محصول د حجم، اندازې، وراندي کولو، توليدي فارم موقعيت او همدا ډول د مصرف کوونکو د غوښتنې په اړه توليد کوونکو او عمده پلورونکو ته لارښوونه کوي.

## د مالوماتو سرچينې

### ۱. حکومتي سرچينې :

الف:حکومتي سرچينې توليد کوونکو ته د ګټور محصول کرلو، د نرخونو او ددې لپاره چې څه وخت څه توليد کړي، مالومات برابروي.

ب: توليدکوونکو ته د څو کلونو مالومات برابروي، مګر کوچنې او د کم وس توليد کوونکي ورڅخه ګټه نشي اخېستی.

ج. دا مالومات ډېر دقيق نه وي.

د. د نرخونو په اړه لږ مالومات وراندې کوي.

### ۲. سوداګر

الف: سوداګرو سره د بازار په اړه ډېر نوي مالومات موجود وي چې توليد کوونکو څخه توکي په ارزانه بيه پېري.

### ۳. نور بزګران

ب: د سيمه ايزو بازارونو د مالوماتو په اړه مهمې سرچينې ګڼل کېږي، مګر د بيو په اړه ورسره دقيق مالومات نشته.

ج: د نرخونو په اړه يوه اندازه مبالغه کوي. يانې دقيقې بيې ويلو څخه ځان ساتي.

### ۴. نورې سرچينې

الف: د بازار د نرخونو بورډ

ب: د ترويج کارکوونکي

ج: د کرنيزو محصولاتو د پروسس فابريکې د دقيقو مالوماتو په لرلو سره توليد کوونکي دا ګټې ترلاسه کوي:

۱. د بازار په اړه تاوانونه کموي.

۲. توليد کوونکي ته لار ښايي چې چېرې خپل محصول خرڅ کړي.

۳. بازار کې ثبت شوې، د توکو بيې ورښايي.

۴. توليد کوونکي ته ورښايي چې خپل توکي سپما کړي که نه.

۵. توليد کوونکي ته ورښايي چې د فصل نه وراندې توکي توليد کړي که نه.

۶. توليد کوونکو ته د مالوماتو په بنسټ حکم کوي، چې بېلابېل محصولات وکري که نه.

### توليد کوونکي خپل محصول چېرته خرڅ کړي؟

توليد کوونکي ته ډېره مهمه ده چې خپل محصول هغه ځای کې خرڅ کړي چې بهتره زمينه يې برابره وي. ځينو وختونو کې د توليد کوونکي لپاره د دې موضوع په اړه د ټاکنې حق شته چې د خپلو توکو د خرڅولو د ځای په اړه تصميم ونيسي. پدې مانا چې هغوی کولی شي تصميم ونيسي چې خپل محصول باغ، سيمه ايز بازار، عمومي منديې، پرچون پلورونکو، لويو مغازو او يا هم د پروسس په فابريکو چې قرارداد ورسره لري، وپلوري. همدارنګه کولی شي چې نېغ په نېغه يې په ښاري مصرف کوونکو باندې وپلوري.

### د بازار د مالوماتو په اړه د اړتيا درک کول:

د بازار په اړه مالومات د توليد کوونکو، سوداګرو او مصرف کوونکو لپاره ډېر اړين دي.

- **د توليد کوونکو اړتيا:**

د بازار په اړه مالومات د توليدکوونکو سره مرسته کوي چې خپل محصول څه وخت ترلاسه کړي او کوم وخت يې بازار ته تيار کړي.

- **عمده پلورونکي:** د بازار په اړه مالومات د دوی سره مرسته کوي چې د مصرف کوونکو غوښتنې پر مخ بوځي او توليدکوونکي خپلو توليدي پلانونو ته د اړتيا په اساس وده ورکوي.

همدارنګه د مارکېټ په اړه مالومات د بازار خطرونه کموي او هغوی سره مرسته کوي چې په کمو لګښتونو مستهلک او توليد کوونکي ښه ګټه ترلاسه کړي.

- **حکومت ته اړتيا:**

د توکو د وراندې کولو، د بيو مؤثر ثبات، د توليد د اندازې دقيق تخمين، د ګودامونو ظرفيت او سپما (څومره سپماوې په کې موجودې دي) او نړيوالو بازارونو ته د توکو وراندې کولو لپاره د حکومت مالوماتو ته ډېره اړتيا ده.

همدارنګه د توليد او محصول په اړه ضعيف او غير دقيق مالومات او ارقام د توکو د پلورلو جريان، د مازاد او کسر ترمنځ توپير او سوداګريزې چارې رکود سره مخ کوي.

- **مربوطه کسانو ته د بازار په اړه د مالوماتو تيارول:**

د بازار په اړه مالومات په بېلا بېلو وسايلو اړوند کسانو ته تيارېږي. هغو ځايونو کې چې راډيو او تلويزيون موجود وي، د بيوو د تغير په اړه مالومات کم وخت کې تيارېږي. په ځينو هېوادونو کې د بازار موندنې د مالوماتو په اړه ښه او په دقيق ډول خدمتونه سرته رسېږي. مګر ځينو ځايونو کې د دې کار سرته رسول اسانه نه وي.

- **غير دولتي موسسې**

غير دولتي اداري زيات وخت د بازار موندنې په فعاليت کې شامل لوري دي. اګر چې دغه موسسې د يو شمېر محدودو بزګرانو لپاره د بازار مالوماتو په اړه فعاليتونو کې ونده اخلي. ځينې وخت دا اداري يا موسسې د حاصل د توليد په اړه بزګران هڅوي، مګر د بازار د بيوو په اړه کومه پاملرنه نه لري، چې بزګرانو خپل توکي په کومو بيوو پلورلي.

- **د کرنيزو محصولاتو پروسس کوونکي:**

هغه توليد کوونکي چې خپل توکي په مارکېټ کې نه پلوري او پروسس کوونکو باندې يې پلوري. پروسس کوونکي هم د خپلو بيــو په اړه چې په کومه بيه توکي پېري، مالومات وراندې کوي.

۱. **سوداګر:** کله چې توليد کوونکي خپل توکي د هوکړه ليک په اساس د سوداګر استازي ته سپاري، نو دوی لپاره استازي او يا هم سوداګر د مالوماتو اساسي سرچينه ګڼل کېږي. دا مالومات ډېر تازه او نوي وي. هغه مالومات چې د ښاري بازارونو لپاره سيمه ايزو سوداګرو ته برابرېږي، د تازه والي او دقت له پلوه د نورو خدمتي سرچينو په پرتله مطمين وي. ښکاره خبره ده چې سوداګر غواړي ډېره ګټه وکړي. دا ګټه د توکو له درکه ورځي چې ارزانه يې را نيسي او بيا يې په لوړه بيه پلوري.

۲. **بزګران:** بزګران هم د بازار مالوماتو په اړه له ارزښت ډکه سرچينه ګڼل کېږي. خو په ځانګړي ډول د سيمه ايزو بازارونو په اړه ورسره دقيق مالومات نشته چې سوداګر باندې يې وپلوري. دوی همداراز نه پوهېږي چې خپل توکي په څو وپلوري؟

- **د ترويج مالومات:** اساساً د ترويج کارکوونکي د بازار مالوماتو په اړه چې کروندګرو ته يې وراندې کوي، د ډاډ او د باور سرچينه بلل کېږي. د ترويج ښه مامور هغه کس دی، چې سيمه ايز پېربدونکي چې بېلابېل توکي پېري، تشخيص کړي او خبر وي چې توکي دوی په څو پېري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کب پالنه که د باثباته عاید کاروبار

ډاکټر ایمل ارمان

د کبانو روزنه او پالنه په ملي او فردي اقتصاد کې ستر ارزښت لري. نن د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې د کبانو پالنې او خرڅلاو ځکه په پراخه اندازه ګټه اخېستل کېږي. د کبانو ځکه په کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ کې کار اخېستل کېږي. سربېره پر دې چې کب د غوښــې یوه غوره سرچینه ده، د کبانو روزنه او پالنه زموږ کرګرانو بزګرانو ته د عاید باثباته کاروبار او د هغوی کورنیو ته یوه ښه خوراکي سرچینه هم په لاس ورکوي.

افغانستان کې کبان په خاورینو ډنډونو، سیندونو، جهېلونو او د اوبو په نورو زېرمو کې په طبیعي او یا مصنوعي ډول ساتل کېږي. د افغانستان دولت او بهرنیو خیریه موسسو هڅه کړې، تر څو هغو سیمو کې چې د کب پالنې لپاره مناسبې دي په خاورینو ډنډونو کې سوداګریز کب پالنځایونه جوړ او د کب تولید ته پراختیا ورکړي.

د کبانو فرعي سکټور کې د فني او مسلکي پرسونل کموالی، په محلي ژبو د درسي موادو، د علمي او مسلکي خپرونو، د کبانو امراضو تشخیصي کلینک او د کب پالنې نویو او عصري وسایلو نشتوالی، د کبانو د بچورو د تولید ځایونو او د سرکونو خرابوالی او داسې نورو فکټورونو له امله وروسته پاتې دی.

د کرنې وزارت راپور پر بنسټ اوس مهال د کبانو سکټور د بل هر وخت په پرتله ډېر غوړېدلی، خو اوس هم د هېواد زیاتره بازارونه پاکستاني بې کیفیته کبانو نیولي دي. اوس مهال د کال لس زره میټریک ټنه کبان په قندهار، هلمند، کنړ، ارزګان، ننګرهار، لغمان، بلخ، بامیان، کابل او نیمروز ولایتونو کې په خاورینو ډنډونو کې تولیدېږي. هېواد کې د کبانو لپاره ور هغه ځایونه دي چې د کال په اوږدو کې پکې تازه اوبه موجودې وي او خاوره یې هم ور وي.

اوس مهال د قرغې کبانو فارم د هېواد په کچه د لویو فارمونو څخه شمېرل کېږي. د افغانستان کرنې وزارت پلان لري چې ورته فارمونه په بلخ، ننګرهار او بامیان ولایتونو کې جوړ کړي. د کرنیزې پرمختیا صندوق هم هغه بزګرانو ته لنډ مهاله او اوږد مهاله پورونه ورکوي

چې د کاروبار په موخه کب پالنه کوي.

د کب غوښې ارزښت په قرآن عظیم الشان کې هم ذکر شوی دی او د کب غوښه تازه غوښه ګڼل شوې ده. تازه بیولوژیکي پلټنو ښودلې چې د کب غوښه د زړه ناروغیو لپاره ښه درمل او درملنه ده. دا ځکه چې د کب په غوښه کې کولیسټرول او د هغې بقایاوې په کمه پیمانه وجود لري. د کب په غوښه کې تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د انسانانو په هاضمي سیستم کې په ډېره اسانۍ هضمېږي. هغه خلک چې په اونۍ کې دوه یا درې ځلې د کب غوښه خوري د زړه ناروغیو څخه په امن کې پاتې کېږي. د امریکا د زړه ډاکټرانو ټولنې له خوا (دزړه د حملې د خطر کمول) په نامه په یو خپور شوي کتاب کې راغلي دي، چې د زړه ناروغیو د خطر کمولو لپاره اړینه ده چې د کب سپینه غوښه د انسانانو په خوراکي رژیم کې د یوه بنسټیز عنصر په ډول شامله شي. د زړه ناروغان باید سوډیم په پوره پاملرنې سره وکاروي او کلسیم ورته اړین دي او د کب غوښه کې سوډیم دومره په ځانګړي ډول نشته او د کلسیم څخه پوره ډکه ده. همدارنګه د کب په غوښه کې اوسپنه هم موجوده ده او د اوسپنې ارزښت په دې کې دی چې کله هم اوسپنه جذب شي او دوران ته دننه شي، نو بیا د همدې اوسپنې په وسیله تازه اکسیجن زړه ته ورننوځي، چې دا د زړه د ناروغانو لپاره یوه بله ګټه ده.

د کبانو غوښې پخولو کې باید له پوره پاملرنې څخه کار واخېستل شي. د بې کیفیته کبانو غوښه چې روغتیا ضد شرایطو کې ساتل شوې وي، باید پخه نشي. همدارنګه کبان باید په هغه غوړیو کې پاخه نشي چې مخکې ترینه ګټه اخېستل شوې وي او هر ځل پخلي لپاره باید تازه غوړي وکارول شي.

کب پالنه د هغو کسانو له پاره یو ښه فرصت دی، چې غواړي د لږو کسانو په کار ګمارلو نسبتاً یو کټور کاروبار پیل کړي. د یو کوچني ځمکوال له پاره چې غواړي د کب پالنې کاروبار پیل کړي د ځمکې اندازه یو جریب (۲۰۰۰ متر مربع) ده چې ډنډ پکې جوړ کړي. کبان له اومې میاشتې څخه وروسته پلورل کېدی شي، که

چېرې د اورې له پیل سره په کب پالنه پیل شوی وي. د کبانو د ډنډ معیاري مساحت ۲۰۰۰ متر مربع دی. یو جریب ډنډ ۱۵۰۰-۲۵۰۰ کیلوګرامه کب ورکولای شي. د پالنې په وخت کې له ښځینتن څخه کم وخت غواړي او ورځنۍ پاملرنه یې هم له یو تر یو نیم ساعت څخه زیات وخت ته اړتیا نه لري. یوازې د حاصل اخېستلو په وخت کې زیات کارکوونکي ورته په کار وي. د کبانو په دوهمې او پرله پسې حاصل ورکولو کې به خالصه ګټه ځکه زیاته وي چې د لومړي ځل په پرتله کمه پانګونه غواړي. په داسې حال کې چې د کبانو په ډنډ کې د لومړي ځل پانګونې اندازه نسبتاً لوړه ده. خو د غوره لارو چارو په خپلولو سره کېدی شي ښه حاصلات او دوامداره کاروبار رامینځته کړي.

د افغانستان تجارت او صنایعو خونې راپور په اساس افغان سوداګر هر کال د یو میلیون ډالرو په ارزښت کبان د سپین بولدک له لارې قندهار او د تورخم له لارې ننګرهار او نورو ولایتونو ته وړي.

افغانستان کې د کبانو غوښې اړتیا، د تولید په پرتله ډېره زیاته ده، نو په دې بنسټ ملي سوداګر مجبور دي چې د بازار د اړتیا پوره کولو په موخه له بهر څخه د اړتیا وړ کبان وارد کړي. د دې لپاره چې د هېوادوالو د کورنیو او تازه کبانو اړتیا پوره شي، نو د کب پالنې ډېرو ډنډونو جوړولو ته اړتیا ده.

له بهر څخه کبان د واورې ډک کارټنونو او بوجیو کې ځانګړو شرایطو لاندې راوړل کېږي. ډېرې وخت د اړتیا وړ شرایط د انتقال وخت کې په پام کې نه نیول کېږي او د کبانو د غوښې کیفیت له منځه ځي. تېر ژمی کابل ښار کې د یو کیلو یخچالي کبانو غوښې ارزښت د (۱۰۰-۳۵۰) افغانیو تر منځ وو او وطني کبانو غوښې ارزښت د (۳۰۰ - ۱۰۰۰) افغانیو تر منځ وو چې هېوادوالو ته یې رانیول ګران و.

له بهر څخه را لېږدول شوي کبان د ځايي کبانو په پرتله ارزانه دي. دا ځکه چې وارد شوي کبان تازه نه وي او زیاتې ورځې پرې وتې وي او د ناوړه بوي له امله یې خلک نه خوښوي. ځايي کبان د بازار د غوښتنې سره سم بازار ته تازه راوړل کېږي. له دې امله ډېرې خلک ځایي کبان له وارد شویو کبانو غوره ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# واکسین او معافیت

ډاکټر روزي خان صادق

مخکې له دې چې په اصلي موضوع بحث وشي لاندې اصطلاحات په دې برخه کې اړین دي.

**انتیژن: (The Antigen)**

د مکروب هره جوړونکې برخه چې په کوربه حیوان کې د انتي باډي د تولید سبب شي د انتیژن په نوم یادیږي.

**انتي باډي: (The Antibody)**

هر ژوندی اورګانیزم چې اجنبي مواد له منځه وړي انتي باډي بلل کیږي. په ژوندیو حیواناتو کې ویروسونه او بکتریاوې د اجنبي موادو څخه عبارت دي، چې کوربه یې له منځه وړلو تکل لري.

**د واکسین کولو موخې :**

**(The Purpose of Vaccination)**

چرګانو ته د واکسین کولو موخه د معافیت په تحریکولو سره ناروغۍ له منځه وړل دي. معافیت د انتي باډي، فعالو لمفوئید حجراتو یا مکروفاژونو جوړېدل دي.  معافیت د ناروغۍ څخه د جوړېدو وروسته  او یا هم د واکسین استعمال سره رامنځته کیږي. په عمومي ډول چرګوړي تر شپږمې اونۍ پورې د واکسینونو په وړاندې مکمل ځواب نه وایي. که څه هم چرګوړي په دولسمه ورځ د واکسین په وړاندې یوه اندازه ځواب وایي او د امبریو په مرحله کې معافیت تولیدوي. حتی په اته لسمه ورځ د in ovo، پواسطه معافیت تر لاسه کوي. د شرایطو په پام کې نیولو سره کله چې واکسین په سم ډول تطبیق شي، نو د ۳–۶ اونیو پورې معافیت ساتي.

د غوره پایلو پخاطر واکسین باید تر شپږمې اونۍ پورې وځنډول شي. کله چې چرګوړي د شپږو اونیو نه وړاندې واکسین شي، خصوصاً د دریمې اونۍ د مخه، نو بیا ځلې واکسین کولو ته اړتیا ده.

**معافیت ټیټوونکي: (Immunosuppression)**

ځیني ناروغۍ لکه Chicken Anemia Virus (Mycotoxins)، (Reoviruses)، (MDV)، (IBDV) او خوراکي نیمګړتیاوې په چرګانو کې معافیت ټیټوي.

**د واکسین ټایټر (The Titer of Vaccines):**

د واکسین ټایټر په یو واحد مقدار کې د واکسین د مړو یا ژوندیو ذراتو  شمېر څخه عبارت دي. لاندې ټکي باید پام کې ونیول شي:

- واکسین باید د جوړونکي کمپنۍ د هدایت مطابق استعمال شي.
- تاریخ تېري واکسین ونه کارول شي.
- د تودوخې په وړ درجه کې وساتل شي.
- کارول شوي واکسین له منځه یووړل شي.

**د واکسینونو تطبیقول**

**(Administration of Avian Vaccine):**

په چرګانو کې واکسینونه د اوبو، سترګې یا پزې، خوراکي، پیچکارۍ، سپری کولو، وزر لاندې او د هګۍ په دننه کې تطبیق کېدی شي.

کله چې چرګوړو ته د ۱–۷ ورځو عمر کې د ND، IB یا IBD  واکسین تطبیق کیږي، نو په دوهمه اونۍ کې بیا ځل واکسین اړین دي.

په اوبو کې د واکسینونو د تطبیق لپاره لاندې پاملرنې اړینې دي:

- د اوبو په لوښو کې باید ضد عفوني مواد نه وي. ځکه چې ۱ppm یا ځلورمه برخه لرونکي کلورین ، امونیم لرونکي مرکبات د واکسینونو ټایټر کم یا غیر فعال کولی شي. د واکسینو اوبه باید د عضوي موادو لکه فضله او خځلو نه خالي وي. زنګ وهلې اوسپنه د واکسین په ټایټر ناوړه تاثیر لري.
- ۱۹۰ لیترو اوبو کې ۵۰۰ ګرامه بې غوړو شیدې علاوه کیږي.
- هر چرګوړی باید یو دوز واکسین واخلي.
- د اوبو په Nipple سیستم کې باید د پایپ اوبه  خالي شي ځکه چې واکسین نه لري.
- د تنفسي ناروغیو واکسینونه باید د چرګ د فارنکس مکوزا کچه و وینځي، تر څو ځایي معافیت تولید کړي.

**د واکسینونو د ښه ترسره کېدو واقېعتونه او لارښونې**

**(Facts and Tips for Successful Vaccination):**

**واقېعتونه (Facts):**

- د واکسینونو مهال ویش یوازې یو لارښود دی او باید د اړتیا په پام کې نیولو سره ترتیب شي.
- د واکسین د غوره پایلو لپاره قوي حفظ الصحه او د چرګانو جلا ساتل اړین دي.
- واکسېنونه د لس ورځو څخه کم عمر کې متوازن او اوږد مهاله معافیت نه شي تولیدولی.
- تاریخ تېري واکسین باید استعمال نشي.
- هر واکسین د ځانګړي تطبیق لپاره جوړ شوي.
- په غټو چرګانو کې د ND او IB ژوندیو واکسینونو د مخلوط معافیت د ۲–۳ میاشتو پورې دوام کوي.
- که چېرې ساحه کې د Infectious Laryngotracheitis واقعات نه وي، نو په غوښینو چورګوړو کې د دې ناروغۍ ژوندي واکسین اړین نه دي.

لارښووني (Tips)

- واکسین باید په ډاډمن ډول سره تطبیق شي.
- کله چې د اوبو له لارې واکسین تطبیق کیږي، ځان ډاډمن کړئ چې اوبه له پاکونکو کیمیاوي موادو څخه پاکې دي. ځکه چې ژوندي واکسین د دې موادو پواسطه له منځه ځي. پوډرې بې غوړو شیدې د ژوندي واکسینونو په مهال باید وکارول شي.
- اکثره ژوندي واکسینونه ناروغۍ منځته راوړي. په احتیاط سره باید وکارول شي.
- د واکسین کولو وروسته ټول خالي بوتلونه ضد عفوني یا وسوځول شي.
- چرګان د واکسین د تطبیق څخه مخکې او وروسته وېټامېنونو او الیکترولایتونو ته اړتیا لري.
- که چېرې د واکسین تاثیر د ۷–۱۰ ورځو وروسته دوام وکړي، نو د اوبو له لارې دې درمل وکارول شي.

**معافیت ټیټوونکي (Immunosuppression):**

هغه موارد چې معافیت ټیټوي عبارت دي له:

- ګمبورو ناروغي (IBD)
- مایکوټاکسین (Mycotoxins)
- مایکو پلازما (MD)
- Mycoplasma Meleagridis

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نور لاملونه:**

د Reoviruses او Adenoviruses عفونتونه CAV, Bordetella Avium دوامداره لوړه تودوخه، لوږه، د ویټامین C، E او ځانګړو امینو اسیدونو کمښت هم معافیت ټیټوي.

### معافیت تحریکول (Immunostimulation):

### ویټامین یي (Vitamin E):

د چرګوړو په غذا کې د لومړۍ ورځې څخه تر پنځمې اونۍ پورې د 150ppm ویټامین یې علاوه کېدو ښودلې چې د ND په وړاندې معافیت لوړوي.

د مکروفاژ فعالونکي فکتور لکه د وچې پلازما سپرې کول او د هګۍ د زېړو انتي باډي ګانې.

### فشار او د ناروغۍ په وړاندې مقاومت (Stress and Resistance to Disease) :

د فشار په وړاندې غوره کړنلارې په لاندې ډول دي:

سترس باید د امکان تر حده کم کړی شي. تر ټولو موثره لارو څخه یوه هم د چرګانو د فارم تیاره کول دي. چرګان په مکمله تیاره کې روزل کېدی شي. په تیاره کورونو کې د چرګانو فعالیت لږ وي او زیاتې سرچینې یې د ودې لپاره شتون لري. چرګانو کې د کورتیکوستیرون لږې اندازې د ویروسي او مایکوپلازمائي ناروغیو په وړاندې مقاومت لوړوي او د واکسین تاثیر لا زیاتوي.

د چرګانو په تولید کې روښنایي یوه نوې ساحه ده. په غوښینو چرګوړو کې د روښنایي او خوراک وختونو بدلول د عمر په لومړیو کې وده اوج ته رسوي چې په همدې مهال ورسره د خوراک مصرف او د پښو ستونزه کمیږي. همدارنګه د خوراک بدلېدل په غوښه غوره تاثیر لري او د کانابولیزم او ټونګي وهلو واقعات کمیږي. غوښینو چرګوړو ته په لومړیو دوه اونیو کې روښنایي کمیږي چې وروسته په دوه راتلونکو اونیو کې بېرته زیاتیږي. په هغې موسم کې چې رڼا زیاتیږي، په تیاره کورونو کې د ورځې په اته ساعته رڼا کې چرګوړي روزل کیږي، همدارنګه چرګان په تولید راوړي چې په پابله کې د هګیو تولید د ډېر وخت لپاره په اوج کې پاتې کیږي.



# آیا پوهیدئ ؟

- د نړۍ تر ټولو ستره کارموندنه د کرنې په برخه کې ده چې د نړۍ ۴۰ سلنه وګړي په کرنه کې په کار بوخت دي.
- یوازې د امریکا متحده ایالاتو کې ۹۱۴ میلیونه جریبه ځمکه کې کرکیله کیږي؟
- په ټوله نړۍ کې ۱۲۰۰ ډوله هندوانې شته؟
- شات هېڅکله نه خرابیږي؟
- په نړۍ کې تر ټولو زیاته کرکیله د چین هیواد کې کیږي؟
- په نړۍ کې ۳،۰۰۰ ډوله ناک موجود دي؟
- بادرنګ د لومړي ځل لپاره په هند کې کرل شوي؟
- یوه چرګه / چرګ کولای شي چې یو ساعت کې ۹ مایله پورې قدم ووهي او یوه چرګه ۲۴ تر ۲۶ ساعتونو کې هګۍ اچوي؟
- تراکتور د لومړي ځل لپاره په کال ۱۸۹۲م په امریکا کې د جان فرویلیچ لخوا اختراع شوی؟
- د انسان زړه د ورځې یولک ځلې ضربان لري، چې ۱۴۰۰۰ لېتره وینه پمپ کوي.
- یوه توته وچه ډوډۍ کې دومره انرژي شته، که یو کس د لس دقیقو لپاره منده ووهي، نو یوه توته ډوډۍ یې انرژي پوره کولی شي.
- ابي نهنګ اوږد ترین تی لرونکی ژوی دی، چې ۱۸۰ ټنه وزن لري، سل فوټه اوږدوالي سره د ورځې ۴،۵ ټنه خوراک کوي.
- ځینې سمندري ژوي او بوټي په منفي ۱۰ درجې سانتي ګرېډ حرارت کې فعاله پاتې کېدی شي او خپلو چارو ته دوام ورکولی شي.
- یو شمېر محدود ژوي د ګرمو چینو په ۵۰ درجې سانتي ګرېډ حرارت کې ژوند کولی شي.
- ځینې الجیان په ډېرو ګرمو اوبو کې تر ۸۰ درجو سانتي ګرېډ پورې ژوند کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلبڼ

## ناقرار قلم

ډاکټر ایمل ارمان

کلونه کېږي ته د دې خاورې ماتم ته ګوره
سر دې کړه پورته ته زما د زړګي غم ته ګوره
آهونه خېژي د زړه سره هیڅ قرار نلرم
لوګي چې خېژی له هر چمه دې ستم ته ګوره
د زړه بلبل مې مرور دی زوړ بوستان نه ښکاري
پرې نه رغېږي نن هم هغه زوړ ملهم ته ګوره
ښکلي وطن باندې روښانه د رڼا ډیوې وې
تیارې خورې دي هرې خواته نن مو چم ته ګوره
د وطن پیغلې مو په بل وطن کې خوارې ګرځي
یتیم ژړېږي ناقرار، په زړه یې غم ته ګوره
سخته سیلۍ پرې لګېدلې هیڅ آرام نه لري
اوښکې بهېږي د (ارمان) د سترګو نم ته ګوره

## ځلوریزه

سالک قصبه وال

د زړه اورونـه مـوږ د اوښـکو پـه بـاران وژنـو
د اند په تېغ بانـدې رقیـب د خپل جـانان وژنو

د جانان مینه مې چې زړه کې په نخاوو، سر شي
خـود به دې کلـي کـې د خـپل کلـي بوتان وژنو

## نان گندم

الهه عارف

از میان پیله های سادگی جُم می خوریم
خوشه ی گندم نچیده نان گندم می خوریم
چشم ما از دشمن خونیمان می ترسد و
از زبان دوست هامان نیش گژدم می خوریم
خوردنی های های هزاران رنگ اما قانعیم
ما هنوز این روزها گول تبسم می خوریم
حرص مستی چشم ما را کور کرده ساقیا
با پیاله گر چه مدهوشیم با خُم می خوریم
وای بر نامردمان که حق ما را خورده اند!
ما زرنگ و حق خود از جیب مردم می خوریم

## غـــزل

محمد نادر دانش

مرغکـۍ مې د زړګـي رنځـوره ښه ده
زندګـي تر یـوه حـد مجبوره ښـه ده
قلم ښه دی، کتاب ښه دی، په لاسو کې
خو تـر دې هم کلـه کلـه توره ښـه ده
د هېـواد میـنه مـې ورولـــي غـزا تـه
خـوږه یـاره! تر تا کـله حـوره ښـه ده
که د خپـل وجـود بقـا غـواړئ ملګرو !
دښمنـانو بانـدې مـور تـل بوره ښه ده
د وطن عشـقه! نشـې ته دې حیران یم
چې څو چنـده له وراسته انګوره ښه ده
سترګې ژاړي، نه چې اوښکې یې کړي ورانه
ستا ښکـلا مـې پـه زړګـي انځوره ښه ده
دانـش لار د یـار په سـترګو باندې ګوري
دا رڼـا تـر بلـه هـره نـوره ښـه ده

## مـــرد افغـان ام نگهبان وطن

اناهیتا محبوب

جـان فدا سـازم بنام مردم ام
دوست دام سنگ آستان خودم

هر طرف شهرم پر از سیم زراست
کوه دشـتم کان هاي گوهر است

یاد کرد تـاریخ زاجـداد ام بلند
هر کجـا هسـتم زینیـادم بلند

افتخـارم اسـت مـردان وطن
غـازیان هـم شهیـدان وطن

خـاک افغـانم بگـو افغانستان
(محبوب) ام از نام خود دراستان

## ځلوریزه

شفیع الله بابرزی

سکندره هغه زوړ سرې دې هېر شو؟
چې کیږدۍ یې ستا له ښاره قیمتي وه!

چې غرور یې ستا د لمر په رڼا غوځ
ستا له تاج نه یې هنداره قیمتي وه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرچو مربا

### خربزه های فتح...

روزی فتح سوار بس شهری شد و روان خانه بود. درحالیکه زیاد ازدحام و بیروبار بود و حتی راکبین به شکل چسپیده به هم ایستاد بودند و به مشکل نفس میکشیدند ، فتح در بین سرویس ایستاده بود و بی اعتنا به دیگران ، مانند فاتحین جنگ دستایش را به کمر گرفته بود و جای یک نفر دیگر را نیز بند انداخته بود. یک نفر صدا کرد: او بیادر! خوب می بینی که سرویس چقدر بیروبار است، چرا ایطور دست به کمر ایستاد شدی؟ یک کمی خوده جمع و جور کو درست ایستاد شو که دیگرا هم صحیح جای شون و راحت باشن. فتح با وارخطایی زیر بغلش کرد و با تعجب پرسید: اوهو! خی خربزه هایم کجا اس؟ خربزه هایمه کی از زیر بغلم دزدی کده؟

### دانه مرغ ها...

شخصی به فارم مرغداری رفت که ببیند صاحب فارم به مرغ ها چی غذا میدهد. از صاحب فارم پرسید که به مرغها چی میدهی؟ صاحب فارم گفت، دانه گندم. شخص به صاحب فارم گفت: که او مامور زراعت منطقه است، و شخص را ۵۰۰ افغانی جریمه کرد و گفت در حالیکه مردم از گرسنگی میمیرد و قیمت گندم به اندازه کافی بلند است، وی حق ندارد در چنین حالت به مرغ هایش گندم دهد. صاحب فارم در حالیکه جریمه را پرداخته بود، از بابت جریمه پریشان شد. روز بعد، مامور زراعت دوباره آمد و عین سوال را پرسید. صاحب فارم که بخاطر جواب دیروز جریمه پرداخته بود، جواب را تغییر داد و گفت به مرغهایش جواری میدهد. مامور زراعت بار دیگر اورا جریمه کرد و گفت، در چنین قیمتی حق ندارد به مرغهایش جواری بدهد. بلاخره، مامور زراعت به روز سوم دوباره آمد و سوال کرد. صاحب فارم دیگر نمیخواست جریمه شود و در جواب مامور زراعت گفت: به مرغهایم پول میدهم هرچه که خوردن.

### زبان مرکب...

مردی در یک قریه زندگی میکرد و یک مرکب داشت. مردم قریه وقت و ناوقت ازو میخواست که مرکب اش را برای آنان قرض بدهد. این مرد ازین وضعیت به ستوه آمد. روزی همسایه اش آمد و گفت مرکب را برایم قرض بده تا بازار قریه میروم. مرد که نمیخواست مرکب اش را بدهد، گفت مرکب ام در خانه نیست. در همین وقت مرکب در داخل خانه صدا زد. همسایه اش گفت، او برادر مرکب ات د خانه است چرا دروغ میگی؟ مرد جواب داد، شرم باد بر تو، به گپ مرکب باور میکنی، به گپ مه باور نمیکنی؟

### بزګر او شوخ کوچنیان...

په یو کلي کې یو بزګر د هندوانو پالېز درلود. دده پالېز په هغه لار وو چې د کلي ماشومان به ښوونځی ته تلل او راتلل. ماشومانو به د تګ او راتګ پر مهال پالېز ته ورتلل او هندوانې به یې پټولې. بزګر چې به ترخو وارسېدو، نو ماشومان به تښتېدل. یوه ورځ بزګر فکر وکړ چې داسې کار باید وکړي چې دده په نشتون کې هم ماشومان پالېز ته ورنشي، نو په یوه لوحه یې ولیکل "په دغه پالېز کې یوه هندوانه زهري مواد لري". ماشومان چې کله راغلل او لوحه یې ولوستله، نو ماشومان بېرته لاړل او یوه بله لوحه یې جوړه کړه او د بزګر د لوحې ترڅنګ یې کېښوده، چې پرې لیکلي وو "دغه پالېز دوه دانې زهري هندوانې لري"

### د کرنې زده کړیال:

یو زده کوونکي چې د کرنې برخه کې یې زده کړې کولې، یوه ورځ یو بڼ ته ولاړ او غوښتل یې چې باغوان په دې پوه کړي چې دي تر باغوان زیات پوهېږي. باغوان ته یې وویل: ستا د کرکیلي دول ډېر پخوانی دی. زه فکر نه کوم دغه ونه (یوې ونې ته یې اشاره وکړه) د دوه منه څخه زیاتې منې ورکړي. باغوان چې یو زیرک سړی وو ورته یې وویل: زویه! دا د نارنج ونه ده.

### مفته ډوډی...

یوه سړي هوټل درلود او په دې هوټل کې یې ډول ډول خواړه پخول او پر مېلمنو یې خرڅول. دننه په هوټل کې یې لیکلي وه هر څومره خواړه چې وخورئ پېسې یې ستاسې لمسیان، کړوسیان او کوډیان ورکوي. په دې وخت کې یو مېلمه راغی ناڅاپه یې سترګې پر هغه لیکنه باندې ونښتې. د هوټل څښتن څخه یې پوښتنه وکړه: "دا رښتیا ده چې پېسې یې زما لمسیان، کړوسیان او کوډیان ورکوي؟ " هوټل والا ځواب ورکړ: هو! مېلمه په ډاډه زړه په خوړلو پیل وکړ او څومره یې چې له وسې پوره وه هغومره ډوډۍ یې وخوړه، نو کله چې د هوټل څخه ووت، پېسې یې ورنکړې او هوټل والا ته یې وویل چې د خدای په امان. د هوټل والا ورته وویل چې پېسې راکړه! سړي وویل: پر هغه تخته دې څه لیکلي دي؟ هوټل والا ورته وویل: هغه رښتیا دي، هغه چې ستا نیکه خوړلي دي، ته یې لمسی یې، نو د هغه پېسې راکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الوګانو بزګران څنګه بریا ته ورسول؟

**د بریا کیسه:**

تاسي به ډېر ځل اورېدلي وي چې یوه بزګر د ډېرو هڅو پر بنسټ یو بریالی فصل ترلاسه کړ. لاندینۍ د بریا هغه کیسه ده چې د افغانستان بامیانو ولایت کې بزګرانو د کرنیزې پرمختیا صندوق په مالي مرسته وکولای شول خپل ژوند له هوساینې او خوشحالۍ ډک کړي.

**الوګان کله افغانستان ته راوړل شول؟**

الوګان د سپینو زرو او د ځمکې د منې په نوم هم یادېږي. د یویشتمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې د ملګرو ملتونو د احصایې له مخې یو کس په کال کې په منځنۍ ډول ۳۳ کیلو ګرامه الوګان مصرفوي. چې دا له غنمو، وریجو او جوارو وروسته ځلورمه پوره انرژي لرونکي او عام خوراک دی، چې خلک یې د خوراک لپاره کاروي.

د امیر دوست محمد خان یو ورور نواب جبار خان نومېده. په ۱۹مه پېړۍ کې نواب جبار خان د لومړي ځل لپاره د الوګانو تخم له انګریزانو واخیست او افغانستان ته یې د کرکیلي لپاره راوړ او ویې کرلو.

د کرنیزې پرمختیا صندوق هغه اداره ده چې بزګرانو ته په اسانه شرایطو د دوي د کرنیزو چارو پرمختګ لپاره پورونه ورکوي. په ۲۰۱۱ میلادي کال پسرلي کې د بامیانو ولایت اوو کوپراتیفونو ۴۳۸ بزګرانو د کرنیزې پرمختیا صندوق څخه د خپلو کرنیزو چارو د پرمختیا په موخه پورونه ترلاسه کړل.

د الوګانو کرکیله بامیانو کې اساسي او مهم کرنیز دود دی. خو د یادې کرکیلې حاصلات د دوو اساسي ستونزو له امله ډېر ټیټ وو.

(۱) د کیمیاوي سرو ټیټ کیفیت.

(۲) لوړه بیه او همدې ولایت کې د الوګانو د باکیفیته او معیاري تخمونو نه شتون.

دغو ستونزو د حل په موخه د کرنیزې پرمختیا صندوق اقدام وکړ او په دغه ولایت کې یې د باکیفیته سرې او د معیاري تخمونو د پېرلو لپاره د بامیانو کوپراتیفونو ملاتړ پیل کړ. د همدې لاري د کرنیزو توکو د لګښتونو په برخه کې د پام وړ بدلون راغی. د کرنیزې پرمختیا صندوق لخوا دغه اقدام په دې ولایت کې د کوپراتیفونو او بزګرانو د شمېر زیاتېدو لامل شو او ستایل شو.

نهه کاله کېږي چې د کرنیزې پرمختیا صندوق بامیانو کې د کرنیزو کوپراتیفونو ملاتړ کوي. له ۱۳۸۴ لېږدیز لمریز کال راهیسې له ۱۰۲ کوپراتیفونو زیات په مرکز او ۶ ولسوالیو کې ثبت او راجستر دي. سږ کال ۶۴ کوپراتیفونه چې ډېری یې د الوګانو کرکیله ترسره کوي، د یاد ولایت په مرکز، یکاولنګ، پنجاب او ورس ولسوالیو کې ۱,۶۷۴ نورو بزګرانو په ګډون د دې صندوق څخه د خپلو کرنیزو چارو د لانبه والي او پرمختیا لپاره پورونه ترلاسه کړل.

سږ کال د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ جلالتماب وزیر ښاغلي نصیر احمد دراني او د کرنیزې پرمختیا صندوق د پورونو څانګې مشر د یاد ولایت کوپراتیفونو لپاره۱۸۳,۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د پور ورکړه تائید کړه. تر دې دمه، له دې برخې د یاد ولایت کوپراتیفونو او بزګرانو ته۱۶۶,۹ میلیونه افغانۍ ویشل شوي دي. بامیانو ولایت کې د کرنیزې پرمختیا صندوق لخوا کوپراتیفونو او بزګرانو ته د پورونو ورکولو لړۍ د دې ولایت د والي ښاغلي محمد طاهر زهیر او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس ښاغلي انجنیر عبدالوهاب محمدي په ګډون د کرنیزو کوپراتیفونو او بزګرانو پر وړاندې د باکیفیته کیمیاوي سرو او د الوګانو تخمونو په ویشلو پیل شوه.

کرنیزو کوپراتیفونو او بزګرانو ته د باکیفیته کیمیاوي سرو او د الوګانو د معیاري تخمونو د ویشلو په جوړه شوې غونډه کې د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ جلالتماب وزیر، د بامیانو والي او د کرنې ریاست چارواکو، د کرنیزې پرمختیا صندوق چارې وستایلې او ویې ویل: دا خدمتونه د کروندګرو کورنۍ اقتصاد او د کرکیلې چارې پیاوړې کوي. هیله یې څرګنده کړه چې کروندګر به د کرنیزې پرمختیا





(c) ketabton.com: The Digital Library





صندوق له پورونو پوره ګټه پورته کړې او د یاد ولایت الوګانو تولید به په پراخه پیمانه زیاتېږي.
دوي زیاته کړه: د دې ولایت د الوګانو حاصلات به هېواد کې دننه او بهرنیو هېوادونو ته د بې مثاله صادراتو جوګه شي.

د دې ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس ښاغلي انجینر عبدالوهاب محمدي بیا وویل: دې ولایت کې د کرنیزو پورونو د پروګرام موخه د بامیانو ولایت د الوګانو د کرنې حاصلات زیاتول او بزګرانو ته د کرنې په ګټو پړاوونو کې د خپلو کرنیزو اړتیاوو پوره کول دي.

د کرنیزې پرمختیا صندوق ژمن دی، ترڅو بامیانو کې د کوپراتیفونو او بزګرانو د حاصلاتو د ښه کېدو لپاره خپلې مالي او تخنیکي مرستې لا چټکې او وغځوي، ترڅو بزګران راتلونکي کې لاښه خدمتونه ترلاسه کړي او د دې ولایت لوړ کیفیت لرونکي الوګان داخلي او بهرنیو بازارونو ته وړاندې کړي.

له ۱۳۴۰ لمریز کال راهیسې بامیانو ولایت کې الوګان په پخوانۍ دودیزه طریقه کرل کېدل چې د وخت په تېرېدو یې د کرنې ډول پرمختګ وکړ. اوسمهال یې د پرمختللې کرنې حالت غوره کړی دی. اوس هر کال بامیانو کې ۳۵۰ میټریک ټنو څخه زیات الوګان د بزګرانو د خوارېو له برکته لاسته راځي. دا د ټول افغانستان شپېته سلنه الوګان جوړوي. د هېواد ۹۰ سلنه خلک د بامیانو الوګان خوښوي او مصرفوي یې.

اوسمهال د هېواد د ولایتونو سربېره د منځنۍ اسیا هېوادونو ته هم د بامیانو الوګان لېږدول کېږي. دا چې د بامیانو الوګان په افغانستان کې تر ټولو ښه، باکیفیته او ډېر خوښېدونکي الوګان دي، خو بیا هم د بازار موندنې لپاره یې د پام وړ پاملرنه نده شوې. اوس هم د ګاونډیو هېوادونو الوګان بازار ته راوړل کېږي او همدا لامل دی چې د بامیانو الوګانو په بازار یې ۳۰ سلنه، منفي اغېز غورځولی دی.

دا مهال بامیانو کې د الوګانو د ساتنې لپاره له درې نیم زرو زیاتې سړې خونې جوړې شوي دي او هڅه کېږي چې دا شمېر لا زیات شي. هره سړه خونه له شلو نیولې تر پنځه ویشتو میټریک ټنو الوګانو د ساتنې وړتیا لري.

د بامیانو د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس وایي "خوشاله یو چې بامیانو کې د کرنیزې پرمختیا صندوق لخوا بزګرانو ته وخت په وخت په بېساري ډول پورونه ورکول کېږي چې د بامیانو د بزګرانو په کرنیز وضعیت کې یې د پام وړ بدلون راوستی دی."
نوموړی زیاتوي "د کرنیزې پرمختیا صندوق د بزګرانو او کرنیزو شرکتونو ترمنځ اړیکې ټینګې کړې چې له امله یې، سلګونو ټنو الوګانو ته د پلور زمینه برابره شوه." هغه زیاتوي " د کرنیزې پرمختیا صندوق نه هیله لرم چې دغه پروسه لاوغځوي او دې ولایت کې د کوپراتیفونو شمېر لا زیات کړي. له دې سره به د بزګرانو په ژوند کې مثبت بدلون راشي." دغې لړۍ یوازې د الوګانو حاصلات زیات نه کړل، بلکې په دغه ولایت کې یې د حرام کښت مخه هم ونیوله. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس وایي چې د کرنیزې پرمختیا صندوق د هڅو له امله بامیانو کې یوه بسوه ځمکه هم نه پیدا کېږي چې په کې حرام کښت شوی وي.

د بامیانو د کوپراتیفونو مدیر ښا وایي "مونږ او بزګران خوښ یو چې د کرنیزې پرمختیا صندوق د پورونو له برکته د پخوا پرتله اوس ډېر او ښه حاصل لرو. له همدې امله اوس مونږ باکیفیته سره او تخمونه لرو او د پیاوړي حاصل له برکته مونږ کولی شو چې راکړل شوي پورونه په خپل وخت پرته له کوم ځنډ او خنډ نه بېرته ورکړو."

د کتوایي کوپراتیف چې د کرنیزې پرمختیا صندوق نه یې پور ترلاسه کړی وایي: "مونږ د کرنیزې پرمختیا صندوق نه د زړه له تله مننه کوو چې وخت په وخت یې پور راکړی. له دې مخکې به د یو جریب نه مونږ له اووه سوو نیولې تر اته سوه منه پورې الوګان ترلاسه کول. اوس چې صندوق له مونږ سره د تخم او کیمیاوي سرو په برخه کې مرسته کړې، د یو جریب نه تر زر منه پورې حاصل ترلاسه کوو."

صبغت الله چې نږدې پنځه دېرش کاله عمر لري او د بامیانو ولایت د تاجک ولسوالۍ اوسېدونکی دی وایي: "څوک چې کوپراتیفونو کې شامل دي او د خپلو حاصلاتو د پیاوړتیا په موخه یې پورونه ترلاسه کړي، ښه او زیات حاصل یې ترلاسه کړی. مګر مونږ چې د کوپراتیف غړي نه یو، هم مو حاصل کم دی او هم یې کېفیت خراب دی. زمونږ کمزوری حاصل هیڅ بازار نلري.مجبوره یو خپل ترلاسه کړی حاصل په څارویو وخورو."

یو بل تن چې د بهسودو پُل کرنیز شرکت مشر دی، وایي "مونږ د کرنیزې پرمختیا صندوق پر مټ وکولی شول چې په اصلاح شوو تخمونو کار وکړو او هغه بزګرانو ته په خپل وخت ټول افغانستان کې پېسې او اصلاح شوي تخمونه ورکړو چې مونږ سره قرارداد لري."

یو بل ۵۵ کلن بزګر چې د غنمو درمند یې درلود، د کرنیزې پرمختیا صندوق د پورونو ارزښت په اړه وویل، "مخکې د شرکتونو سره په ستونزو کې راګېرول. مونږ ته یې په وخت پېسې او کرنیز امکانات نشو برابرولی. اوس چې د کرنیزې پرمختیا صندوق شرکتونو ته پورونه ورکړل، زمونږ ستونزې هم په خپل وخت حل کېږي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طرزالعمل حصول قرضه های تاخیری

پروفیسور محمد نعیم عظیمی

رعایت تمامی مواد قراردادها منعقده یک امر ضروری و الزامی میباشد. بدین مفهوم که بر مبنای قوانین نافذه کشور، محتوا و مواد قرارداد های منعقده فی مابین صندوق انکشاف زراعتی و مشتریان و هر کدام از طرفین مکلف اند تا تعهدات مندرجه موارد فوق را به نحو احسن و در زمان مشخص آن انجام دهند.

اما، در عمل گاهی اتفاق می افتد که برخی از این موارد توسط یکی از طرفین (اکثراً مقروضین) نقض شود. نقض مواد قرارداد از جمله چالش های است که گاهی صندوق انکشاف زراعتی به آن مواجه می گردد. این امر از یک جهت سبب متضرر شدن صندوق انکشاف زراعتی و از جانب دیگر ایجاد فاصله در کسب هدف که همانا رشد زراعت و زارعین در سطح کشور می باشد، را بیشتر می سازد.

عدم پرداخت قرضه به موقع و زمان معین آن و طبق تقسیم اوقات از پیش تعیین شده (این تقسیم اوقات باز پرداخت به اساس خواست مشتری قبل از انعقاد قرارداد ترتیب می گردد) از عمده ترین موارد فوق (نقض قرارداد) میباشد. صندوق انکشاف زراعتی به منظور حل این مشکل در عمل، از دو شیوه معیاری استفاده می نماید.

**الف: عدالت عُرفی (عدالت غیر رسمی):** در این رؤش صندوق انکشاف زراعتی کوشش می نماید تا با استفاده از رؤش های غیررسمی طبق مواد قوانین نافذه کشور (بطور مثال ماده ۱۷ قانون قضایای دولت که تاکید بر حل و فصل قضایا از طریق مصالحه و مذاکره دارد) موضوع را با استفاده از رؤش های ذیل حل و فصل نماید .

**۱. ارایه مشوره:** در این رؤش به مشتری در زمینه های مختلف به خاطر حل مشکل اش توسط تیم های تخصصی صندوق انکشاف زراعتی مشوره ارایه می گردد. البته قابل یادآوری است که این رؤش در تمام مراحل ( از زمان انعقاد تا ختم و بعد از قرارداد) به مشتری صورت می گیرد.

**۲. ملاقات با مشتری:** تیم های تخصصی مربوطه صندوق انکشاف زراعتی همواره کوشش می نمایند تا با مشتری ملاقات های منظم و وقفه ای داشته باشند. در این ملاقات ها تیم های تخصصی صندوق از کارکرد و امور تجاری مشتری نظارت نموده و مشکلات شان را یادآور میشوند. همچنان، راه حل های مختلفی را بمنظور حل مشکلات شان پیشنهاد می کنند.

**۳. برقراری تماس مداوم با مشتری از طریق تیلیفون و ایمیل:**

از آنجاییکه نظارت حضوری با مشتری همه روزه کاریست بسا مشکل، صندوق انکشاف زراعتی کوشش می نماید تا با مشتری از طریق تیلیفون و ایمیل نیز حل مشکل نماید.

**۴. ارایه فرصت و زمان برای مشتری:**

صندوق انکشاف زراعتی در حصول قرضه های خویش بسیار جدی میباشد. اما این به معنی محروم نمودن مشتری از فرصت فکر کردن و پیشنهاد دادن نیست. برعکس صندوق انکشاف زراعتی همواره به مشتری فرصت می دهد تا با فکر و پیشنهاد راه حل های جدید زمینه حل مشکل را از طریق پیشنهادات خود شان نیز ایجاد نماید .

**۵. ترتیب تقسیم اوقات کوتاه مدت و میان مدت برای قرضه باقی مانده:**

صندوق انکشاف زراعتی در برخی موارد سعی می نماید تا با در نظر داشت مشکلات ایجاد شده ناشی از موضوعات عوامل فشار و یا هم بحران های تجاری و اقتصادی که سبب صدمه به مشتری گردیده باشد، تقسیم اوقات جدید باز پرداخت را جهت پرداخت قرضه باقیمانده، طبق شرایط موجود به مشتری ترتیب دهد.

باوجود تقسیم اوقات جدید، اگر مشتری نتواند یا نخواهد قرضه خویش را پرداخت نماید، صندوق انکشاف زراعتی مجدداً کوشش می نماید، با فراهم نمودن یک فرصت دیگر به مشتری زمینه پرداخت قرضه را به شکل درست مهیا سازد.

مطابق به پالیسی عمومی صندوق انکشاف زراعتی، این مدت زمان عبارت از ۹۰ روز بوده تا مشتری حساب خویش را به شکل کامل تصفیه نماید. در جریان این زمان صندوق انکشاف زراعتی باز هم سعی می نماید تا با استفاده از شش رؤش قبلی و با ارسال اطلاعیه های کتبی طبق ماده ۲۵ قانون رهن اموال غیر منقول در معاملات بانکی مشتری را در جریان قرار دهد.

**۱. اطلاعیه اول:** در این اطلاعیه ضمن ذکر زمان تاخیر، میزان قرضه پرداخت شده، میزان قرضه باقیمانده و سایر تعهدات اجرا نشده، به مشتری اطلاع داده میشود تا قرضه خویش را تصفیه و رفع زمه نمایند.

**۲. اطلاعیه دوم:** اطلاعیه دوم با همان محتوای اطلاعیه اول روز بعد از آن به مشتری با ذکر تاریخ جدید ابلاغ می گردد.

**۳. اطلاعیه سوم :** در این اطلاعیه علاوه بر ذکر تمامی موارد اطلاعیه اول و دوم، به مشتری برای آخرین بار ابلاغ می گردد. صندوق به بار سوم به اطلاع مشتری میرساند، در صورتی که حساب خویش را تصفیه ننماید موضوع اش به ارگان های عدلی و قضایی جهت تعقیب ارجاع خواهد شد.

**ب : عدالت رسمی**

هر گاه صندوق انکشاف زراعتی بعد از اجرای تمامی مراحل فوق به این نتیجه برسد که مشتری مذکور حاضر به پرداخت قرضه و تصفیه حساب خویش نیست، موضوع را جهت حل و فصل و تعقیب به ارگان های عدلی و قضایی معرفی می نماید. رعایت مراحل ذیل به شکل عمومی در اکثر قضایای صندوق انکشاف زراعتی مراعات می گردد .

**۱. معرفی مشتری به اداره قضایای دولت وزارت عدلیه:**

بر مبنای ماده ۶ قانون قضایای دولت، اداره قضایای دولت دعاوی مربوط به دارائی های عامه را بین ادارات دولتی و اشخاص حقیقی و حکمی که دولت در آن بحیث مدعی یا مدعی علیه قرار می گیرد در پیشگاه محاکم به حیث ممثل ادارات دولتی به پیش می برد.

هر گاه صندوق انکشاف زراعتی نتواند مطابق به ماده ۱۷ قانون قضایای دولت موضوع را از طریق مذاکره و مصالحه حل و فصل نماید، موضوع را جهت رسیدگی بیشتر به قضایای دولت بر مبنای ماده ۸ همین قانون طی یک درخواستی توام با اسناد، معلومات، دلایل و مدارک اثباتیه آن ارجاع می نماید. اداره قضایای دولت بعد از اتخاذ تصمیم در مورد پیشبرد موضوع مطابق به ماده ۷ قانون مذکور عمل مینماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداره قضایای دولت نخست سعی می نماید تا بر مبنای صراحت ماده ۱۸ قانون مذکور، موضوع را از طریق ایجاد مصالحه در بین طرفین حل و فصل نماید. بناً، هر زمانیکه اداره مذکور به این نتیجه برسد که حل وفصل موضوع از طریق مصالحه ممکن نیست، موضوع را غرض تعقیب قضایی محول محکمه می نماید.

-۲ ارسال دعوی از اداره قضایای دولت به محاکم تجارتی: بر مبنای ماده ۱۲۱ قانون اساسی کشور، صلاحیت قوه قضائیه شامل رسیدگی به تمام دعاویی است که از طرف اشخاص حقیقی یا حکمی، به شمول دولت، به حیث مدعی یا مدعی علیه در پیشگاه محکمه مطابق به احکام قانون اقامه شود. با استناد به همین ماده و ماده اول قانون اصول محاکمات تجارتی، رسیدگی به تمام اختلافاتی که از معاملات تجارتی نشأت میکند، وظیفه محاکم ثلاثه تجارتی بوده و تابع احکام این قانون میباشد.

محاکم مذکور نیز طبق ماده ۴۰ قانون اصول محاکمات تجارتی برای یکبار طرفین را به اصلاح توصیه می نماید. هرگاه طرفین از طریق اصلاح به حل و فصل موضوع متنازع فیه موافقت نکنند، محکمه نباید آنها را بی جهت معطل نماید. همینکه به مشاهده برسد که طرفین حاضر به اصلاح نیستند باید محکمه عدم موافقت جانبین را به کتاب ضبط دعوی قید و به موضوع رسماً رسیدگی نموده فیصله اصولی خود را صادر نماید. ( ماده ۴۱ قانون اصول محاکمات تجارتی)

بعد از ابلاغ و صدور حکم قطعی و نهایی، محکمه اوراق دوسیه را توام با حکم خویش رسماً به اداره قضایای دولت ارسال می نماید. اداره قضایای دولت نیز بر مبنای ماده ۳۳ قانون قضایای دولت، حکم قطعی و نهایی محکمه مربوطه را جهت تطبیق به اداره حقوق وزارت عدلیه ارسال می نماید.

-۳ ارسال دوسیه به اداره حقوق وزارت عدلیه جهت تطبیق حکم محاکم: بر مبنای ماده ۴ قانون طرز تحصیل حقوق، ادارات حقوق وزارت عدلیه مسئول تطبیق احکام محاکم میباشند.

اداره حقوق مطابق به ماده ۲۶ قانون طرز تحصیل حقوق، حکم قطعی و نهایی محکمه ذیصلاح را مبنی بر تحصیل دین به اطلاع داین و مدیون رسانیده و از آنها استحضاری اخذ می نماید. محکوم علیه بر مبنای ماده ۴۱ همین قانون باید بعد از اصدار حکم قطعی و نهایی محکمه مکلف به رعایت مندرجات نص حکم در خلال مدت ۱۵ روز میباشد. هر گاه محکوم علیه از رعایت حکم قطعی و نهایی محکمه در خلال مدت مندرج فقره ۱ این ماده بدون عذر موجه امتناع ورزد، اداره حقوق مطابق احکام این قانون در خلال مدت ۲۰ روز به تنفیذ اجباری آن توسط هیئت مندرج ماده ۴۵ همین قانون اقدام مینماید.

لازم به ذکر است که در این شرایط مشتری مکلف است که علاوه بر پرداخت دین طبق مواد فوق و ماده ۲۵ قانون طرز تحصیل حقوق، محصول محاکم را نیز پرداخت نماید.



ملاقات مسؤلین صندوق با هیئت ایکسچنجر زون در مورد آغاز پروگرام قرضه دهی به دهاقین و شریک ساختن تجارب در قسمت جمع آوری قرضه های صعب الحصول

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تخم تصدیق
# Seed Certification

انجنیر غافر الله کانوال

## د تخم تصدیق څه شی دی؟
## (What is Seed Certification?)

د تخم تولید یو قانوني تصویب شوی طرزالعمل یا کړنلاره ده چې د یوه نبات د ورانډي شوي نوعې (ډول) د ارثي او فزیکي خالصوالي څخه د مراقبت او څارنې مسؤلیت په غاړه اخلي. د دې لپاره چې د تخم ارثي او فزیکي خالصوالی وساتل شي، نو د تخم د تصدیق سیستم د یو شمېر مستندو معیارونو او طرزالعملونو په رڼا کې چې د تخم د تولید په هر پړاو کې تطبیقوي، تکیه کوي. د تصدیق شوي تخم په کارولو سره کروندګر، تولیدوونکي او کاروونکي پوره اطمینان لري چې لوړ او باکیفیته حاصل لاسته راوړي. د تخم تصدیق د بې کیفیته تولید خطر کموي.

## د تخم د تصدیق موخه:
## (Purpose of seed certification)

د تخم د تصدیق موخه د تخم د کیفیت ساتل او د بزګرانو لپاره د لوړ کیفیت لرونکي تخم او نباتي موادو (Planting Materials) برابرول دي، ترڅو لوړ حاصل ترلاسه کړي او په خپل ځان بسیا شي. همدارنګه، د تخم د تصدیق موخه په ټول هیواد کې د تصدیق شوي تخمونو کرل، تولید او توزیع ده، تر څو بزګران د لوړ کیفیت لرونکي حاصلات تر لاسه کړي او د تخم ارثي او فزیکي خالصوالی وساتل شي.

### افغانستان کې د تخم د تصدیق شالید:
### (Background of Seed Certification in Afghanistan)

۱۳۴۹ ل کال افغانستان کې د تخم د تولید کوم منظم سیستم موجود نه وو. هماغه وو چې ۱۳۵۷ ل کال کې د اسیا پرمختیایي بانک په مرسته د افغانستان د تخم اداره یا (Afghan Seed Company) جوړه شوه چې د تخم د تولید، پروسس، توزیع او بازارموندنې مسولیتونه یې په غاړه درلودل. لړ وروسته بیا په ۱۳۶۴ ل کال کې نوموړې اداره د اصلاح شوي تخم تصدۍ (Improved Seed Enterprise) باندې بدله شوه چې په ټول هیواد کې یې د تخم د تولید لپاره خپل فارمونه درلودل. د ۱۳۶۱ ل څخه تر ۱۳۷۱ ل پورې د افغانستان کرنې وزارت او نورو ډېرو مرستندویه ادارو د تخمونو د اصلاح او نورو کرنیزو پروژو برخه کې د پام وړ هڅې وکړې. دغه هڅې بیا افغانستان کې د داخلي جنګونو له امله متضررې او له منځه لاړې. د څو لسیزو جګړو وروسته کرنې وزارت او نورو ډېرو مرستندویه ادارو د کرنې برخه کې د پام وړ خدمتونه ترسره کړل او ترسره کوي یې. همدارنګه د ۱۳۸۸ ل کال د قوس میاشت د افغانستان د تخم قانون چې ۴ فصلونه او ۲۹ مادې لري، د عدلیې وزارت له خوا په یوه رسمي جریده (۱۰۰۵ شمېره) کې چاپ شوه، چې دې قانون ټول کرنیز حقیقي او غیر حقیقي تخمونه د خپل چتر لاندې راوستي دي.

## د تخم د تصدیق کړنلاره یا طریقه:
(Procedure for Seed Certification)

د بېلګې په ډول د غنمو د تصدیق شوي تخم تفتیش په لاندې څو مرحلو کې پوره کېږي چې عبارت دي له:

۱- د تخم تصدیق لپاره غوښتنلیک:
(Application for Seed Certification)

۲- د کروندو تفتیش: (Field Inspection)

چې دا هم خپل څو مرحلې لري چې عبارت دي:

د ځمکې تفتیش: (Land Inspection)

د ګل کولو نه مخکې تفتیش:

Inspection During Pre-flowering/Vegetative Stage

د ګل په وخت کې تفتیش:

Inspection During flowering Stage

د حاصل ټولو مخکې تفتیش:

Inspection During post-flowering and pre-harvest stage

بیاځلي تفتیش یا (Re-inspection) هم لري.

۳- د تخم پروسس: (Seed Processing)

۴ـ د تخم څخه د نمونو اخیستل: (Seed Sampling)

۵- د ټګ او سرټیفیکېټ ورکول:
(Certificate Tag and Issuing)

۶- د نمایشي قطعې کرنه: (Demonstration Plots)

۷- لابراتواري ازماېښتونه: (Laboratory Tests)

## تخم او د تخم صنفونه:
## Seed Classes and Seed

د تخم د پېژندنې لپاره زیات تعریفونه شویدي چې یو څو یې په لاندې ډول دي:

۱: تخم یو رسېدلی القاح شوی تخمه ده چې د درې برخو، لکه د تخم پوښ (Seed Coat)، د تخم غوښینه برخه یا (Endosperm) او جنین یا (Embryo) څخه جوړ دی.

۲- هر هغه نباتي مواد چې د تکثیر په غرض کرل کېږي تخم ګڼل کېږي.

۳- د نیالي پیاز، ساقې او قلمې په شمول تخم لمرنی نبات دی.

تخم دوه ډوله لري چې حقیقي او غیر حقیقي بلل کېږي:

حقیقي تخم: هغه تخم چې د القاح یانې د مذکر او مونث ګامیت د یو ځای کېدو نه لاسته راشي.

غیر حقیقي تخم: هغه نباتي مواد چې د تکثیر په غرض کرل کېږي، غیر حقیقي تخم دی: لکه ساقه، قلمه، ریښه، پیاز او داسې نور.

افغانستان کې تخم د لاندې صنفونو د نومونو لاندې تولیدیږي:

## هستوي یا اساسي تخم:
## Seed nucleus / Seed Basic

په عمومي ډول، دا تخم د نبات د خوشو یا ورو نه په قطارونو کې د یوه ذمه وار نبات روزونکي یا ( Plant Breeder) په بنسټ تولیدیږي چې د مورنې تخم د تولید لپاره د ذخیرې یا سټاک په ډول ساتل کېږي. سل سلنه ارثي او فزیکي خالصوالی لري چې په ډېر کم مقدار سره د لاسرسي وړ وي.

## مورنی تخم: (Breeder Seed)

دا د هستوي تخم زېږنده ده او د بنیادي تخم د زیاتېدو لپاره لومړنی او تکرارېدونکي سرچینه ده. د پلانټ بریډر او یا د تحقیقاتي ستېشنونو له خوا تولیدیږي. سل سلنه فزیکي او جنیټیکي خالصوالی لري. د دې تخم تصدیق او نظارت په نوره نړۍ کې د یو ټیم له لارې چې د تصدیق اداري استازی پکې وي، ترسره کېږي. افغانستان کې د یاد تخم تصدیق د تصدیق د ادارې له خوا ترسره کېږي او کله چې د تصدیق اداري لخوا ومنل شي، زیر رنګه ټګ پرې وهل کېږي.

## بنیادي تخم: (Foundation Seed)

دا د مورنی تخم زېږنده ده، خو کله چې د مورنی تخم تولید لږ وي، نو بیا په وخت کې د هغه بنیادي تخم څخه چې د مورنی تخم ستندرډ پوره کولی شي، هم تولید کېدی شي. افغانستان کې د نوموړي تخم تولید د اصلاح شوو تخمونو د تولید تصدۍ او هغه شرکتونو چې د کرنې وزارت له خوا غوره پېژندل شوي وي، ترسره کېږي. ددې تخم تولید د تصدیق اداري د نظارت او تفتیش لاندې ترسره کېږي او کله چې د تصدیق اداري لخوا ومنل شي، سپین رنګه لېبل یا ټګ پرې وهل کېږي.

تصدیق شوی تخم: (Certified Seed)

دا تخم د بنیادي تخم زېږنده ده. دا تخم په بزګرانو باندې خرڅیږي او یا د یو څه مالي مرستې په بدل کې ورکول کېږي، تر څو بزګران زیات حاصل ترلاسه کړي. دا تخم هم د یوه ځانګړي ټاکل شوي معیار لاندې د تصدیق اداري لخوا نظارت او تصدیق کېږي او کله چې قبول شي نو ابي رنګه ټګ پرې وهل کېږي.

په مطمئن لېبل سره تخم:
(Truthfully Labeled Seed)

دا تخم د هستوي، مورني، بنیادي او تصدیق شوي تخم څخه تولید کېدی شي. دا تخم باید د تصدیق شوي تخم ټول معیارونه پوره کړي. ددې تخم لېبل جبري دی او باید د تخم ټولې ځانګړتیاوې چې د تخم په مقره کې ذکر شوي دي، ولري. د دې تخم تولیدکوونکي مسؤلیت لري، تر څو یې کیفیت تضمین کړي. د تصدیق اداره په هر وخت کې او د هر مارکېټ څخه د نوموړي تخم د کیفیت مالومولو لپاره کولی شي نمونه واخلي. که د کیفیت مالومولو ازماېښت څخه وروسته تخم د معیار سره ورته والی ونلري او یا په لېبل کې د لیکل شوو مالوماتو سره توپیر ولري، اړونده چارواکي حق لري، تر څو یې د کرنیزو تخمونو د تصدیق کړنلارې مطابق مجازات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محصول اسلامی بانو

## طراحی شده برای کاروبار های کوچک زراعتی به رهبری زنان

شواهدی از سراسر جهان، بخصوص شرق آسیا و امریکایی لاتین وجود دارد که نشان میدهد اعطای قرضه به زنان اثرات مثبت و همسان برای بهبود تغذیه خانوار، دسترسی به تحصیلات و خدمات صحی دارد. برعلاوه، به سطح قرضه های کوچک، زنان قرضه گیرنده در مقایسه با مردان بیشتر با مسئولیت هستند. در افغانستان اعطای قرضه ها به زنان با چالشهای روبرو است، طور مثال:

- به طور عموم زنان دارایی ندارند تا به عنوان وثیقه ثبت نمایند.
- ناهنجاری های فرهنگی معمولاً از کار زنان در خارج از خانه جلوگیری می کند.
- اکثریت زنان به ویژه در مناطق روستایی بیسواد هستند و مهارت های لازم برای نگه داشتن سوابق حسابداری ابتدایی ندارند.

در حالیکه این مسایل به طور معمول زنان را از دسترسی به خدمات مالی محروم می کند، از زمان تأسیس، صندوق انکشاف زراعتی متعهد به حمایت از شرکت های وابسته به زنان است. علاوه بر این، رهبری شورای عالی صندوق انکشاف زراعتی (نهاد تصمیم گیری استراتیژیک) صندوق را مستلزم میداند و تاکید میکند تا راه های را جستجو نماید که بر مبنای آن زنان بتوانند برای پیشبرد فعالیتهای مرتبط به زراعت به قرضه دسترسی پیدا نمایند. به منظور غلبه براین چالش ها و فعال سازی زنان برای مشارکت در توسعه زراعت افغانستان، صندوق انکشاف زراعتی خط تولید محصولات مالی را با هدف رفع نیازهای زنان روستایی آغاز کرده است.

اخیراً صندوق انکشاف زراعتی یک محصول دیگر را به نام "بانو" طراحی کرده است که ویژه زنان افغان است. هدف ارایه این محصول، رفع چالش های سرراه زنان زراعت پیشه است. یک محصول مالی اسلامی که به طور خاص برای کسب و کارهای زراعتی زنان طراحی شده است، که منبع اصلی درآمد آنها مربوط به فعالیت تجارتی در زنجیره ارزش زراعتی است.کسب و کارهای زراعتی مربوط به زنان به عنوان شرکت های کوچک و متوسط تحت رهبری زنان تعریف می شوند که در مراحل زنجیره ارزش های زراعتی مشغول به کار هستند و قادر به اخذ و بازپرداخت قرضه های زراعتی هستند.




نمایی از غرفه صندوق انکشاف زراعتی در نمایشگاه بین المللی زراعتی – کابل جهت ارائه معلومات به بانوان تجارت پیشه

### محصول بانو برای موارد ذیل استفاده خواهد شد:

- سرمایه دورانی برای مصارف اضافی عملیاتی و اداری.
- خریداری مواد گدام، مواد زراعتی و تدارکات.
- برای به دست آوردن سرمایه یا بهبود سرمایه گذاری و تجهیزات.
- برای ارزش افزایی شرکت ها، مانند بسته بندی و مونتاژ.
- ذخیره گاه، گدام و حمل و نقل
- ساختن تعمیر و امکانات برای پروسس و تولیدات زراعتی.
- دیگر کسب و کارها که زراعت و کاروبارهای زراعتی را حمایت میکند.
- حد اکثر معیاد قرضه دو ساله خواهد بود، با حد اکثر یک سال معیاد برای پرداخت اصل پول.
- معیاد قرضه باید مطابق هدف قرضه و توانایی قرضه گیرنده باشد تا بتواند که وجوه مالی رابدست آورده و دوباره بپردازد.
- معیاد باز پرداخت قرضه باید بعد از رفع حاصل صورت گیرد.
- مهلت مفاد قرضه نظر به ساختار قرضه تعیین میگردد.
- تکتانه سالانه از شش الی پانزده درصد محاسبه میگردد.

### واجدین شرایط: درخواست کننده باید تبعه افغانستان بوده و دارای نمبر تشخصیه (TIN) باشد.

- تجارت زراعتی باید راجستر شده اداره ثبت مرکزی یا سایر ارگان های مربوطه دولت جمهوری اسلامی افغانستان باشد.
- درخواست کننده باید دارای یکسال تجربه در تجارت زراعتی باشد ( موجودیت مدارک و شواهدی که نشان دهنده تجربه و مهارت های مدیریتی در تجارت باشد لازمی است)
- عدم اشتغال در فعالیت های غیر مشروع
- تضمین ۱۲۰ در صد از مجموع اصل قرضه (زمین و تعمیر).
- حداقل مقدار قرضه ۱,۷میلیون افغانی و حد اکثر قرضه ۳,۵ میلیون افغانی میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بی نظیر یکتا

## از چهار حلقه چوری طلاء تا مارکیت جهانی

### داستان موفقیت

بی نظیر یکتا بیست و پنج سال قبل در ولایت دایکندی در یک خانوادۀ متمدن و از لحاظ اقتصادی متوسط به دنیا آمد. وی بعد از ختم تعلیمات ثانوی و سپری نمودن موفقانۀ امتحان کانکور به فاکولته حقوق و علوم سیاسی پوهنتون کابل راه یافت و سپس به درجۀ لیسانس از آن فاکولته فارغ گردید.

بی نظیر از نوجوانی در تصامیم خویش جدی و در رسیدن به اهدافش قاطع عمل میکرد. او به تجارت علاقه داشت و تحصیلات در رشته حقوق از جمله آرمان های اساسی اش بود. وی در رسیدن به آرزو های تحصیلی اش به مشکلات بی شمار روبرو شد ولی این مشکلات نتوانست مانع برآورده شدن آرزوهایش شود. او امروز ریس شرکت بین المللی پروسس و تجارت بی نظیر یکتا است. بی نظیر یکتا داستان موفقیت تجارت اش را چنین قصه میکند:

میخواستم که یک کاروبار، که من علاقمند آن باشم و بتوانم از طریق آن به زنان بی بضاعت و تهی دست جامعۀ ما که به کار ضرورت دارند، کمک کنم. به همین نیت شرکت بینظیر یکتا را بناء نهادم. یک هزار افغانی داشتم و آن را هم برای کرایه موتر برای رفتن به اداره مرکزی ثبت شرکتهای خصوصی وزارت تجارت و صنایع به مصرف رسانیدم. وقتی به آنجا رسیدم چند تن زنان که مسئول طی مراحل ثبت و راجستر بودند، آشنا شدم. ایشان با من کمک های فراموش ناشدنی انجام دادند و مراحل راجستر شرکت ام را به وقت معین تمام نمودند. آنها تعرفۀ تحویلی پول راجستر شرکت را به من دادند و ازم خواستند تا پول خویشرا تحویل نمایم. درحالیکه وقت صرف طعام چاشت بود، آنان به من گفت که تا تمام شدن کار راجستر شرکت ام به صرف طعام نمیروند. من که در اصل پول نداشتم اسرار میکردم که آنان به صرف طعام خود مصروف شوند. آنها به طعام خوردن رفتند و من رهسپار بازار طلا فروشی شهر شدم. چهار حلقه چوری طلا داشتم و آنها را در بدل پنجاه هزار افغانی به فروش رسانیدم. دوباره به اداره ثبت برگشتم، تقریباً بیست و پنج هزار افغانی برای اخذ جواز تحویل کردم و با بیست و پنج هزار افغانی دیگر کاروبار میوه خشک را آغاز کردم.

امروز شرکت بی نظیر یکتا نه تنها در داخل، بلکه خارج از کشور تولیدات میوه های تازه و خشک دارد.

بی نظیر یکتا به سوالهای مجله پرمختګ در باره موفقیت تجارت اش، چنین پاسخ میدهد:

پرمختګ: لطف نموده در باره شرکت بی نظیر یکتا معلومات مختصر ارایه نمائید؟

بی نظیر: بی نظیر یکتا یک اسم بسیار آسان و زیباست و خواستم این اسم را برای تجارت خویش انتخاب نمایم. این شرکت را دو سال قبل با سرمایۀ ۲۵،۰۰۰ افغانی ایجاد کردم. هدفم از ایجاد این شرکت خدمتگذاری به افغانستان و زنان رنجدیدۀ افغان است.

پرمختګ: شما کدام میوه جات و به چی مقدار میوه را پروسس میکنید؟

بی نظیر: میوه جات و سبزیجات تازه و میوه جات خشک مانند چهارمغز، پسته، جلغوزه، بادام، انواع مختلف کشمش و دیگر میوه جات خشک، محصولات اند که در این شرکت پروسس و بسته بندی میشود. میوه جات تازه مانند سیب، زردالو، انگور و سبزیجات تازه مانند بادنجان رومی، مرچ سبز مختلف النوع مشمول محصولات است که در شرکت بینظر یکتا پروسس میشود. همچنان ما از سبزیجات ترشی باب تهیه میکنیم و در آینده پلان داریم تا از میوۀ تازه جوس و دیگر محصولات تهیه نماییم.

پرمختګ: میوه جات پروسس شده را به کدام مارکیتها صادر مینمایید؟

بی نظیر: محصولات ما در مجموع به مارکیتهای داخل افغانستان و مارکیتهای بین المللی صادر میشود. شرکت بی نظیر یکتا در شهر مانچستر انگلستان رسماً ثبت و راجستر است. در انگلستان برادران ما نماینده گی این شرکت را به عهده دارند. من برای شان از افغانستان میوه خشک صادر میکنم و آنها آنرا به شکل عمده و پرچون بفروش میرسانند. همچنان، ما به کشور های هندوستان، فرانسه، امارات متحدۀ عربی و فینلند هم محصولات خویشرا صادر مینماییم.

پرمختګ: میوه جات که حساس اند و باید جدی نگهداری شوند، کدامها اند و برای نگهداری آنها چه تدابیری روی دست گرفته اید؟

بی نظیر: پروسس تمام میوه جات نسبتاً مشکل است، ولی از این جمله پروسس کشمش مشکل تر است. پاک کردن چوب دانه های کشمش کار بسیار مشکل است. کشمش بعد از پاککاری، شسته و با بسیار احتیاط خشک میشود. از ماده کیمیاوی سلفر در خشک کردن کشمش و دیگر میوه جات استفاده میکردیم. باآنکه این روؤش هم رنگ میوه را مقبولتر میساخت و هم در پروسۀ خشک کردن میوه جات کمک میکرد، اما میوه جات که توسط سلفر خشک شده باشد، بازار خوبی نداشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بناً، از استعمال سلفر خودداری مینماییم. باآنکه کاری بسیار مشکل و زمانگیر است، اما ما میگذاریم کشمش به شکل طبیعی خشک شود و همین کار باعث شده است که بدلیل داشتن کیفیت عالی، محصولات ما در مارکیت های داخلی و خارجی بازار فوق العادۀ داشته باشد. در صورتیکه نیاز به استفاده سلفر محسوب شود، بعد از استفاده سلفر، میوه را دوباره شست و شو میکنیم. قابل یادآوری است که برای خشک کردن یکتعداد از محصولات به اساس یک فیصدی مشخص استفاده سلفر حتمی است. پرمختگ: چی تعداد کارمندان (مرد و زن) در شرکت شما مصروف کار اند؟

بی نظیر: فعلاً در شرکت ما بتعداد ۱۰۵ تن در اوقات مختلف مصروف کار اند. از این تعداد سه نفر مرد و بقیه یک صدو دو تن از طبقه اناث هستند.

پرمختگ: تقاضای بازار به کدام میوه بیشتر است و از فروش آن چقدر منفعت به دست میاورید؟

بی نظیر: میوه خشک افغانستان بسیار قوی و طبیعی است. به همین سبب تقاضای میوه افغانستان در مارکیت های ملی و بین المللی بیشتر است. از این جمله بادام، کشمش و در این روزها جلغوزه سیاه بازار خوب دارد. باآنکه بادام امریکا و استرالیا هم در مارکیت موجود است، اما بادام، کشمش، جلغوزه سیاه و دیگر میوه جات خشک افغانستان در مارکیت های بین المللی متقاضی زیاد دارد و نفع شان هم نسبت به دیگر میوه جات بیشتر است.

پرمختگ: آیا در ابتداء کار تان به قرضه نیاز داشتید؟

بی نظیر: در ابتداء با مشکلات زیادی روبرو بودم و مجبور شدم که قرضه بگیرم. برای ساخت شرکت خود اولین قرضه که مبلغ ۵۰۰،۰۰۰ افغانی بود از بانک اولین قرضه های کوچک دریافت نمودم. آن قرضه را به وقت معینه دوباره پرداختم. با اخذ این قرضه کاروبارم کمی رنگ و رونق یافت و فامیلم هم فهمید که تجارت ما دیگر به ضرر نه بلکه به مفاد به پیش میرود و دست به همکاری من زدند. با گذشت زمان، برای ماشین آلات پروسس و شرکت خویش مکان دایمی خریداری نمودم.

پرمختگ: آیا از اداره صندوق انکشاف زراعتی قرضه اخذ نموده اید؟

بی نظیر: بلی! از صندوق انکشاف زراعتی قرضه اخذ نمودم.

پرمختگ: آیا امیدوار هستید که با استفاده از قرضه صندوق در تجارت تان تغییرات مثبت بوجود خواهد آمد؟

بی نظیر: شکی ندارم که با استفاده از این قرضه، شرکت ما در جایگاه بهتری قرار خواهد گرفت و پیشرفت خوبی خواهد داشت. قبلاً میوه جات را از دست دوم و سوم خریداری مینمودم. حالا با این قرضه تمام خریداری را از دست اول خواهیم داشت که منفعتم به مراتب زیادتر خواهد بود.

پرمختگ: آیا در زمان طی مراحل اخذ قرضه از صندوق با کدام مشکل روبرو شدید؟

بی نظیر: تمام کارمندان صندوق انکشاف زراعتی با متقاضیان قرضه همکاری و برخورد خوبی مینمایند و هیچ نوع مشکل تاکنون قابل مشاهده من نبوده است.

پرمختگ: پیام تان به نهاد های قرضه دهنده و متقاضیان قرضه چیست؟


بی نظیر: پیام من به متقاضیان قرضه این است که، باید بدانند که قرضه گرفتن به ضرر ما نه بلکه به نفع ما است. اما زمانیکه قرضه اخذ مینمایند، باید بدانند که آنرا برای هدفی که دریافت نموده اند سرمایه گذاری نمایند. از قرضه دهنده گان نیز تقاضا مینمایم تا پروسه و شرایط قرضه دهی شانرا سهلتر بسازند و از مشتری تکتانه کمتر اخذ نمایند.

صندوق انکشاف زراعتی از وقت و همکاری بی نظیر یکتا بابت ارایه معلومات، سپاسگذاری مینماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راه حل های خود کفایی افغانستان در تولید گندم

دکتور محمدولی سالاری - استاد پوهنځی زراعت و مسول تحقیقات علمی پوهنتون کابل





شکل(1): ساحه تحت کشت، تولید، مصرف و واردات گندم از سال ۱۹۸۰ الی ۲۰۱۹م ، منبع معلومات: USDA

مقدمه: زراعت یکی از ستون اقتصاد افغانستان است. بر اساس راپور بانک جهانی، ۲۶ در صد درآمد ناخالص ملی بطور اوسط از سال (۲۰۰۲ الی ۲۰۱۷م) از محصولات زراعتی بدست میآید. این سکتور نه تنها غذا را برای مردم تهیه میدارد، بلکه منبع مهم اشتغال زایی نیز بشمار میرود. براساس گزارش اداره ملی احصائیه و معلومات تقریباً ۸۰ درصد مردم افغانستان به شکل مستقیم و غیر مستقیم مشغول زراعت و مالداری هستند. باآنکه افغانستان یک کشور زراعتی شناخته میشود، فیصدی بسیار اندک زمین های آن، یعنی ۱۲ فیصد برای کشت مناسب است که از جمله این ۱۲ فیصد، تنها ۶ فیصد آن عملاً زرع می‌شود.

غله جات، مخصوصاً گندم غذای اصلی اکثریت مردم را تشکیل میدهد. گندم در اقتصاد زراعتی کشور جایگاه مرکزی را دارا می‌باشد و در سفرهٔ افغان ها یک غذای عمده بشمار میرود. گندم ۶۰ فیصد مجموع مصرف کالوری مردم را تشکیل میدهد. مصرف سالانه گندم فی نفر در کشور بطور اوسط ۱۶۰ کیلوگرام تخمین شده است. این نبات ۷۰ فیصد تولیدات سالانه غله جات و ۵۷ فیصد مجموع تولید محصولات غذایی کشور را تشکیل میدهد، و تقریباً ۷۰ در صد اراضی کشور صرف زرع این نبات میباشد. افغانستان در سال های ۱۳۲۹ و ۱۳۴۹ ه ش از نظر تولید گندم خودکفا بود، اما به اثر سه دهه جنگ اکثریت زیربناهای زراعتی از بین رفته است. این ناهنجاری ها باعث کاهش قابل ملاحظه ای در تولید داخلی گندم شده است و افغانستان برای تأمین امنیت و مصونیت غذایی مردم، خود دست به واردات گندم و آرد گندم زده است.

## ۱. ایجاد مارکیت برای تولیدات داخلی گندم:

کیفیت گندم که در داخل کشور تولید شده باشد نسبت به گندم وارداتی خیلی پایین میباشد، که نیاز به توجه جدی دارد. دانه های گندم داخلی نسبت به گندم وارداتی دارای مقدار بسیار پائین پروتین و گلوتین است. به همین دلیل گندم داخلی در داخل کشور مارکیت نداشته و اکثر خبازی ها در تهیه نان خشک، کیک، کلچه و غیره محصولات مشابه از آرد های وارداتی استفاده مینمایند. زیرا گندم های داخلی از لحاظ کیفیت با گندم وارداتی رقابت کرده نمیتواند. به اساس راپور تحلیل لابراتواری، تقریباً تمامی انواع قابل دسترس گندم در مارکیت دارای پروتین و گلوتین بسیار پایین میباشد. راه حل های زیادی برای حل این مشکل وجود دارد. یکی از این راه حل ها، توجه به بعضی فعالیت های اگرانومیکی در جریان دوره نمویی نبات گندم است. مثلاً اگر در مرحله خوشه کشی از مقدار کم نایتروجن استفاده شود، پروتین گندم ازدیاد می یابد.




شکل(2): مقایسه حاصلدهی گندم در افغانستان با کشور های همسایه درسال ۲۰۱۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راه حل دوم و اساسی انکشاف تمام انواع اصلاح شده گندم از طریق تحقیقات است. این تحقیقات تنها روی نوع که از نقطه نظر جنتیکی دارای حاصل بلند و مقادیر بلند پروتین و گلوتین است، انجام گردد. قابل یاد آوری است که ارزش افزایی در ایجاد مارکیت برای تولیدات داخلی گندم کمک میکند. بطور مثال: اگر نوع را که دارای فیصدی بلند پروتین باشد و مطابق استندرد های بین المللی ارزش افزایی کنیم، با اطمینان می توان گفت که تولیدات گندم در مارکیت های منطقه جایگاه خاص خواهد گرفت. هدف از ارزش افزایی این است که گندم دارای کیفیت بهتر باید در داخل کشور توسط آسیاب های استندرد آرد گردیده، مطابق استندردهای بین المللی پروسس و بسته بندی شود.

۲. تحقیقات علمی روی انکشاف انواع بلند حاصل، باکیفیت، توافق یافته و مقاوم در مقابل امراض مختلف:

تحقیقات علمی یکی از عوامل اصلی تغییر در سیستم های تولید زراعتی و توسعه قابل توجه در اقتصاد روستایی میباشد. همچنان تحقیقات علمی یکی از عوامل مهم در تعین سطح درآمد سکتور زراعتی بوده، در رفع نیاز های غذایی نفوس در حال رشد سریع میباشد. ارزیابی های مختلف نشان داده است که تحقیقات زراعتی نقش مهمی در افزایش حاصلات زراعتی دارد. زیرا تکنالوژی جدید و تخنیک تولیدی که باعث افزایش حاصلات زراعتی می شود، از طریق تحقیقات زراعتی بوجود آمده است. قابل یاد آوری است که قبل از اینکه تحقیقات روی انکشاف هر نوع انجام شود، لاین های گندم باید انتخاب شود که از فیصدی بالا پروتین و گلوتین باکیفیت و عالی برخوردار باشد.

الف. تمرکز روی تحقیق کوتاه مدت: تمرکز روی تحقیقات کوتاه مدت یک راه حل بسیار مؤثر برای انکشاف انواع بلند حاصل و باکیفیت گندم میباشد. در این نوع تحقیق انواع بهتر گندم از کشور های که دارای محیط اگرو اکولوژیکی مشابه با افغانستان است، وارد میگردد و قبل از اینکه به دهاقین توزیع شود، در محیط های مختلف برای ارزیابی با توافق محیطی کشت می گردد. افغانستان دارای شش زون زراعتی است که تمام انواع که از کشور های خارجی به افغانستان آورده میشود، درین زونها جهت توافق با محیط افغانستان باید ارزیابی گردد. خوشبختانه مراکز تحقیقاتی جهت ارزیابی توافق انواع در هر شش زون زراعتی وجود دارد. نتایج چنین تحقیقات به ما نشان میدهد که کدام نوع با کدام زون توافق خوب داشته و یا کدام نوع در تمام زون ها نتیجه میدهد. نوع گندم که با محیط افغانستان سازگار بوده، حاصل بهتر داده و در مقابل امراض گوناگون و خشکسالی مقاوم میباشند. برای تکثیر تخم تصدیق شده استفاده شده و بعداً به دسترس دهاقین قرار داده شود. ارزیابی برای توافق محیطی بسیار مهم است. زیرا بعضی از خواص نباتات مانند مقدار حاصل توسط چندین واحد های ارثی که بنام جین ها یاد میگردد، کنترول می شود. هر قدر که تعداد جین ها در کنترول یک خاصیت زیاد باشد، به همان اندازه بیشتر تحت تاثیر محیط قرار می‌گیرد. این کار برای رشد سکتور گندم در شرایط فعلی بسیار مهم است و شرایط برای چنین تحقیق در افغانستان مهیا می‌باشد.

ب. تمرکز روی تحقیقات دراز مدت (تحقیقات اساسی و استراتیژیک): تحقیقات دراز مدت برای انکشاف انواع بهتر گندم بسیار مهم است. زیرا درین نوع تحقیقات خواص اساسی جنتیکی نبات گندم به نفع انسان تغیر داده شده، جین های مطلوب که باعث بهتر شدن کمیت و کیفیت گندم میشود، به نبات دلخواه از طریق نسل‌گیری انتقال داده می‌شود. درین نوع تحقیقات انواع گندم با چندین جین مطلوب که هر کدام آنها خواص خاص را کنترول می نماید، به وجود می آید. طور مثال، یک نوع گندم پُر حاصل می باشد ولی در مقابل یک مرض، مثلاً مرض سرخی ساقه، حساس است. از طریق این نوع تحقیقات جین مطلوب که در مقابل مرض سرخی ساقه گندم مقاوم می‌باشد، به نوع گندم پُر حاصل انتقال داده می‌شود و نبات گندم دلخواه که دارای هر دو خواص مطلوب یعنی حاصلدهی و مقاومت در مقابل مرض سرخی می‌باشد، به وجود می آید. این نوع تحقیقات برای رسیدن به خود کفایی محصولات زراعتی مخصوصاً گندم بسیار مهم است.

۳. تهیه تخم های بذری اصلاح شده:

تخم، نقطه آغاز در زنجیره تولید غذا بوده و عامل عمده ازدیاد حاصلدهی میباشد. به اساس نتایج بعضی از تحقیقات علمی تخم بذری اصلاح شده میتواند ۲۵ الی ۳۰ فیصد سطح حاصل گندم را بلند ببرد. تخم های بذری اصلاح شده عامل اصلی در رشد و انکشاف زراعت بوده و همچنان یگانه راه انتقال تکنالوژی و نوآوری های زراعتی برای دهاقین می‌باشد، که از طریق آن دهاقین از قدرت حاصلدهی یک نوع جدید آگاه می‌شوند. عوامل دیگر مانند کود، ادویه جات زراعتی، آفت کش ها و تمام فعالیت های اگرانومیکی در تقویت حاصل دهی تخم بذری کمک می‌کند.

۴. ایجاد سیستم پایدار تهیه و توزیع عوامل تولید زراعتی باکیفیت:

ایجاد یک سیستم مبتنی بر مارکیت برای توزیع تخم های اصلاح شده بذری به دهاقین در وقت مناسب کشت، میتواند کشور را در رساندن به خود کفایی از نقطه نظر تولید گندم کمک کند. برای رسیدن به خود کفایی در تولید گندم نیاز است تا مقدار مورد ضرورت تخم بذری اصلاح شده تهیه گردد. همچنان یک سیستم مبتنی بر مارکیت که در آن دهاقین بتواند تخم بذری اصلاح شده را از سکتور خصوصی بدست آورند، ایجاد گردد. درحال حاضر یک سیستم نو تاسیس بنام سیستم توزیع تخم بذری اصلاح شده از طریق کوپون (Voucher) بوجود آمده است که در آن دولت افغانستان تنها رول نظارت از کیفیت تهیه تخم بذری اصلاح شده را دارد.

۵. ایجاد پالیسی مؤثر در تجارت، مخصوصاً در مورد تعرفه های گمرکی:

بمنظور تشویق دهاقین برای کشت و دریافت مارکیت تولیدات داخلی گندم، باید از تعرفه های گمرکی استفاده گردد. داشتن پالیسی ها و استفاده از آن جهت دریافت مارکیت و کنترول نرخ گندم در بازار های داخلی، وضع تعرفه گمرکی موسمی سالانه بالای واردات غله جات مخصوصاً گندم و آرد در هماهنگی با وزارت مالیه و اطاق های تجارت، یک امر لازمی پنداشته می‌شود. بلند بردن تعرفه بالای غله جات وارداتی سبب تشویق تولید دهاقین گندم می گردد. اما، تعرفه ها باید به اندازه بلند بُرده شود که سبب ازدیاد بیش از حد قیمت در مارکیت نشود. فقط بتواند دهاقین گندم را تشویق نماید که به تولید غله جات در داخل کشور رو آورده و حاصل گندم را ازدیاد بخشد.

۶. ایجاد ذخایر استراتیژیک، مخصوصاً ذخایر غله جات:

نبود ذخایر استراتیژیک غله در کشور یک مشکل عمده در رسیدن به خود کفایی افغانستان در گندم می‌باشد. ایجاد چنین ذخایر جهت آماده گی برای حوادث طبیعی، مصئونیت غذایی، متوازن نگهداشتن قیمت ها در بازار و خریداری غله از دهاقین، بسیار مهم پنداشته می‌شود. این ذخایر استراتیژیک نه تنها بحیث ذخایر استراتیژیک استفاده گردد، بلکه باید در برگیرنده سیلوهای جدید مجهز به تکنالوژی مُدرن باشد، تا بتواند تمام نیازمندی های ارگان های دولتی و غیر دولتی را مرفوع سازد.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# له خوبه، تر عمله !

د افغانستان څلور لسيزو جګړو او بې ثباتۍ ټول هېواد ته، خو په ځانګړي ډول کرنيزو چارو ته بشپړ زيان رسولی دی. همدې ناخوالو د هېواد بزګران دې ته اړ کړي چې په پخواني دوديز ډول بزګري وکړي. خو بيا نږدې اتلس کاله کېږي چې افغان دولت او مرستندويه ادارې د کرنې په ميکانيزه کولو کار کوي او همدې ته يې خورا زيات پاملرنه کړې ده.

د کرنې ميکانيزه کول د صنعتي اقتصاد منځته راتللو سبب شو چې په اساس يې لوړ توليد ترلاسه کېږي او د توليد په وړاندې د رامنځته کېدونکو ستونزو او خنډونو مخه نيول کېږي.

په لويديځ کې د کرنې په ډګر کې د کرنيزې ټکنالوژۍ پرمختګ، د تېرې يوې پېړۍ له هغو پرمختګونو څخه شمېرل کېږي چې د لويديځوالو په ژوند کې يې ستر بدلون راوستی دی.

په صنعتي اقتصاد او کرنيزو چارو کې پرمختګ د دې لامل شو چې بزګرانو باندې، يو د کار فشار کم شي او بل په کم وخت کې ډېر کار ترسره کړي. همدارنګه د يادو اسانتياوو رامنځته کېدلو نه وړاندې به په کم کار ډېر وګړي بوخت وو. خو اوس نه يوازې د بزګرانو مسؤليت کم دی، بلکې کم خلک د ډېرو چارو ترسره کولو باندې بوخت دي. د دې سره د ځمکو حاصلاتو کې هم د پام وړ توپير راغلی دی. په لويديځ کې د کرنې ميکانيزه کولو سره ميليونونو کرنيز کارکوونکو صنعتي فابريکو ته مخه کړه چې دغې توپير په لويديځو هېوادونو کې ستر صنعتي انقلاب رامنځته کړ. همداراز د ژوند تګلاره يې معياري شوه او تلپاتې برياليتوب يې په برخه شو.

په نړۍ کې په دوام لرونکې توګه د وګړو زياتوالی دا اړتيا رامنځته کوي چې په کرنيزو، خوراکي او پوښاکي توکو کې پوره زياتوالی راشي.

د تېرې پېړۍ د زياتو کرنيزو محصولاتو د لاسته راوړلو امتياز هم د کرنيزې ټکنالوژۍ په برخه دی چې په کې د پام وړ زياتوالی او پرمختګ راغلی دی. د کرنيزو فصلونو لوړوالی، د مؤثرې کيمياوي سرې شتون او کارونه، نوې او پرمختللې ازمايلې لاسته راوړنې، د هغو کرنيزو پرمختګونو له ډلې څخه دي چې د کرنيزې ټکنالوژۍ په موثريت دلالت کوي.

افغانستان هم د نورو پرمختګونو سره، په کرنيزه ټکنالوژۍ کې د پام وړ لاسته راوړنې لري. جاويد افغان په هېواد کې يوازينۍ فابريکه ده چې د کرنيزو چارو پرمختللي ماشينونه توليدوي لکه، د غنمو تريشر، د وريجو پاکولو ماشين، د تخم شيندلو ماشين، قُلبه، د تراکتور ټرالي او داسې نور. دا کارځای د افغانستان ختيځ ننګرهار ولايت، جلال آباد ښار کې په داسې حال کې د کرنيزې ټکنالوژۍ د پراختيا چارې پر مخ بيايي چې کلونه مخکې دغه کارځای يو کوچنی کاروبار ؤ.

د يادې فابريکې څښتن وايي چې د کرنيزې پرمختيا صندوق د پور په مټ اته کاله کېږي د کرنيزو چارو د اسانتياوو په موخه په لوړ کېفيت، د هېواد دننه کرنيز ماشينونه او توکي جوړوي.

ياده فابريکه د هېواد د بېلا بېلو سيمو څخه زړه او له کاره لوېدلې اوسپنه راټولوي او د يو ځانګړي مرحلې ترسره کولو وروسته ويلې کېږي او بيا ترې کرنيز وسايل جوړوي. د يادونې وړ ده چې جاويد افغان د کرنيزو وسايلو فابريکه زياتره کرنيز وسايل د هېواد دننه له اوسپنو جوړوي، خو يوازې ټايرونه او د ماشينونو لپاره رېړي پټۍ يا بېلټونه له ګاونډيو هېوادونو واردوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو تولیداتو د دوام په موخه، یاده فابریکه د کرنیزو وسایلو لپاره د اړتیا وړ پرزې هم جوړوي. دې کار له بزګرانو سره مرسته کړې چې د اړتیا په وخت په چټکۍ خپل کرنیز ماشینونه لاسته راوړي او ګټه ترې واخلي.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې د جاوید افغان تریشر او کرنیزو وسایلو فابریکې د بریا راز په څه کې دی، د یادې فابریکې څښتن د تجربه لرونکو او مسلکي کسانو نه ستړې کېدونکې خواري او د کرنیزې پرمختیا صندوق څخه پورونه د خپلې کامیابۍ راز ګڼي.
هغه وايي چې د کرنیزې پرمختیا صندوق ورسره په سختو شرایطو کې نه هېرېدونکې مرستې کړې دي.
جاوید افغان فابریکې په بېلابېلو وختونو کې د کرنیزې پرمختیا صندوق څخه ګڼې تخنیکي مرستې او پورونه ترلاسه کړي چې ښېرته یې په خپل وخت ورکړي. د دغو پورونو ارزښت تر میلیونونو افغانیو پورې رسېږي چې جاوید افغان فابریکې د خپلو چارو د لا بریا لپاره ترلاسه کړي دي.

یادې فابریکې به د تریشر او نورو کرنیزو ماشینونو د جوړولو په موخه زیاتره د اړتیا وړ لوازم له پاکستان او چین هېوادونو څخه راوړل.اوس چې دغه لوازم د هېواد دننه جوړوي، نو ۲۰ سلنه یې د تولید په چارو کې زیاتوالی راغلی دی. همدارنګه اوس تولټال ۶۰ تنه هېوادوال د جاوید افغان تریشر او کرنیزو وسایلو فابریکه کې په کار بوخت دي.

حاجي تور ملنګ اوس د یوې پیاوړې او د هېواد په سطحه د منل شوې فابریکې مشر دی. هغه د کرنیزې پرمختیا صندوق د پورونو په اړه داسې وايي:
"دا زما خوب وو چې افغانستان خپله یوه ورځ په کور دننه کرنیز وسایل جوړ کړي. د کرنیزې پرمختیا صندوق د پور په مټ مې دا خوب په حقیقت بدل شو. ددغه صندوق په مټ دا دی اوس د خپلو هېوادوالو د خدمت جوګه یم چې د کار زمینه مې ورته برابره کړې. د کرنیزې پرمختیا صندوق څخه مننه کوم چې په ستونزمنو شرایطو کې یې زما سره لازمې مرستې وکړې. هېواد کې نورو کرنیزو سوداګرو ته مې سپارښتنه دا ده چې خپلې کرنیزه سوداګرې مو د کرنیزې پرمختیا صندوق د پور په مټ، غښتلې کړئ."



(c) ketabton.com: The Digital Library



# شنې خونې

عاشق دوست مومند

شنې خونې د شیشې یا پلاستیک څخه هغه جوړ شوی ساختمان ته ویل کېږي، چې په هغې کې تودوخه، رطوبت، رڼا او کاربن ډاي آکساید کنټرولېږي او د لمر رڼا د بوټو لپاره اماده کوي، شنې خونې د کال په اوږدو کې د غیر موسمي بوټو د پالنې په موخه کارول کېږي.

**د شنو خونو تاریخچه:**

تاریخ لیکونکي لیکي: په کنټرول ماحول کې د سبزیجاتو روزل د رومانیانو له مهاله پیل شول. د دوی په وینا د روم یو بادشاه چې تیبېرېس نومېده، اوسني بادرنګ ته ورته د یوې سبزۍ خوړلو عادت درلود، چې د هغه لپاره به د هغه وخت باغدارانو د هغه د خوښې سبزي ربړي ته ورته یو ټاېر لرونکي تخته باندې کرله او د ورځې لمر پر بوټو وروسته به یې هغه ربړه یا تخته بېرته خونې یا یو پناه ځای ته ننویسته، ترڅو د شپې د یخې هوا نه وساتل شي او ورته زیان اونه رسېږي.

وروسته له دې په ۱۸ مه پېړۍ کې یو فرانسوي بیالوژیست چارلس لوسن بوناپارټي د شنې خونې بنیاد هغه مهال کېښود، کله چې د مالټو ساتلو په موخه یې د پلاستیک څخه کټه پورته کړه چې هغه مهال به یې ورته Orangeries ویل، خو عصري شنې خونې بیا په کال ۱۹۶۰ م کې وروسته له هغې دود شوې، کله چې په پوره اندازه او ارزانه بیه پلاستیک په بازار کې پیدا شو. د شنې خونې یا ګرین هاوس ډولونه:

شنې خونې د ځانګړتیاو له پلوه په دوه برخو ویشل شوي.

**۱.ساده شنه خونه:**

چې یوازې د ګرمې هوا سبزیجات په یخو سیمو یا یخ موسم کې روزي چې د شنې خونې په نوم یادېږي، شنه خونه د پلاستیک یا د شیشې څخه جوړه شوې وي او د لمر رڼا نه په کټه اخېستنې د شنې خونې په دننه کې د تودوخې درجه د سبزیجاتو لپاره کنټرولوي.

**۲.لبټ هاوس (سکرین هاوس):**

چې په هغې کې د یخې هوا سبزیجات په تودو سیمو یا تود موسم کې روزل کېږي چې په تخنیکي ژبه کې دغه ډول شنې خونې ته د شیشې خونه یا سکرین هاوس یا لبټه هاوس هم وایي. دغه ډول شنې خونې له رنو شیشو جوړې شوې وي چې د هواکش او د پکو له لارې په کې د تودوخې درجه کنټرولېږي.

**د شنې خونې لپاره ځای ټاکنه:**

شنه خونه باید پر داسې ځمکه جوړه شي چې ځمکه یې د کښت لپاره مناسبه وي او په ځانګړې توګه باید مالګینه نه وي. که چېرته ټاکل شوې ځمکه مالګینه وي، نو خاوره یې باید بدله شي.

کوم چې د شنې خونې د جوړولو لګښت د ډېروېدو سبب ګرځي. شنه خونه باید په داسې ځای کې جوړه شي، چې د ورځې په اوږدو کې په پوره اندازه لمر ولري او سیوري پرې نه راځي.

اوبه:

اوبه د نباتاتو په پالنه کې مهم رول لوبوي، ځکه باید شنه خونه په داسې ځای کې جوړه شي چې پاکې اوبه ولري. د شنې خونې د خړوبولو لپاره باید له مالګینواو ناپاکو اوبو څخه ګټه وانخېستل شي.

د شنو خونو د جوړولو مواد:

د شنې خونې د جوړولو لپاره د لرګی، الومنیم یا د اوسپنې څخه ګټه اخېستل کېدای شي. شنه خونه باید د تونل په شکل یا مایل دوله جوړه شی، ترڅو د باران د اوبو دننه ننوتلو څخه مخنیوی وشي.

شنې خونې باید د پلاستیک یا شیشې په واسطه وپوښل شي، تر څو د لمر وړانګې دننه په اسانه ورننوځي.

په ساده شنو خونو کې چې د پلاستیک په واسطه پوښل شوي وي، باید هرو ۱۵-۲۰ مترو واټن کې یوه تکه یې جالۍ واچول شی، که چېرته د ارتیا په وخت کې پلاستیک لرې کړل شي، نو شنې خونې ته د حشراتو له دننه کېدو مخنیوی کېږي. د بوټوخړوبولولپاره باید د پاېپونو څخه ګټه واخلو، چې په شنوخونو کې په عامه توګه د خړوبولو د ځاڅکي سیستم یا Drip Irrigation څخه ګټه اخېستل کېږي.

**د شنې خونې دننه جوړښت:**

که چېرته په شنه خونه کې بزغلی کرو، نو باید په ځانګړو قالبونو کې وکرل شي او د قالبونو د ایښودو لپاره له مېزونو څخه ګټه واخېستل شي، که هغه مېزونه د اوسپنې او یا د لرګي څخه جوړ وي او که چېرته په شنه خونه کې سبزیجات کرو، نو باید د شنې خونې په داخلي ځمکه باندې کیاري (په خاورو کې هغه جوړ شوی ځای چې په شنو خونو کې پرې بزغلی کرې) جوړې شي، هغه کیاري باید ۷۰ تر ۱۰۰ سانتي متره پلن او د ۱۰-۱۵ سانتي پوړې لوړوالی ولري او د هرې کیارۍ تر منځ باید ۵۰ سانتي متره واټن موجود وي، ترڅو په اسانی سره په کې کارکوونکي وګرځېدی شي، په کیارو کې باید بوټي یو له بل څخه په وړ اندازه واټن یا لرې والی ولري، چې معیاري واټن یې د قطارونو ترمنځ د ۵۰-۷۰ سانتي او د بوټو ترمنځ فاصله یې ۵۰ سانتي متره ده. د بوټو د خړوبولو لپاره باید د پایپونو (ډرېپ اریګشن) څخه ګټه واخېستل شي. په شنه خونه کې بوټو ته د مرستې (سپورټ) ورکولو لپاره باید اوسپنیز سیمونه د یومتر جیګوالي په اندازه وځړول شي او د تکه یې تارونو په واسطه باید نبات تر هغه سیمونو پوړې وتړل شي، ترڅو بوټي پر ځمکه اونه لګېږي.

د شنې خونې ګټې:

په شنه خونه کې کښت لاندې ګټې لري.

- د کال په اوږدو کې د غیر موسمي سبزیجاتو تولید.
- د ګرمې اویخې هوا څخه د بوټو ساتنه.
- د مرضونو او حشرو څخه د بوټو ساتنه.
- د باکېفیته سبزیجاتو تولید.
- په محدود ځای کې زیات تولید.
- پرته له کیمیاوي موادو د بې ځایه ګیاوو مخنیوی.
- د اوبو مناسب او د آزادې ځمکی په تناسب کم استعمال.
- د بزګر عاید لوړول (د غېرو موسمي سبزیجاتو په پرتله لوړې بیې).
- د کود یا د سرې په سمه توګه او پوره اندازه بوټي ته رسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د بانکونو ټولنه

**ځانګړې مرکه**

پرمختګ: له تاسو نړۍ مننه، چې موږ مو خپل حضور ته ومنلو او پرمختګ خپرونې ته مو خپل قیمتي وخت ورکړ. په لومړي وار غواړو ستاسو په اړه پوه شو، که ځان راوپېژنئ؟

نجیب الله امیري: نوم مې نجیب الله امیري دی او د افغانستان د بانکونو د ټولنې اجرائیوي رئیس یم.

پرمختګ: افغانستان کې د بانکونو شالید په اړه که مالومات راکړئ؟

نجیب الله امیري: افغانستان کې بانکولي د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په څېر اوږد تاریخ نه لري. تر ۱۳۱۲ لېږدیز لمریز کال پورې افغانستان کې هېڅ بانک شتون نه درلود. ټولې معاملې او د پېسو بدلول د بهرنیو صرافانو له لارې پرمخ تللې چې ډېری یې هندیان وو او د کابل، کندهار بازارونو کې یې خپلې د صرافۍ چارې پرمخ بېولې.

په ۱۳۱۱ ل کال کې د عبدالمجید خان زابلي په نوښت د (شرکت سهامي هاشمي) په نوم شرکت کابل کې پرانېستل شو. وروسته بیا ۱۳۱۲ ل کال افغانستان کې د افغان ملي بانک په نوم لومړنی بانک جوړ شو. په لومړیو کې دا یواځینی بانک وو چې هېواد کې یې د مرکزي بانک چارې پرمخ بېولې، هره ورځ یې په دندو او فعالیتونو کې زیاتوالی راتلو.

د دې بانک لومړنۍ پانګونه ۹،۶ میلیونه افغانۍ وه چې ۷۲ سلنه برخه یې خصوصي او ۲۸ سلنه برخه یې د دولت له لورې وه. د وخت په تېرېدو او اړتیاوو ته په کتو ددغه بانک پانګونه ۴۰ میلیونه ډالرو ته ورسېده. د افغان ملي بانک رامنځته کېدو وروسته افغانستان کې ستر اقتصادي بدلونونه راغلل.

کاغذي پیسې افغانستان کې د افغان ملي بانک د رامنځته کېدو نه وړاندې، یانې په ۱۲۹۹ ل کال کې د غازي امان الله خان وخت کابل کې خپرې او رایج شوې.

**د افغانستان بانک:**

۱۳۱۶ ل کال (د افغانستان بانک) د (افغان ملي بانک) ځای ناستی شو او د مرکزي بانک حیثیت یې غوره کړ. دې بانک کابل او د افغانستان نورو ولایتونو په شمول نیویارک، لندن، هامبورګ، کراچۍ، پېښور او چمن ښارونو کې د بانکي چوپړتیاوو په موخه څانګې درلودې، چې ډېر ژر یې نړیوال اعتبار هم ترلاسه کړ.

د افغانستان مرکزي بانک له جوړېدو شپږ کاله وروسته، د (بانک رهنی و تعمیراتی) په نوم لومړنی تخصصي بانک د عامه کټو وزارت په نوښت رامنځته شو. د دې بانک د چارو ساحه د کورونو جوړول وو. په ۱۳۳۳ ل کال کې د کرنې پرمختیا په موخه د (بانک انکشاف زراعت) په نوم دویم تخصصي بانک جوړ شو. په همدې کال کې د سوداګرۍ د پیاوړتیا په موخه (پښتني بانک) او ۱۳۳۵ ل کال کې د صنعت د پیاوړتیا لپاره (بانک انکشاف صنعتی) بانک رامنځته شو. همدا مهال د نورو هېوادونو سره د سوداګریزو او اقتصادي مناسباتو د پراختیا په موخه ۱۳۵۵ ل کال کې د (بانک انکشاف صادرات) په نوم پنځم او آخري تخصصي بانک د افغانستان بانکي نظام کې ور زیات شو.

د ډاکټر نجیب الله د حکومت تر سقوط پورې د مرکزي بانک په شمول پنځه تخصصي او یو سوداګریز بانک شتون درلود. د افغان ملي بانک پرته ټول بانکونه د دولت لخوا رامنځته شول چې په لومړیو وختونو کې د نیمه دولتي په څېر اداره کېدل.

**د افغانستان بانکي سیستم کې نوي بدلونونه:**

افغانستان کې د نویو پرمختګونو سره د هېواد بانکي سیستم بیا ورغول شو او د بانکي سیستم یې د نړیوالو پراختیایي پروګرامونو سره همغږي کړ.

د افغانستان بانک وکولی شول چې د افغانیو په چاپ، خپرېدو او پرمختګ کې د پام وړ بدلون راوړي.

له ۲۰۰۲م کال وروسته د اساسي قانون، دولسمي مادې سره سم، د افغانستان بانک یو خپلواک او دولتي بانک یاد شو. دې سره د افغانستان بانک قانون، د پېسو او بانکولۍ قانون، د پېسو د پاکولو په وړاندې د مبارزې قانون، د جرمونو له لارې شوي عواید، د ترهګرۍ د تمویل په وړاندې مبارزه او داسې نور قوانین تصویب شول، چې د جمهوري ریاست مقام له توشیح وروسته یې په کارونه پیل وشو.

افغانستان کې د نوې بانکدارۍ قانون سره سم، د افغانستان اساسي قانون د ۱۰ مې مادې په بنسټ د خصوصي بانکونو مرسته د حکومت اجنډا شوه او مرکزي بانک د خصوصي بانکونو مصؤنیت تضمین کړ، چې په پایله کې یې نوي بانکونه رامنځته شول.

په تېرو پنځلس کلونو کې د افغانستان مرکزي بانک ښې او سترې لاسته راوړنې لري. اوس مهال، ۱۴ جواز لرونکي او فعاله بانکونه چې ټول د افغانستان د بانکونو ټولنې غړیتوب لري، هېواد کې فعالیت کوي.

پرمختګ: که مهرباني وکړئ او د افغانستان بانکونو د ټولنې د چارو په اړه مالومات راکړئ؟

نجیب الله امیري: د افغانستان د بانکونو ټولنه یو غیر سیاسي، غیر دولتي، نا ګټندویه او خپلواکه ټولنه ده چې د کورنیو او بهرنیو بانکونو ځانګو له منځه جوړه شوې او هڅه کوي چې افغانستان کې د یو ښه او پیاوړي بانکي نظام په رامنځته کېدو کې خپل رول ولوبوي. د افغانستان د بانکونو ټولنه په ۱۳۸۳ لېږدیز لمریز کال چې د ۲۰۰۴ میلادي کال سره سمون خوري، جوړه شوېده.

دې ټولنې لومړی د (۹) بانکونو غړیتوب سره کار پیل کړ. اوس مهال ټول جواز لرونکي بانکونه د دې ټولنې غړیتوب لري. د افغانستان د بانکونو ټولنې هېواد کې د بانکي سیستم د ودې او د بانکونو ګډو موخو ته د رسېدو لپاره د بانکي ټولنې په راغونډولو کې بنسټیز رول لوبولی دی. نن ورځ د افغانستان د بانکونو ټولنه د یو سالم او پرمختللي بانکي او مالي سکټور چې د هېواد د خلکو په اقتصادي پرمختګ کې په لوړه کچه ونډه لري، رغنده رول لري.

**د ټولنې موخې:**

د ټولنیزو رسنیو، کمپاینونو او عامه پوهاوي پروګرامونو په وسیله د نوي بانکي سیستم د ظرفیت لوړول او پرمختګ ورکول.

خلکو او سوداګرو ته چې په مالي معاملاتو کې ونډه لري، مالومات ورکول.

د غړو بانکونو ترمنځ اسان او د پلی کېدو وړ کړنلارې جوړول او عملي کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد کې د بانکونو د حقونو غوښتنه.

هېواد کې د بانکي غړو ملومات را غونډول، د دغو مالوماتو څېړنه، تحلیل، بانکونو او مالي موسسو سره شریکول.

د غړو بانکونو ترمنځ د ګډ رقابت رامنځته کول او پرمختګ ورکول.

پرمختګ:د پیسو د مصؤنیت په اړه که راته ووایې چې د کور په پرتله بانک کې یې ساتل څومره مؤثر دي؟

نجیب االله امیري: ښکاره خبره ده چې پیسې په کور کې ساتل ډېر خطرونه لري. ممکن د غلو، طبیعي حوادثو له امله له منځه تللو او داسې نورو ډېرو خطرونو سره مخ وي، خو که پیسې په بانک کې وساتل شي، یو خو پیسې ساتل کېږي، بل په دې پیسو د بانک لخوا پانګونه کېږي چې د سوداګرۍ یو حالت غوره کوي. بانک کې د پیسو ساتل د بانک لپاره ګټور دي، ځکه دا کار هم خصوصي سکتور پیاوړی کوي او هم پیسې مطمئنې ساتل کېږي. خو که پیسې کور کې وساتل شي، د ستونزو او خطرونو د مخ کېدو سره سره د سوداګرۍ له جریان نه هم پاتې کېږي.

پرمختګ:د هېواد کرنیزې اقتصادي پیاوړتیا کې که د بانکونو د رول په اړه خپل نظر را سره شریک کړئ؟

نجیب الله امیري: بانکونه د کرنې په غني کولو او پراختیا کې مهم رول لري. هغه خلک چې کرنیزه برخه کې خدمتونه ترسره کوي لکه (بزګران، پروسس کوونکي، د کرنیزو ماشینونو او خامو موادو وراندې کوونکي، سوداګر او داسې نور...) کولی شي چې د بانکونو د بېلابېلو خدمتونو لکه، اسلامي او دودیزه بانکولۍ نه په کار اخېستو، خپلو چارو ته پراختیا ورکړي.

پرمختګ: د هېواد کرنیزه پراختیا کې د بانکونو لخوا د پورونو ورکړې سهم مخکې څومره وو او اوس څومره دی؟

نجیب الله امیري: له ۲۰۰۴م کال مخکې د پور ورکړه په نشت حساب وه، خو اوس د مالوم شمېر او احصایې له مخې سږ کال یانې ۲۰۱۹م د اولې ربعې اخر کې، شاوخوا ۴۲ میلیارده افغانۍ په ډېرشو سوداګریزو برخو کې پور ورکړل شوی دی. له دې ډلې ۱,۷ میلیارده افغانۍ د کرنې په برخه کې د پور په ډول ورکړل شوي دي.

پرمختګ: بانکونه د پورونو په بدل کې کوم ضمانتونه مني او په وراندې یې کومې ستونزې پرتې دي؟

نجیب الله امیري: بانکونه د پورونو ورکولو په وړاندی عُرفي او شرعي قبالې او همدارنګه تخنیکي ماشین آلات د ضمانت په توګه منی. رښتیا هم د مالي ادارو لخوا د پورونو د ورکړې په موخه پیاوړي ضمانتونه اخېستل کېږي چې په حقیقت کې د دې ضمانتونو برابرول ستونزمن کار دی. خو مالي اداري هم اړې دي چې د پور د بېرته ترلاسه کولو لپاره معتبر ضمانتونه ترلاسه کړي. یو خو د مالي ادارو معتبر ضمانت اخېستل اصول دي، بل دا چې که چېرې معتبر ضمانتونه وانخلي، نو پوروړي بېرته په اسانۍ او یا هم په هیڅ حالت کې پور نه سپاري.

پرمختګ: هېواد کې د مالي ادارو لخوا پورونو ورکړې ته په کوم نظر ګورئ؟ دې برخه کې د کرنیزې پرمختیا صندوق رول څنګه ارزیابي کوئ؟

نجیب الله امیري: په اقتصاد کې د سوداګرو د تمویل لپاره پور یوه اړینه سرچینه ده. په معمول ډول نوي او واړه پانګوال بېلابېلو ماشینونو او نورو تخنیکي توکو ته اړتیا لري. د دې توکو رانیولو په موخه، زیاتو پیسو ته اړتیا وي. له دې امله بانکونه او مالي موسسې په دې برخه کې ډېرې ګټورې دي او په دې توګه پانګوال خپلو سوداګریو ته پراختیا ورکوی.

همدارنګه لکه مخکې مو چې یادونه وکړه، د احصاییې او مالوماتو له مخې د ۲۰۱۹ م کال د لومړۍ ربعې تر پایه بانکونو له ۳۰ برخو څخه ډېرو ته د ۴۲ میلیارده افغانیو څخه په لوړه کچه سوداګریز پورونه ورکړي دي. د دې ترڅنګ د هېواد دننه او بهر د پیسو ورکړه، لېږد او رالېږد کې یې مهم رول لوبولی دی. د بانکي ضمانتونو ورکول او د بانکي اعتبار لیک ورکولو له لارې یې د سوداګرۍ د پرمختګ په برخه کې چوپړتیاوې وړاندې کړې دي.

د پورونو او نورو ډېرو کرنیزو چوپړتیاوو وړاندې کولو برخه کې د کرنیزې پرمختیا صندوق هڅې او چوپړتیاوې نه هېرېدونکې دي. بزګرانو او نورو کرنیزو چارو پورې تړلې وګړو ته یې د پام او ستاینې وړ خدمتونه وړاندې کړي، چې باید وستایل شي.

پرمختګ: د کرنیزې پرمختیا صندوق نه مو د پورونو برخه کې څه تمه ده، دې اداري ته کوم وړاندیزونه یا غوښتنې ترې لرئ، ترڅو د بزګرانو د ژوند او کاروبار برخه کې د لا پرمختګ سبب شي؟

نجیب الله امیري: د کرنیزې پرمختیا صندوق او د افغانستان د بانکونو تولنې ترمنځ باید ښه همغږي وي. ترڅو د پورونو ورکولو په کچه کې لا زیاتوالی راشي. دا صندوق کولی شي د بېلا بېلو محصولاتو په وړاندې کولو سره د کرنیزو پورونو په لوړولو کې خپل رول لا پیاوړی کړي.

پرمختګ: د پرمختګ مجلې لوستونکو او مالي ادارو ته څه پیغام لرئ؟

نجیب الله امیري: راځئ! خپلې ټولې مالي چارې د اسلامي مالي نظام د تعاملاتو سره سمې پر مخ بوسو. د سود او ربا نه په ټولو دینونو کې د اسلام سپېڅلي دین په څېر، منع شوې ده. افغانستان کې د ۹۱ سلنه وګړو ورځنی کاروبار بانکونو نه بېرون جریان لري. پداسې حال کې چې د افغانستان ۹۹ سلنه وګړي مسلمانان دي، نو په دې اړه د اسلامي بانکولۍ سیستم وړاندې کول په ځای او منطقي خبره ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# آریانا زعفران
## گلِ که دارای سه تار است

زعفران افغانستان در جهان دارای مقام اول است و افغانستان از جمله رقابت کننده گان معتبر زعفران است. کشت زعفران برای دهاقین بسیار سودمند است. دهاقین افغان از زراعت سنتی برای تولید زعفران استفاده می نمایند و محصول با کیفیت بالا تولید می کنند. اما هنوز هم آموزش و تجهیزات مناسب را در اختیار ندارند که معیار های بین المللی را کامل نموده و مفاد بلند بدست آورند.

شرکت آریانا زعفران یکی از بزرگترین شرکتهای تولید و فروش زعفران است که با اداره حمایت از سرمایه گذاری افغانستان و سازمان بین المللی استاندارد سازی، ثبت و راجستر میباشد.

شرکت آریانا زعفران برای بدست آوردن حاصلات بهتر از کشت زعفران، حل مشکلات پروسس، بسته بندی، بازاریابی برای فروش زعفران در بازار های محلی و اروپایی تلاش مینماید. در جریان این تلاش ها، این شرکت برای پیشرفت بیشتر امور خویش از صندوق انکشاف زراعتی تقاضای قرضه نمود تا کشت، پروسس و بدست آوردن حاصلات باکیفیت را تقویت و مشکلات موجود در این بخش را مرفوع نموده، سطح پروسس و بسته بندی زعفران افغانستان را بیشتر معیاری سازند. صندوق انکشاف زراعتی که همواره تلاش مینماید تجارت های زراعتی را از طریق فراهم نمودن قرضه توسعه دهد، درخواست ارایه قرضه به شرکت آریانا زعفران را پذیرفت. در نتیجه استفاده موثر ازین قرضه، شرکت آریانا زعفران توانست حاصلات زعفران خویش را چند برابر بسازد. این شرکت زعفران مورد ضرورت خویشرا از تولید کننده گان پنج ولسوالی هرات (غوریان، پشتون زرغون، کروخ، انجیل و گذره) خریداری مینماید.

مسئولان در شرکت آریانا زعفران میگویند که با استفاده از قرضه که شرکت آریانا زعفران بدست آورده، تولیدات این شرکت تا ۳۸ درصد افزایش یافته و کیفیت تولید بهتر شده است. همچنان ازین قرضه در ارایه آموزشهای لازم در باره کشت و تولید زعفران به کسانیکه زعفران تولید و به شرکتها به فروش میرسانند، استفاده خواهد شد.

تأثیرات قرضهٔ بعد از اخذ قرضه، شرکت آریانا زعفران شاهد تغییرات زیادی بود که تغییرات کلیدی آن قرار ذیل است:

شرکت آریانا زعفران توانست ۲۳۰ کیلوگرام زعفران را از ۱۵۷ فروشنده زعفران خریداری نماید.

نسبت به سال های گذشته، شرکت شاهد ۳۸ در صد افزایش در تولیدات خویش بود.

شرکت آریانا زعفران توانست ۴۰ کارمند اعم از مرد و زن را استخدام نماید.

قرضهٔ صندوق انکشاف زراعتی باعث شد که در ماه اکتوبر سال ۲۰۱۵م، شرکت آریانا زعفران در کنوانسیون بین المللی نوآوری کسب و کار در فرانسه اشتراک نموده، مدال بهترین نام و مدیریت را بدست آورد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

با دسترسی به قرضهٔ صندوق انکشاف زراعتی، در حال حاضر شرکت آریانا زعفران در زمین که ملکیت خودش است، زعفران تولید مینماید و گلهای خشک و تازهٔ زعفران را از دهاقین مستقل چون خانم زینب رضایی و زنان دیگر خریداری مینماید.

زینب رضایی نیز از جمله تولید کننده گان زعفران است که از صندوق انکشاف زراعتی قرضه دریافت نموده است. ضمن توسعه تولید زعفران خویش، خانم رضایی از دیگر زنان دهقان زعفران خریداری مینماید. او در بازاریابی به تولیدات زعفران خویش از جمله زنان موفق است. خانم رضایی از طریق کشت، خرید و فروش زعفران زندگی خویشرا به پیش برده و احتیاجات فامیل اش را مرفوع میسازد.

شرکت آریانا زعفران بعد از دریافت قرضه از صندوق انکشاف زراعتی فرصت های شغلی زیادی را برای زنان روستایی چون زینب فراهم نموده است. این شرکت برای تولید و پروسس زعفران به زنان قرضه میدهد تا آنها نیز کاروبار خویش را وسعت بخشند.

در فصل حاصلات زعفران، شرکت آریانا زعفران برای ۴۰۰ زن فرصت شغلی فراهم مینماید و به آنان فرصت میسر میسازد تا در بخشهای جمع آوری و پروسس زعفران کار نموده، حاصلات خویشرا توسعه بخشند. همچنان، این شرکت به زنان کمک میکند که ازین طریق به محصولات خویش بازار مناسب پیدا نمایند.تا هنوز، شرکت آریانا زعفران بعد از دریافت قرضه از صندوق انکشاف زراعتی به موفقیت های ذیل دست یافته است:

گواهینامهٔ: ۲۰۱۱ : ISO ۳۲۶۳۲

گواهینامهٔ: ISO ۹۰۰۱:۲۰۱۵

گواهینامهٔ مصئونیت غذایی: HACCP

گواهینامهٔ مصئونیت غذایی: ISO ۲۲۰۰۰:۲۰۰۵

شرکت آریانا زعفران گواهینامه های بین المللی فوق را دریافت نموده و با امتیاز آن میتواند محصولات خویشرا به بیرون از کشور صادر نموده در نمایشگاه های بین المللی شرکت کند و از این طریق میتواند به محصولات خویش بازار های مناسب پیدا نماید. در حال حاضر شرکت آریانا زعفران محصولات خویش را به کشور هسپانیا صادر مینماید و روی صادرات خویش به ایالات متحدهٔ امریکا نیز برنامه ریزی دارد.

بنابر درخواست شرکت آریانا زعفران، صندوق انکشاف زراعتی وسایل ذیل را برای وسعت کاروبار این شرکت در اختیار قرار داده است:

دستگاه علامت گذاری که برای گذاشتن علامت روی بسته های زعفران استفاده میشود. دستگاه رمزگذاری که مانع نقل و تقلب محصول این شرکت میگردد.

ایجاد صفحه اینترنتی که از طریق آن به راحتی میتوان بازاریابی نمود. چاپ بنر های ایستاده برای نمایشگاه های ملی و بین المللی.

تلویزیون LCD برای تبلیغات محصولات و تولیدات شرکت در نمایشگاه های ملی و بین المللی.

چاپ اقلام تبلیغاتی مزین با لوگوی شرکت.

تهیهٔ لباس کار برای کارگران که از آن در هنگام تولید، پروسس و بسته بندی استفاده می کنند.

تجهیزات فوق در قسمت توسعهٔ فعالیتها، رشد تولیدات و امور یومیهٔ شرکت متذکره نقش ارزنده دارد که میتواند از جعل و تقلب محصولات جلوگیری نماید، کیفیت محصولات را بلند بُرد و فروشات شرکت را بیشتر سازد. شرکت آریانا زعفران صاحب ۳۵ هکتار زمین در ولسوالی کرخ ولایت هرات است که از جمله ۶ هکتار آن زیر کشت زعفران قرار دارد. این شرکت تلاش مینماید تا تولیدات بیشتر و با کیفیت را به بازار عرضه نماید.

این شرکت به طور مستقیم از تولید کننده گان و اعضای اتحادیه های زعفران از ولسوالی های (غوریان، پشتون زرغون، کرخ، انجیل و گذره) وهمچنان از تولید کننده گان زعفران در ولایات (سرپُل، بلخ، جوزجان و فراه) زعفران خریداری مینماید. همچنان، با شرکت ها و انجمن های که در ولایات هرات، پروان، میدان وردک، کندز، بلخ و سرپُل کاروبار فروش، کشت و تولید زعفران دارند، هماهنگی خوب دارد.

زعفران در زمین های درجه دوم و سوم قابل زرع است. دهاقین نسبت به محصولات دیگر در کشت زعفران تجربه و قابلیت کافی ندارند. در حالیکه زعفران نسبت به سایر گیاهان سود بیشتری دارد. اما زارعین زعفران فقط توسط کسانی حمایت میشوند که قادر به خرید و صادرات زعفران به پیمانهٔ بزرگ باشد. شرکت آریانا زعفران یکی از شرکتهای است که به پیمانه بزرگ خرید و صادرات مینماید و به بازار های بین المللی دسترسی آزاد دارد.

براساس معلومات رسانه های افغانستان، اخیراً نمایشگاهی در کشور بلجیم برگزار شده بود که در جریان معاینه و ارزیابی زعفران از سراسر جهان، زعفران افغانستان مقام اول را بدست آورد. مقامات در حکومت افغانستان میگویند که در چند سال اخیر به اندازه ۳،۵ تن زعفران در ولایت هرات تولید شده است، که حدود ۹۰ درصد این زعفران به کشور های دیگر صادر و ۱۰ درصد آن در افغانستان به مصرف رسیده است.

شرکت آریانا زعفران دارای دو مرکز فروش در ولایت های هرات و کابل است. همچنان رئیس شرکت آریانا زعفران معلومات و تجربهٔ کافی در مدیریت زعفران داشته و ارتباطات خوب با فروشنده گان بیرونی زعفران دارد.

به تعداد ۲۸ شرکت تولید زعفران که در ولایت هرات فعالیت دارند از آن جمله ۱۶ شرکت عضویت شورای زعفران کاران هرات باستان را دارند.

برای توسعه بیشتر و مخصوصاً رشد تولیدات شرکت آریانا زعفران، صندوق انکشاف زراعتی مصمم است بعد از درخواست این شرکت، بادرنظرداشت اصول صندوق، به ارایه قرضه های بیشتر مبادرت ورزد.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# انجمن اجتماعی حاصل

افغانستان یکی از کشور های فقیر در جهان است که فقر در روستا های آن بیشتر ملاحظه میشود. سروی ادارۀ مرکزی احصائیه افغانستان که در سالهای ۲۰۱۶ –۲۰۱۷ م (۱۳۹۵ خورشیدی) انجام شده است نشان میدهد که بیش از ۵۴ در صد افغانها زیر خط فقر به سر میبرند. تنها ۲۰ در صد نفوس این کشور بالای خط فقر قرار دارند که احتمال رکود شان به زیر خط فقر بالا است. فلهذا، ایجاد و انکشاف بنیاد های اجتماعی و دستگیری نفوس بی بضاعت یک امر ضروری پنداشته میشود. صندوق انکشاف زراعتی بعنوان یک صندوق وجهی بی طرف، ضمن هدف اصلی اش که هماﻧا رشد سکتور زراعتی کشور است، انجمن اجتماعی حاصل را ایجاد کرده است. صندوق انکشاف زراعتی اولین نهاد مالی در کشور است که دست به ایجاد چنین بنیاد اجتماعی زده است. انجمن اجتماعی حاصل در سال ۲۰۱۲م ایجاد شد. مقروضین صندوق انکشاف زراعتی که قرضه هایشانرا نظر به تقسیم اوقات از قبل تعین شده نمیپردازند، از سوی صندوق جریمه میشوند. پول جمع آوری شده از جریمه ها به حساب انجمن اجتماعی حاصل افزوده شده و سپس به مستحقین بعد از وضع مصارف عملیاتی صندوق توسط حاصل در کار های اجتماعی به مصرف میرسد. هدف از ایجاد انجمن اجتماعی حاصل از یک طرف مجازات مقروضین سهل انگار و از سوی دیگر اشتراک در فعالیت های اجتماعی است.

اهداف سه گانه انجمن اجتماعی حاصل عبارتند از:

- کمک به هموطنان بی بضاعت و مستحق
- کمک به جوانان که علاقه مند تحصیلات عالی در سکتور زراعتی اند
- افزایش و توسعه هر نوع کار آفرینی های زراعتی

انجمن اجتماعی حاصل ۱۵ عضو و یک کمیته مالی دارد که اعضای آن متشکل از رئیس، معاون و یک عضو فعال بنیاد میباشد و توسط هیئت مدیره اداره میشود. تمامی اعضای انجمن اجتماعی حاصل کارمندان دایمی صندوق انکشاف زراعتی هستند، که بطور داوطلبانه در انجمن حاصل فعالیت دارند.

انجمن اجتماعی حاصل کمک و حمایت های چون غذا، البسه و دسترسی افراد مستحق به خدمات صحی را ارایه میکند. همچنان، انجمن اجتماعی حاصل به جوانان و نهاد ها در بخش های تحصیلات و رقابت های کار آفرینی منابع مالی فراهم میسازد.

انجمن اجتماعی حاصل منابع مالی خویش را از طریق جریمه مقروضین (سهل انگار) قرضه های اسلامی صندوق انکشاف زراعتی و کمک های مالی انفرادی و نهاد ها، تمویل مینماید.

دستآورد ها:

- انجمن اجتماعی حاصل به هدف ایجاد منبع دوامدار عایداتی، شش راس گوسفند (از نوع پنجابی) را برای سه فامیل در ولایت پکتیکا خریداری نموده، در اختیار شان قرار داد. مفیدیت این نوع گوسفند برعلاوه شیردهی، در ازدیاد نسل همچو مواشی مفید تلقی میگردد.
- انجمن اجتماعی حاصل بتعداد ۱۰۰ نهال را خریداری نموده، در تپه وزیر محمد اکبر خان ولایت کابل غرس نمود، تا در سرسبزی و زیبایی شهر سهم خویش را اداء نموده باشد.

کمک به نیازمندان در فصل زمستان: انجمن اجتماعی حاصل به همکاری مالی کارمندان صندوق در طرح (دلگرمی زمستانه) مشارکت کرده و در تهیه لباس، پتو، مواد غذایی وغیره برای نیازمندان در فصل زمستان همکاری داشته است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دفتر مرکزی:

مسئول ارتباطات: وحیدالله مومند

وظیفه: مسئول خدمات مشتریان

شماره تماس: ۰۷۸۵۲۷۷۹۱۷

ایمیل:Waheedullah_Momand@adf-af.org

آدرس : وزارت زراعت، مالداری و آبیاری، جمال مینه،
ناحیه سوم، ولایت کابل

## دفتر ولایتی بامیان:

مسئول دفتر: عنایت الله عظیمی

وظیفه: مدیر ولایتی

شماره تماس: ۰۷۸۹۳۱۷۲۶۲

ایمیل: Enayatullah_Azime@adf-af.org

آدرس: عقـــب بازار بامیــــان، نزدیـک پـارک صلح،
ریاست زراعت سابقه خانه نمبر دوم، ولایت بامیان

## دفتر ساحوی - شمال

مسئول دفتر:  گل امین فهیم

وظیفه: مدیر ساحوی

شماره تماس: 0781100009

ایمیل:  GulAmin_Fahim@adf-af.org

آدرس: سرک مقام ولایت بلخ، باغ حضور، دفتر
ساحوی اطاق تجارت و صنایع، مزارشریف - ولایت بلخ

## دفتر ساحوی شرق

مسئول دفتر: محمد امین شریفی

وظیفه: مدیر ساحوی

شماره تماس: 0783532684

ایمیل:  MuhammadAmin_Sharifi@adf-af.org

،آدرس: خانه ۱#، روښان مېنه، جاده نمبر ۵، ناحیه ۴
دفتر ساحوی اطاق تجارت و صنایع، جلال آباد - ولایت ننگرهار

## دفتر ساحوی - جنوب

مسئول دفتر: احمد شاه وزیری

وظیفه: مدیر ساحوی

شماره تماس: 0704007643

ایمیل: Ahmad_Waziri@adf-af.org

آدرس: عینو مېنه، فواره دوم، دفتر ساحوی اطاق تجارت
و صنایع- ولایت کندهار

## دفتر ساحوی - غرب

مسئول دفتر: جمشید  کریمی

وظیفه: مدیر ساحوی

شماره تماس: 0786322776 - 079251979

ایمیل:  Jamshid_Karimi@adf-af.org

آدرس: هرات بزنس سنتر، دفتر ساحوی اطاق تجارت
و صنایع - ولایت هرات

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د کرنیزي بساینې پر لور

# PERMAKHTAG MAGAZINE

AGRICULTURAL, SCIENTIFIC, SOCIAL AND LITERARY PERIODICAL PUBLICATION

فقط توسعه زراعت
د کرنیزې پرمختیا صندوق
Agricultural Development Fund ADF

د کرنیزي پرمختیا صندوق
www.adf-af.org | info@adf-af.org

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**